د کرونا کیسې ۳

د خوست، پکتیا، پکتیکا، نورستان، کنر، لغمان او ننګرهار کیسې

# سرزورې ککی



محب الله زغم

ACKU

ACKU

سرزورې ککی | محب‌الله زغم

پر له پسې شمېره: ۴۳۷

Factual Stories on COVID-19

# The Stubborn Grannie

Mohibullah Zegham

ککی دوې اونۍ بستر وه. مور یې د ننه نه پرېښولو خو ډاکترانو به یې هره ورځ حال راکاوه چې مخ په ښه کېدو ده. څوارلسمه ورځ وه چې ککی یې رخصت کړه. د شفاخانې له دهلېزه چې راوتله، بېرته وګرځېده. هلته یو ډاکټر له چا سره خبرې کولې. ککی هغه سړی ښه سپک کړ او بېرته راغی.

پوښتنه مو وکړه: ککی! خیر خو به و؟ هغه سړي ته ولې غوسه وې؟

ویې ویل: د ده دین مذهب ...زما ډاکټر ته یې ویل چې تاسې خو هسې هم مریضانو ته د زهرو ستنې ورکوئ نو زموږ مریض ته همدا نن ستن ورکړئ چې نن مړ شي. ویل یې، ګوره ډاکتر صېب چې جمعې نه یې وانه ړوې چې جنت ته خولاړ شي.

توانا
برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترویج فرهنګ کتابخوانی و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان
ABLE Est. 1996
ACKU Box Library Extension

ISBN 978-9936-662-19-3

د لوی او مهربانه خدای (ج) په نامه

# سرزورې ککې

( د کرونا کیسې)

| محب الله زغم |

توانا
برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترویج فرهنگ کتاب‌خوانی
و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان
ACKU Box Library Extension

# سرزورې ککې

**( د کرونا کیسې)**

**محب الله زغم**


**سموونکی (ایډیټر):** نصیراحمد احمدي

ژباره: نصیر احمد آرین

ادبی ناظر: کاوه جبران

**انځورگر:** جواد طاهري

**گرافیک ډیزاینر:** پارسا

**خپرندوی:** په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز ACKU

**د پروگرام مسوول:** کاظم حمیدي رسا

**خپرندویه کمیټه :** عبدالوحید وفا، رشمي دانگل، فیض محمد نایاب او زینت‌الله قانت

**پر له پسې شمېره:** ۴۴۷

**شابک:** ISBN:978-9936-662-03-2

لومړی چاپ: ۱۴۰۱لمریز (۲۰۲۲ ز )



**د چاپ حق یې د افغانستان د معلوماتو مرکز له پاره خوندي دی.**

# لیکلړ

له لوستونکو سره خواله.........................................................۷
د لورکۍ غېږ.....................................................................۱۱
سر زورې ککۍ...................................................................۱۹
ژوندی به پاتې شم؟............................................................۲۹
وهم...............................................................................۳۷
مسوولیت........................................................................۴۵
ایمان..............................................................................۵۵
تش بسترونه......................................................................۶۵
توپیر..............................................................................۷۵
د ښې غوښې ښه ښوروا..........................................................۸۵
خواله.............................................................................۹۳
د زهرو ستن ...................................................................۱۰۳
مبارزه..........................................................................۱۱۳
باور..............................................................................۱۲۵
همکاري.........................................................................۱۳۵
تاواني واکسین.................................................................۱۴۵
د خیرو گل ....................................................................۱۵۷

## له لوستونکو سره خواله

ځيني انساني پېښې يوازې تاريخي پېښې نه دي چې په ثبتولو سره يې د تاريخ ليکلو کار وکړو. دغه پېښې پخپله دقيقاً د تاريخ مبدأ دي: نوي پېر ته د سفر پيل او د اوښتون ټکی. د تاريخ لوری بدلوي او تر هغه وروسته به د تاريخ په اړه د بشر پوهه بل کيفيت لري.

د کورونا نړۍواله وبا هم دغسې پېښه ده. دا يوازې د يوې ساري ناروغۍ خورا تېز خپرېدل نه وو. په يوه شپه کې د نړۍ د اقتصاد راپرځېدل، د بې‌روزګارۍ بې‌خرته زياتېدل، د دنيا د صحي سيستمونو ګډوډېدل وو، او تر ټولو مهمه د يو ويشتمې پېړۍ انسان د ناچارۍ او بې‌چاره‌ګۍ نښه هم وه. هغه انسان چې د تخيل او ځان غوښتونکي تکبر په وجه د خپل چاپېر جهان پر پوهې مسلط شوی و خو ډېر آسان د داسې موجود په وړاندې په ګونډو شو چې تر ده ميليونونه ځله کوچنی و.

نو، د کورونا ويروس راڅرګندېدل او خپرېدل يوازې د يوې ساري او

نیوونکې ناروغۍ خپرېدل نه وو. د بشر د تاریخ داسې نوی پړاو و چې ثبتول او خاطره کول یې یوازې د تاریخ او تاریخ لیکنې په وس کې نه دي. دا په دې چې تاریخ د روایتګرۍ د سنت پر بنا یوازې د لویو پېښو روایت کوي. جزئیاتو او وړو کیفیاتو ته پام نه کوي، د ټولنیز ناورین مختلف بُعدونه نه راسپړي، د فاجعې پر خاصې زمینې تکیه نه کوي، همدا ځای دی چې ادبیات میدان ته وردانګي او د پېښې ماهیت په لا زیات دقت سره ګوري، کیفیات او جزئیات یې توصیفوي، له تخیل سره یې ګډوي او په آخر کې یې د بشر جمعي خاطرې ته ور ننباسي.
په همدې وجه، لازمه وه چې د کورونا غونډې عالمګیر ناورین دې یوازې په رسمي او غیر رسمي تاریخ سره مکتوب او پایېدونې نه شي. ادبیات هم باید د هغه په تل پاتې کولو کې خپله ونډه واخلي. ادبیات باید تر تاریخ ډېر څه وکړي چې د ثبتولو او خوندي کولو چاره یې لا ډېره وپایي.
همدا وه چې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU) د داسې فرهنګي مرکز په توګه چې په مختلو برخو کې د بشري تجربو خوندي کول خپله یوه اصلي وظیفه ګڼي، را مخکې شو او هڅه یې وکړه چې د دې ستر او حیاتي کار مدیریت په لاس کې واخلي.
دغه کتاب د همدې هڅې او موخې نتیجه ده. له کورونا ویروس سره د ځینو افغانانو د مجادلې کیسې. د هغو واقعي انسانانو چې د ژوندي پاتې کېدو او بقا لپاره یې هڅه کړې ده؛ د اتلولیو، مېړانو، ماتو او بریاوو حکایتونه. هغه هم په داسې هېواد کې چې په دې نابرابره جګړه کې یې د نړۍ تر ډېرو هېوادونو په ډېرو برخو کې خورا لږ امکانات او ځواک درلود.
دا چې دغه کتاب څنګه ولیکل شو، لنډه توضیح یې دا ده چې په هېواد کې د کورونا ویروس د خپرېدو د لومړۍ څپې په پای کې، د افغانستان

د معلوماتو مرکز له دې وبا سره د مجادلې د تجربو د راټولولو پروگرام طرح کړ. پرېکړه داسې وشوه چې د هېواد له شپږو زونونو څخه دې د دې مجادلې بشري تجربې راټولې شي. دغه شپږ زونونه کابل، شمال، جنوب، شرق، غرب او مرکزي زون وو. په لومړي سر کې د پروگرام گزارشگرانو له وگړو سره د مصاحبې له لارې اطلاعات او عيني تجربې راټول کړل. وروسته، دغه خام مواد د کتونکې ډلې په لاس ليکوالو ته ولېږدېدل. ليکوالو له يوې يا څو تجربو يوه لنډه کيسه جوړه کړه. نو، د دې ټولگې کيسې په ټوله کې د عيني واقعيتونو پر اساس ليکل شوې دي. پېښې ټولې واقعي دي او په دې کيسو کې د ليکوال د تخيل ونډه يوازې د فضا جوړولو، د صحنو اوډون او د لحن توليد و.
د کيسو په ليکلو کې هڅه شوې ده چې د امکان په حد کې د هغو سيمو د بومي فرهنگ گوټيو خوند او رنگ وساتل شي چې دغه پېښې په کې شوې دي. دغه لحن د کرکټرونو نومونه، د ځايونو، جامو، خوړو، بوټو او ... نومونه رانغاړي چې په ټولو داستانونو کې يې خوندي کول عمدي کار و.
بله خبره دا چې، ليکوالو په لومړي سر کې کيسې په يوه ژبه يعنې يا پښتو، يا فارسي، يا اوزبيکي ژبه ليکلې دي. وروسته بيا د هرې ژبې کيسې دوو نورو ژبو ته هم ژباړل شوې او چاپ ته چمتو شوې دي.
د کار نتيجه په شپږو جلا جلا دفترونو کې راغلې ده چې دغه کتاب يې يو دفتر دی.

د افغانستان د معلوماتو مرکز ACKU



## د لورکۍ غېږه

*(اوشبو حکایه فریدالله قربان بیلن اۉتگزیلگن صحبت اساسیده یازیلدی)*

یوه ملگري په مسنجر کې را ته ولیکل: قربان صاحب! دا څه کوې؟ نور خلک خپله ناروغي پټوي او تا په لوی لاس خلک خبر کړل.

ځواب مې ورکړ: دا په دې چې ملګري دوستان مې پوه شي او ځان را نه وساتي.

خو خلکو خپله ناروغي ولې پټوله؟

څو خبرې وې. یوه دا چې په اول سر کې ځینو ملایانو ویلي وو چې دا ناروغي د کفارو لپاره ده او مسلمان نه نیسي. د ناروغانو په زړه کې تېرېدل چې که خلک پرې خبر شي، د دوی پر ایمان به شک

وکړي. بله دا چې خلک له دې ناروغۍ دومره ډارېدلي وو چې له ناروغ څخه به یې کرکه کوله، نو ځینو به فکر کاوه چې له دې کرکې د ځان ساتل په کار دي. بله وجه یې دا وه چې په رسنیو کې به یې ویل چې که څوک لاسونه بار بار په صابون او اوبو ومینځي او نظافت مراعات کړي، له کورونا به خوندي وي، نو ناروغانو ځکه خپل حال نه وایه چې هسې نه خلک ووایي چې دوی مردار خواره وو، نظافت ته یې پام نه کاوه. نورې خبرې به هم وې.

ما هم ځان ترې ډېر وساته او ځنې ډارېدم هم، خو ویې نیولم. یوه ورځ په سفر تللی وم. څو شپې له کوره لرې وم. چې بېرته راغلم، موټر مو د سټې کنډوا په سر کې ودراوه. له موټره راکوز شوو. نرۍ شمال مې پر مخ داسې خوږ ولګېد لکه په اوړي کې چې په یخو اوبو اودس وکړې. څو شیبې مو د کنډاو له سره چارچاپېره غرونه تر نظر تېر کړل. د لمنځې، جلغوزیو، او څېړیو ونې د شاوخوا غرونه پوښلي دي. خدای پاک عجب ښکلی طبیعت رالورولی دی. دلته په ژمي کې ښه پرېمانه واوره کېږي او غرونه تک سپین وي. په اوړي کې چې په خوست کې د ګرمۍ له لاسه ګوزاره نه کېږي، دلته د سالنګ غوندې یخه هوا چلېږي. هر ځل چې کابل ته ځم یا ورنه راځم، همدلته یو ځل موټر دروو او دغه منظره کوو. هر ځل د دې ښکلي طبیعت په لیدو دومره خوند اخلم لکه څوک چې په لومړي ځل لیدلو خوند ځنې اخلي.

ملګري ته مې وویل: ارمان چې جنګ نه وای. د غره په هغه ډډه کې یو لوکس هوټل وای. د دې غره له سر څخه هاغه پورې غره ته کېبل تېر شوي وای او هوایي ګاډي په کې تګ راتګ کولای. دلته چې موږ ولاړ یو، یو بازارګی وای چې جلغوزي او له مزرو څخه جوړ لاسي صنایع په کې خرڅېدلای. بهرنیان به ډلې ډلې د مېلې او

تفریح لپاره راتللای.
ملګري مې وویل: اوس خو که جنګ هم نه وای، د کورونا له ډاره به څوک نه راتلل. جنګ به خدای ختم کړي خو اوس کورونا تر جنګ لویه بلا ده.
لږ دې خوا ها خوا وګرځېدو. بیا د هغه لوی ټال په خوا کې ودرېدو چې د کښتۍ غوندې ده او په برق چلېږي، خو اوس همداسې ولاړ و. لورکۍ مې رایاده شوه. په خیال کې له خپلې لورکۍ سره په ټال کې ناست وم. ټال به چې په هوا شو، هغه به ډارېدله او زما په غېږه کې به يې ځان ټينګاوه. لورکۍ مې ډېره ګلالۍ ده. هره ورځ چې ځنګه د کور انګړ ته ورننوځم، دا رامنډې کړي. زه ورته ټيټ شم او دا را نه غېږه چاپېره کړي. اخخخخ! څومره خوږه ده. هغه چې غېږه



راکړي، ټوله ستړيا مې وځي او د دنيا غمونه مې هېرېږي. لور د خدای عجيبه نعمت دی.
همدا چې موټر له ستې کنډاو څخه مخ په کوزېدو شو، په زړه کې مې تلوسه پسې زياته شوه چې زر کور ته ورسېږم او لورکۍ په غېږ کې ونيسم. خو دا ارمان مې ان شل ورځې همداسې ارمان پاتې شو. له دوه ميندو ولسوالۍ چې تېر شو، بدن مې په درد شو او د ستړيا احساس مې وکړ. د خوست ښار ته چې ورسېدو، کور ته نه ولاړم. هماغلته په ښار کې مې په يوه کوټه کې ځان قرنطين کړ. کور ته مې ټېلېفون وکړ. ومې ويل چې زه به يو څو شپې په کابل کې يم. ماښام د ستوني درد را ته پيدا شو. بيا ټوخلي، زوکام، بې اشتهايي او نورې کيسې.
زه چې څنګه کورونا ونيولم، په فيسبوک کې مې وليکل چې دا ناروغي په ما پورې شوې ده او هغه ملګري چې په نژدې تېرو ورځو کې راسره نژدې وو، په ځانونو دې پام کوي. پر فيسبوک د دې خبرې کولو څو ګتې وکړې. زه چې ناروغ شوم، سخت ډارېدم چې کورونا خو خطرناکه ناروغي ده او ډېر کسان يې وژلي دي نو ما به هم وژني. ملګري ياران مې چې خبر شول، ډاډ يې راکړ چې ښه به شم. له هر ځايه به يې د کورونا په اړه معلومات او د څېړنو نتيجې رالېږلې. ويل به يې چې هغه کسان په خطر کې دي چې عمر يې زيات وي، د سږو پخوانۍ ناروغي يا شکره يا د دفاعي سيستم کمزوري ولري. دوی به راته ويل چې ته خو شکر ځوان يې او نورې ناروغۍ نه لرې نو پر تا به سخته تېره نه شي. څه د دوی خبرې وې، څه زما خپلې پلټنې او مطالعې چې روحيه يې را قوي کړه او همدې قوي روحيې له کورونا سره مبارزه را ته آسانه کړه.
بله ګټه يې دا شوه چې ملګري مې کله خبر شول چې زه په کورونا

اخته یم، هغو کسانو چې په تېرو ورځو کې راسره نژدې پاتې شوي وو، ځانونه يې قرنطین کړل. څو ورځې نه وې تېرې چې په ځینو کې يې د کورونا نښې راښکاره شوې. که ما دوی خبر کړي نه وای او دوی ځانونه نه وای قرنطین کړي، نو کېدای شو چې د کورنۍ غړو او نورو دوستانو ته يې ناروغي لېږدولې وای.
هره ورځ به لمر ته کېناستم چې ویټامین ډي مې پوره شي. مېوه او ترکاري به مې ډېره خوړله. سوپ او یخني، اوبه، چای او نور مایعات به مې دم په دم څښل. د تبې او درد لپاره مې پراسیټامول اخیستي وو خو کله کله به درد دومره تېز شو چې د پراسیټامول زور پرې نه رسېده او بیا به مې بروفین ګولۍ خوړلې. هره ورځ به مې په انټرنټ کې کتل چې د کورونا د علاج په اړه نوي څه دي. ځینو خلکو به خپلې تجربې په فیسبوک کې خپرولې. چا ویل چې په چای کې ادرک او ګبین او لیمو واچوئ او ويې څښئ. چا ویل چې خامه هوږه او خام پیاز ګټه کوي. چا بل شی ښوده. ما له ځانه سره ویل چې دا هرڅه وخوره، که ګټه ونه کړي، تاوان خو هسې هم نه کوي.
شل شپې مې ځان قرنطین کړی و. رښتیا یو دوه ورځې چې تېرې شوې، روغتون ته ولاړم او د کورونا ټسټ مې ورکړ خو نتیجه يې هله راغله چې زه نور مخ په ښه کېدو وم. ټسټ مثبت و او زما ګومان سم ختلی و. په دې شلو ورځو کې درد او تبې او ستومانۍ ډېر  وځورولم خو تر دې لا زیات په لورکۍ پسې خپګان ځورولم. کله کله به مې په زړه کې تېرېدل چې هسې نه کورونا مې ووژني او لورکۍ مې هېڅکله ونه وینم، خو بیا مې ویل چې نه، داسې به نه کېږي. ما ته خو ساه لنډي نه ده پیدا شوې او دا نورې نښې خو په عادي زوکام کې هم وي.
څنګه چې زه دلته په لورکۍ پسې کړېدلم، همداسې هغه هم راپسې


خپه وه. څو وارې يې په ټيليفون کې راته وژړل چې ولې کور ته نه راځې. ځان سره مې ويل چې د هغو خوستوالو به څه حال وي چې ټول عمر په مسافرۍ کې تېروي. غريبان دوه درې کاله په عربي ملکونو کې کار کوي، بيا يو څو مياشتې په رخصتۍ راشي او بېرته د دوو درېو کلونو په مخه ورشي. آفرين دې هغوی ته وي. خدای به څومره لوی صبر ورکړی وي.


د ناروغۍ څوارلسمه که پنځه لسمه مې وه. تبه مې شکېدلې وه، دردونه ورک وو، نور نه ټوخېدم، خو سترېيا را کې پاتې وه. پلار مې ټيليفون وکړ چې لور دې تا ډېر يادوي. چې يو ځل دې ليدلې وای، ښه به وه. رښتيا د ناروغۍ په دوهمه اونۍ مې کورنۍ خبره کړه چې زه په کورونا اخته يم او ځان مې په ښار کې قرنطين کړی خو وضعيت مې مخ په ښه کېدو دی. نو پلار ته مې وويل چې لورکۍ مې دې راولي. دوی راغلل، خو لکه بندي چې د پنجرې له شا څخه د خپلوانو ديدن کوي، ما هم له لرې ورسره خبرې وکړې. لورکۍ مې زما خوا ته زور کاوه چې راشي خو پلار مې ټينګه نيولې وه.

شل ورځې چې تېرې شوې، ډېر ښه شوی وم. لږ بې سېکه غوندې وم، ژر ژر غوسه کېدم، او داسې مې ګڼله چې حافظه مې د پخوا غوندې نه ده. اوس له هاغه وخته شپږ – اوه مياشتې تېرې دي، خو لا مې هم حافظه سمه نه ده، بې حوصلې يم او لا هم ستوماني احساسوم.

دا هر څه خدای په خير تېر کړل. بېرته خپلې کورنۍ ته ورستون شوم. بېرته مې لورکۍ په غېږ کې ونيوله. هر څه بېرته عادي شول، خو تېر ته چې ګورم، فکر کوم چې کورونا زموږ باورونه وننګول، زموږ ځينې ټولنيز دودونه يې چلينج کړل. کورونا داسې تجربه وه چې که ترخه هم وه، ځينې سبقونه يې را زده کړل.

کورونا راوښوده چې هر څه تقدیر ته حواله کول، سم کار نه دی. ډېر څه په تدبیر سمولی شو او تقدیر ته یې باید پرې نه ږدو. دا نړۍ د تدبیر ځای دی او چا چې ځان تقدیر ته وسپارل، کورونا ووژل یا یې سخت وځپل. کورونا را زده کړل چې که هر وخت ځان او خپل شاوخوا پاک وساتو، له ډېرو ناروغیو به په امن یو. کورونا راوښوده چې زموږ باورونه څومره غلط ثابتېدلی شي. زموږ ډېرو عامو خلکو باور درلود چې کورونا یوازې د کافرانو لپاره پیدا ده او مسلمان نه نیسي، خو کورونا راته وویل چې باور مو غلط دی، ناروغي کافر او مسلمان نه پېژني ځکه چې دواړه د طبیعت برخې دي او په ټول طبیعت کې قوانین یو شان پلي کېږي. کورونا دا سبق راکړ چې کله کله مینه، په غېږ کې نیول، ښکلول او نژدې عاطفي رابطه وژونکې وي. که څوک دربانديې گران وي، کله کله به لرې ځنې گرځې چې هغوی ژوندي او روغ پاتې شي. کورونا د ژوند په اړه زموږ نظر بدل کړ.





## سرزورې ککۍ

*(اوشبو داستان خوستده کرونا بۏییچه شفاخانه نینگ مدیری بیلن اۏتکزیلگن صحبت اساسیده یازیلدی)*

خوابښې مې ککۍ بولو خو پس شا ورته سرزورې ککۍ وایو. مور هم ولا که گرم یو، وچ په وچه خو یې سرزورې ککۍ نه بولو.



په خپلې خبرې پورې داسې کلکه نښتې وي چې نه يې زامن ورنه اړولی شي، نه يې د زامنو پلار. په لرې خپلوانو کې يې يو ډاکټر مړ و. ککۍ ځان تیاره کړه چې جنازې ته یې ورشي.
زما د بچیانو پلار ورته وویل: ککۍ! ډاکټر دې خدای وبخښي خو جنازې ته یې مه ځه. هسې نه چې خدای مه کړه کورونا دې ونیسي.
ککۍ وویل: زه څه کاپیره درته ښکارم چې کورونا به مې نیسي؟ دا مرداره خوله دې ورکه شه. اوس دومره شوې چې ما ته نصیحتونه کیې. چې بیا دا خبره ونه کې. زه شکر الحمدلله مسلمانه یم، پنځه وخته لمونځ کوم، نو کورونا به مې ولې نیسي. دا بلا خو خدای د کوپارو د پاره پیدا ده.
دادا په کراره وویل: ښځې! زوی دې رښتیا وایي. خلک وایي چې دا ډاکټر پخپله هم کورونا مړ کړی.
ککۍ مخ ور واړاوه: ته نو مه کړتېږه! خلک د خپلې خېټې نه خبرې کیي. ولې ته نه يې خبر چې ډاکټر غریب د پښتورګو اپرېشن کړی و.
مېړه مې مجبور شو چې ککۍ د ډاکټر دوی کور ته ورسوي.
دوی چې ولاړل، ما د لېوره ښځې ته وویل چې ککۍ یې هسې پرېښوده چې لاړه شي. په راډیو کې هره ورځ وایي چې د ګڼې ګوڼې ځایونو ته مه ورځئ.
دادا زما خبرې واورېدې. غږ یې وکړ: خوله دې ماته وه چې پخپله هغې ته دې ویلي وای؟
حیرانه شوم چې څه ووایم. د لېوره ښځې ته خندا ورغله. لاس یې په خوله کېښود چې دادا یې غږ وانه وري.
ما وویل: دادا! ککۍ ته نو کله څه ویلی شو.
دادا وویل: ککۍ نه ده، بلا ده بلا. ډېره سرزورې ده. اورېدلي مې

دي چې تاسې يې سرزورې ککۍ بولئ.
ما او د لېوره ښځې مې کټ کټ وخندل. ومو ويل: دادا! ته و خداى که دا خبره ورته وکې. که نه نو د ککۍ له لاسه مو ولا که څوک خلاص کې.
ويې ويل: سمه ده. نه يې ورته وايم خو شرط به مې منئ.



د لېوره ښځې مې وویل: دادا! شرط دې وایه.
ویې ویل: بس، شرط همدا چې د شودو یو ښه ټینګ چای راته جوړ کړئ.
ومې ویل: دا خو آسانه خبره ده. دستي به یې درته جوړ کړم.
مازدیګر مهال و چې ککۍ بېرته راغله. چې څنګه مې د موټر غږ واورېد، په بدنۍ کې مې اوبه واچولې. صابون مې را واخیست. انګړه ته ووتم. د ککۍ سترګې چې رابانديې ولګېدې، بدنۍ ته یې وکتل، ویې ویل: په دې باندې څه کې؟
ځواب مې ورکړ: تا ته مې راخیستې دي چې لاسونه دې پرې مینځې. په راډیو کې وایي چې لاسونه مو په صابون شل ثانیې ومینځئ چې کورونا مو ونه نیسي.
ویې ویل: د راډیو خبرې دې پلار ته وکه. زه په اوداسه یمه. کورونا مورونا په ما کار نه لري. د مولوي صېب ښځې هم په جنازه کې ویل چې کورونا د کوپارو جزا ده، مسلمان نه نیسي.
زوی مې له کوټې راووت. د نیا خوا ته یې ورمنډې کړې.
ککۍ ور ټیټه شوه. لمسی یې په غېږ کې ونیو. له جېبه یې تانګړې را وایستې. یوه دانه یې د لمسي په خوله کې ورکړه.
داسې مې زړه وښوېد. په زړه کې مې تېرېدل چې هسې نه ککۍ دا مرض راوړی وي او زما زوی پرې اخته کړي. ما ویل ورته ووایم چې ووړکی په غېږ کې مه نیسه، خو هېڅ مې ونه ویل. ککۍ کله د چا مني.
نیمه شپه وه چې د مېړه ټېلیفون ته مې زنګ راغی. زه لا نیمه ویښه نیمه ویده وم. پوه نه شومه چې څوک وو. مېړه مې وښورولم، ویې ویل: آمنې! وه آمنې! جګه شه.


سترګې مې خلاصې کړې، پوښتنه مې وکړه: خیر خو به وي؟ څه پېښه ده؟
ویې ویل: ژر کوه، تور چای واېشوه. یوه ملګري مې د پکتیا نه ټېلېفون کړی و. ویل یې چې هلته د یو چا په کور کې وورکی زېږېدلی. چې ځنګه پیدا شوی، خبرې یې کړې دي. ویلي یې دي چې که څوک نن د شپې تر دولسو بجو پورې تور چای وڅیکي، کورونا به یې نه نیسي.
ساعت ته یې وکتل. ویې ویل: هله نو ژر کوه چې وخت کم پاتې دی. اوبه دې چې پرې کېښودې، بیا نوره خپلخانه هم راویښه که.
په خوبولو سترګو پخلنځي ته ولاړم. چاینکه مې په نغري کېښوده. ورغلم، د لېوره د کوټې ور مې وټکاوه. ناره مې کړه: جګ شئ، تور چای وڅیکئ.
بیا مې ور وټکاوه. لېوره مې غږ وکړ: څه خبره ده؟ لېونۍ شوې خو به نه یې؟ دا نیمه شپه کسه او تور چای چیکل کسه!
مېړه مې راغی، د وره له شا یې کیسه ورته تېره کړه.
لېور خو مې له خپلې ښځې سره راووت خو غم دا و چې اوس به ککۍ څوک راویښوي.
مېړه او لېور مې په خپلو ټېلېفونو لګیا وو. څو پورې چې چای اېشېده، شلو کسانو ته خو به یې زنګونه وهلي وي. هر چا ته به یې همدا خبره کوله چې ژر کوئ، تور چای وڅیکئ.
ما او د لېوره ښځې مې ککۍ راویښه کړه. په زیاړو یې راته شروع وکړه چې ستاسو دین مذهب ... ستاسو پلار نیکه ... بس څه یې چې خولې ته ورتلل، ویل یې.
زامنو ورته سوال وکړ چې خیر دی ککۍ دا یو غوړپ چای وڅیکه،

بيا څمله خو په چا يې منې.
لس ورځې به تېرې وې چې د هماغه ډاکټر په خېلخانه کې بل مړی وشو. مېړه مې وويل چې هماغه سړي چې د ډاکټر مړي ته يې غسل ورکړی و، مړ دی.
ککۍ چې خبره شوه، غوښتل يې چې بيا جنازې ته ورشي خو نن تبه ورپورې وه. ګهيځ يې چې لمونځ وکړ، بېرته څملاسته. چې بيا جګه شوه، ويل يې چې ټول هډونه يې خوږېږي. تر غرمې پورې ټوخلي هم ورته پيدا شوه. وچه ټوخلي يې وه.
د زمري والا ګولۍ مو ورکړې خو نه يې درد کم شو، نه يې تبه پرې شوه. مېړه مې ويل شفاخانې ته به يې بوځو چې کورونا نه وي، يو ټېسټ به يې وکړو. خو ککۍ ورته زياړې وکړې. ويې ويل: نه مې وينئ چې زوکام راپورې دی؟ هر کال همداسې زوکام نه راپورې کېږي؟
ما ته يې کړه: وه آمنې! ورشه په چای کې لږ ګبين او ادرک واچوه چې ويې چيکم.
چای مې ورته ورکړ. چې ښنګه يې غوړپ ځنې وکړ، په ټنډه کې يې ګونځې پيدا شوې. ويې ويل: د خنزير لورې! خالي چای دې ولې راوړی؟
ستمې يې شو. څو وارې يې په وازه خوله لويه ساه واخيسته، بيا يې وويل: ګبين او ادرک دې ولې په کې نه دي اچولي؟
ومې ويل: ککۍ! کسم دی، دوې کاشوغې ګبين مې په کې اچولي.
مېړه مې ګېلاس ورنه واخيست. ويې ويل: ککۍ! د ادرکو او ګبين بوی خو ورنه ځي.
يوه شېبه غلې شو، يو وار يې وويل: وه ککۍ! کسم دی چې کورونا

نیولې یې. د کورونا مریضان په بوی او په خوند نه پوهېږي. هلئ!
ککۍ را جګه کئ چې شفاخانې ته یې بوځو.
ککۍ وویل: ولا که مې ستا پلارم بوځې.
څو وارې یې وټوخل، بیا یې وویل: کېنئ کراره. وه جینکۍ!
ساه یې سمه کړه، بیا یې وویل: لږ منګړیتې راته وایشوه. رکه روغه به شم.
منګړیتې مو ورته پخې کړې خو څکه یې هم پرې ونه کړه. ویل یې چې زړه ته یې نه کېږي.
دوې ورځې نورې په وچ زور په کور کې پاتې شوه. آخر نو داسې شوه چې نږدې وه ساه یې وخېژي. پزه او شونډې یې تورې اوښتې وې. ساه یې تېزه تېزه اخیسته. په سینه کې غږهار و.
نور نو بله چاره نه وه. زامنو په زور موټر ته وخېژوله. په همدې وخت کې د دادا د تره زوی راغی. پوښتنه یې وکړه چې چېرته یې وړئ؟
مېړه مې وویل: د کورونا شفاخانې ته.
هغه وویل: هلته خو یې بېخي مه وړئ. هلته مریضانو ته د زهرو ستن ورکوي چې مړه شي. ډاکټران بیا په هر مړي باندې د دولت نه روپۍ اخلي. د مړي په سر درې لکه اوغانۍ.
مېړه مې په سترګو اشاره راته وکړه چې د موټر په شا سېټ کې له ککۍ سره کېنم.
په لاره کې لېور مې خپل ورور ته وویل چې که دا خبره رښتیا وي نو ککۍ به ملکي شفاخانې ته بوځو. هسې نه چې رانه مړه یې کي.
ملکي شفاخانې ته چې ولاړو، لا مو ککۍ له موټره کوزه کړې نه وه چې ډاکټرانو پوښتنه وکړه چې څه په شوي دي. دوی چې ورته حال

ووایه، ویې ویل چې مریضه مو د کورونا شفاخانې ته یوسئ، دلته یې علاج نه کېږي.
ناچاره شو. د کورونا شفاخانې ته لاړو. هلته مو چې څومره وس وکړ، ککۍ مو له موټره نه شوه کوزولې. پښې یې د موټر د دروازې په دوو خواوو کې تمبه کړې وې. قسمونه یې کړل چې که مړه هم شي، نه به کوزېږي.
ډاکټران راغلل چې څه کیسه ده، ککۍ د دین او مذهب زیاړې ورته وکړې چې تاسې د زهرو ستن راکوئ. یو ځوان ډاکټر را مخته شو. ویې ویل: وه ادې! مونږ ستا د زامنو غوندې یو. ته مو د مور غوندې یې. خپلې مور ته څوک د زهرو ستن ورکوي؟ هله نو ضد مه کوه، کوزه شه.
په ډېرې سختۍ سره مو له موټره کوزه کړه.
ککۍ دوې اونۍ بستر وه. مونږ یې د ننه نه پرېښولو خو ډاکټرانو به یې هره ورځ حال راکاوه چې مخ په ښه کېدو ده. څوارلسمه ورځ وه چې ککۍ یې رخصت کړه. د شفاخانې له دهلېزه چې راوتله، بېرته وګرځېده. هلته یو ډاکټر له چا سره خبرې کولې. ککۍ هغه سړی ښه سپک کړ او بېرته راغی.
پوښتنه مو وکړه: ککۍ! خیر خو به و؟ هغه سړي ته ولې غوسه وې؟
ویې ویل: د ده دین مذهب ... زما ډاکټر ته یې ویل چې تاسې خو هسې هم مریضانو ته د زهرو ستنې ورکوئ نو زمونږ مریض ته همدا نن ستن ورکئ چې نن مړ شي. ویل یې، ګوره ډاکټر صیب چې جمعې نه یې وانه ړوې چې جنت ته خو لاړ شي.
ما او د لېوره ښځې مې یو بل ته سره وکتل. په پلو مو خندا پټه کړه.
مېړه مې پوښتنه وکړه: ښه ککۍ! نو بیا تا ورته څه وویل؟

ککۍ وویل: ورته مې ویل چې دا مرداره خوله دې ورکه شه. ډاکټر به ولې چا ته د زهرو ستن ورکوي. چې بیا دا خبره ونه کې.



## ژوندی به پاتې شم؟

*(اوشبو حکایه لغمان ولایتی خاتین- قیزلر ایشلری بۉییچه ادارەسی نینگ اهالی بیلن علاقه قوریش بۉلیمی مسوولی خانم عابده لودین بیلن اۉتکزیلگن صحبت اساسیده یازیلدی)*

ځان سره به مې ویل چې ښه نو د تا خو عمر ۵۲ کاله دی، د ساه لنډۍ مزمنه ناروغي هم لري، نو اوس چې کورونا نیولې یې، ژوندی به پاتې شې؟ بار بار به مې خپل مرګ سترګو ته درېده.
زه د لغمان د ښځو چارو په ریاست کې د عامه پوهاوي مدیره وم. دا مې وظیفه وه چې د ښځو د حقونو او نورو مسایلو په اړه ښځو ته پوهاوی ورکړم. کله چې د کورونا مسئله پیدا شوه، ما به پخپله ښځو ته معلومات ورکول چې کورونا ډېره خطرناکه مریضي ده او ځان به ورنه ساتئ. ماسک واغوندئ، لاسونه بار بار مینځئ، د ګڼې ګوڼې

له ځایونو لرې ګرځئ، د سترې مه شي په وخت کې چا ته لاس یا غېږه مه ورکوئ او څوک مه ښکلوئ ... خو پخپله په داسې وخت کې په کورونا اخته شومه چې ډېرو خلکو دا مرض تېر کړی و او د کورونا لومړۍ څپه مخ په ختمېدو وه.
کیسه داسې وه چې ما ته بل تکلیف راپېښ و. پښه مې ماته وه. زوی مې شله شو چې کابل ته راشه، دلته د هډوکو ښه ډاکټران دي. زوی مې په کابل کې اوسېده. په دې وخت کې نو قرنطین لرې شوی و او لارې خلاصې وې. چې رښتیا شي په قرنطین کې مې زړه ډېر تنګ شوی و. دوه درې میاشتې په کور کې ناسته وم. ډېره موده شوې وه چې لمسیان مې نه وو لیدلي. په زوی او لمسیانو پسې ډېره خپه وم. معاش مې نوی اخیستی و او پیسې راسره وې، نو د کابل خوا ته روانه شوم.
د لغمان دوراهۍ ته چې ورسېدو، لمسیانو ته مې لړ ګني او مساله داره ګوړه واخیستل. د لمسیانو د لیدو شوق د پښې درد رانه هېر کړی و. په لاره کې د موټرو تګ راتګ زیات و. د لارې هوټلونه خلاص وو او هر څه داسې عادي ښکارېدل، لکه کورونا چې بېخي دې خوا ته راغلې نه وي. په سروبي کې خو لا ډېر خلک مېلې ته راغلي وو. د سیند په غاړه کې د ناجو تر ونو لاندې دلته هلته خلک له خپلو کورنیو سره ناست وو. د هوټلونو له مخې د کبابو دود او د ورېتو شویو کبانو بوی راتلل.
د زوی کور ته چې ورسېدم، پر لمسیانو مې اختر شو. ټولو را ته منډې کړې خو ما د پښې د خوږ په وجه په غېږ کې نه شول نیولی. دوی غریبان هم دا دومره وخت په خپل کور کې بندیان وو. په هماغه ورځ زوی مې د هډوکو ډاکټر ته وروستم. عکس یې واخیست.

ویې ویل چې همدغه پلستر یې چې درته لګولی، سم دی. فقط استراحت کوه او شیدې مستې ډېرې خوره. یو څه دارو درمل یې هم راکړل او رخصت یې کړو.
زوی مې وویل: ببو! تر هغې پورې چې ښه دې ښه کېږي، همدلته پاتې شه، هسې هم ډېره موده وروسته راغلې یې. لمسیان به دې هم درته خوشحاله وي.
د دوی ګاونډیان په کورونا اخته وو. یوه هفته به تېره وه چې یو مړی وشو او موږ یې جنازې ته ورغلو. هلته مې یوه شېبه هم ماسک له پوزې لرې کړې نه و، نو نه پوهېږم چې کورونا څنګه ونیولم او له چا یې ونیولم.
ښه مې په ښه کېدو وه نو زه بېرته خپل کور ته راغلم. څو ورځې چې تېرې شوې، توخی را پیدا شو، پرنجېدلم او ستړې ومه. ما له پخوا حساسیت درلود او کله کله به همداسې کېدمه، نو ګومان مې کاوه چې هماغه حساسیت به مې تورېدلی وي. خو بیا تبه او لړزه هم را پیدا شوه، بدن مې خوږېده او زړه مې ستړی کېده، نو پوهه شوم چې دا کورونا ده. روغتون ته ولاړمه. ډاکټرانو رانه ټسټ واخیست، څه دارو درمل یې راکړل او ویې ویل چې بستر کوو دې نه، کور ته دې ولاړه شه.
په کور کې مې ځان قرنطین کړ. په جلا کوټه کې به اوسېدم. ماسک به مې هر وخت اچولی و. لاسونه به مې هر شل دقیقې وروسته مینځل. د سبو او مېوو خوراک مې زیات کړل او مایعات به مې ډېر څښل. خپل لوښي مې بېل کړل، کاسه مې بېله وه، پیاله مې بېله وه، کاشوغه، دسمال، ان دسترخوان مې جلا وو.
د ټسټ نتیجه ان څوارلس پنځلس ورځې وروسته راورسېده. د

ټسټ نتیجه مثبته وه، خو وایي اختر چې تېر شي، نکریزې په دېوال وتپه. د ټسټ نتیجې هېڅ شی بدل نه کړ ځکه چې ما له مخکې نه د کورونا تداوي شروع کړې وه او یقین مې و چې همدا مې مرض دی. په قرنطین کې به مې راډیو اورېدله او نټ به مې کوت. هره ورځ د مرگونو خبرونه خپرېدل چې په پلانکي هېواد کې یې زر تنه وژلي دي، پلانکي هېواد کې پنځه سوه، په ټوله نړۍ کې د مړو شمېر یو میلیون ته ورسېد ... د هر خبر په اورېدو به مې په زړه کې وېره ننوتله چې هسې نه دا بیماري ما هم مړه کړي. دا مې هم اورېدل چې اکثره مړه شوي هغه کسان دي چې عمر یې زیات و او له پخوا یې د سږو تکلیفونه لرل. زما عمر هم تر پنځوسو اوښتی و، ساه لنډي مې هم



پخوانۍ وه. يوه ورځ په همدې چورتونو کې وم. زامن او لونې او لمسيان مې سترګو ته ودرېدل. زړه مې نرۍ شو. فکر مې وکړ چې هسې نه چې که مړه شم او دوی بيا هېڅکله ونه وينم.
د کوټې ور خلاص شو. پلوشه لور مې وه. د کوټې له وره سره يې پتنوس کېښود. ويې ويل: ببو! د ترکاريو ښوروا مې درته پخه کړې ده.
چې له کوټې وتله، بېرته يې مخ را واړاوه.
زر مې مخ د دېواله خوا ته کړ چې هغه مې اوښکې ونه ويني.
لور مې وويل: ببو! خير خو به وي؟ داسې ترهېدلې غوندې راته ښکارې.
ومې ويل: نه، لورې!
غږ مې ژړغونی و.
ويې ويل: ببو! ژړلي دې دي؟
ومې ويل: نه، هسې مې زړه خپه و. څه کوئ؟ وړاندې مه راځه! هماغلته ودرېږه!
دې غوښتل چې خوا ته مې راشي او ډاډ راکړي.
پر خپل ځای ودرېده، ويې ويل: نو، حال را ته وايه. ولې دې ژړلي؟
ومې ويل: هسې. په راډيو کې يې ويل چې کورونا هغه کسان ډېر وژني چې عمر يې زيات وي او د سږو نور تکليفونه ولري. نو زما خو هم دغه حال دی.
هغې وويل: خدای دې نه کړي ببو! دې خبرو ته په زړه کې ځای مه ورکوه. ما بيا په نټ کې بل خبر ولوست. ښه خبر دی. وايي د چا د وينې ګروپ چې O وي، کورونا پرې آسانه تېرېږي. ستا د وينې ګروپ خو هم O+ دی نو غم مه کوه. خدای به دې رکه روغه کړي.
د ښوروا کاسې ته يې اشاره وکړه، ويې ويل: هله نو! زه وځم خو ته

به دې ښوروا خورې چې د بدن مقاومت دې زیات شي.
د هغې خبرو بېرته هیله را پیدا کړه. زړه مې په قرار شو. د مرگ وېره مې له ذهنه ووته. پاڅېدم او پتنوس مې راواخیست. د ترکاریو ښورا مې وخوړه. په خوند یې نه پوهېدم خو د گټې په خاطر مې یې وخوړه. د ټولو شیانو خوند یو شان، هر شی بې خونده و. په زړه کې مې تېرېدل چې خدای څومره مهربان ذات دی چې موږ ته یې د ذایقې حس راکړی او په هر شي کې یې بېل خوند اچولی دی. که هر وخت همداسې وای لکه اوس چې وم او د هېڅ شي په خوند نه پوهېدای، نو ژوند به څومره بې خونده و.
ښوروا مې خلاصه شوه. پتنوس مې بېرته د وره مخې ته یووړ او پر ځمکه مې کېښود. ور مې وټکاوه او بېرته خپل ځای ته راغلم.
لور مې ور پرانیست. تشې کاسې ته یې وکتل. موسکۍ شوه. ویې ویل: آفرین ببو! که همداسې ښه خوراک وکړې، انشا الله زر به د گل غوندې جوړه شې.
انسان هم عجب موجود دی. یو وخت به ما د پلوشې خیال ساته. هغه چې وړه وه او کله به چې ناروغه شوه، ما به همداسې نازوله لکه اوس چې هغه ما نازوي. د هغو کسانو په باره کې چورت یوړم چې اولاد یې نشته. که هغوی ناروغه شي او زما غوندې ناهیلي وي، څوک به ډاډ ورکوي؟ څوک به یې خدمت کوي؟ څوک به یې نازوي؟ شکر خدایه چې ما ته دې داسې خواږه اولادونه راکړي دي.
پر شیطان دې لعنت وي. هر وخت انسان وسوسه کوي. سمه خوشحاله ومه چې یو دم مې په زړه کې تېر شول چې هسې نه چې لور مې زما د خوشحالولو لپاره هغه خبره هسې له خپل زړه نه کړې وي. دا چې وړه وه، په ناروغۍ کې به یې څه نه خوړل. ما به شیدې یا مېوې په همدې پلمه ورباندې خوړلې چې دا چې وخورې، تبه به

دې وشکېږي يا درد به دې ورک شي. اوس مې ويل هسې نه چې پلوشې هم زه تېر ايستلې يم. يو ځل بيا د مرگ وېره مې په زړه کې ننوته. ساه لنډي مې زياته شوه. فکر مې کاوه چې په ټټر باندې مې يو غټ کاڼی اېښی دی.

موبايل مې وچونگېد. لاس مې ور وغځاوه. راپورته مې کړ. گورم چې پلوشې په مسنجر کې يو لېنک رالېږلی دی. لينک مې خلاص کړ. هماغه خبر په کې و چې دې را ته ويلی و. بېرته مې زړه په قرار شو او هيله مې پيدا شوه چې خدای به مې روغه کړي.

همداسې وشول. خدای بېرته ښه کړم خو که د پلوشې او نورو اولادونو ډاډگېرنه نه وای، انديښنو او ناهيلۍ به وژلم.



# وهم

*(اوشبو حکایه کنر محلی رادیولری خبرچیلریدن گوهر ساپی بیلن اؤتکزیلگن صحبت اساسیده یازیلگن)*

سخت وهم خپور و. د هر چا په ذهن کې دغه خبره وه چې کورونا يعنې مرگ. دغه ناروغي چې لا افغانستان ته نه وه راغلې، په رسنيو کې به مو کتل چې کورونا څومره زر خپرېږي او څومره زر انسانان وژني. هره ورځ به مو د زرگونو کسانو د اخته کېدو او د سلگونو د مړينې خبرونه اورېدل. کورونا ايران ته رسېدلې وه او چې د گاونډي په کور دې اور بل وي او اور هلته مړ نه شي نو ستا کور ته به هم درځي. پوهېدلو چې نن وي که سبا وي، دا اور راتلونکی دی.

په هغه ورځ چې د عامې روغتيا وزير اعلان وکړ چې په هرات کې د کورونا لومړۍ پېښه ثبت شوه، وهم لا پسې زيات شو. له ځان سره به مې فکر کاوه چې دلته خو سواد کم دی، ناپوهي ډېره ده، صحي سيستم مو غير معياري دی، په روغتونونو کې مو کافي وسايل او تجهيزات نشته ... نو دلته به سم ناتار گډ شي. دې ته مې فکر کاوه

چې کورونا هغه پرمختللي ملکونه داسې ځپلي دي، نو زموږ وطن به بېخي په گونډو کړي. دې اندېښنو زموږ وهم لا زیات کړی و.
کله خو به مې له ځان سره ویل چې کاش په څه نه پوهېدای یا په هېڅ خبر نه وای. په افغانستان کې لا د کورونا کومه پېښه نه وه ثبت شوې. یوه ورځ د عامې روغتیا له رییس سره یوې اطرافي ولسوالۍ ته تللي وو. ښکلې دره چې په منځ کې یې نری سیند بهېده، په ونو پوښلي غرونه، شین آسمان، خوندوره هوا. چې دې شیانو ته مې کتل، تر خوند زیات د وېرې احساس مې کاوه. هسې نه چې کورونا مو ووژني او دا ښکلاگانې را نه پاتې شي. د اروپا هغه لوی لوی ښارونه مې سترگو ته درېدل چې په ټلویزیون کې یې ښودل او واټونه یې داسې تش وو چې ته وا هېڅ بني آدم هلته نشته، لکه قیامت چې شوی وي. ته وا اسرافیل لومړۍ شپېلۍ وهلې ده او ټول ژوندي ساري مړه شوي دي.
په همدې چورتونو کې وم چې د خلکو یوه جوپه زموږ هرکلي ته راورسېده. د عامې روغتیا رییس خلکو ته وویل: «ما ته به لاس نه راکوئ، نه زه چا ته لاس ورکوم. له کورونا به ځان ساتو.»
یو سپین ږیری ور مخکې شو، رییس یې ټینگ په غېږ کې ونیو، ویې ویل: زه کورونا درنه باسم.
له ځان سره مې وویل چې که د دغه کاکا غوندې ناخبره وای، د کورونا وېره به مې په زړه کې نه وای. خو زه خبریال وم، هره ورځ به مې نړیوالې رسنۍ تعقیبولې او په هر څه به خبرېدم. دې خبرونو سکون را نه اخیستی و. په ویښه خو لا څه کوې چې ان په خوب کې به یې هم آرام ته نه پرېښودم. ډېر ځله به مې په خوب کې لیدل چې کورونا راغلې ده او د مړو حساب نه کېږي.

کورونا د خپل وهم غونډې زر خپره شوه. د هرات تر پېښې پنځلس ورځې وروسته، د ۲۰۲۰ کال په مارچ میاشت کې کونړ ته راورسېده. په کونړ کې یې دوه کسان نیولي وو. یو یې ډاکټر و او بل یې هغه ښوونکی چې ښکلا راډیو ته به راته او د راډیو له لارې به یې شاګردانو ته د پښتو درس ورکاوه. دې پېښې وهم زموږ کور ته راوور.

په هغه ورځ چې کور ته ولاړم، مور مې وویل: ګوهره زویه! نور نو وظیفې ته مه ځه. هغه سړی چې کورونا نیولی، هلته یې خپرونې کړې دي. هسې نه چې خدای مه کړه تام ونیسي.

پلار مې را وکتل. ویې ویل: ښه درته وایي. وږی به نه پاتې کېږې. دومره څه به پیدا شي چې ویې خورو.

خور مې چې څه خبره را ته کوله، لرې به درېدله. هغه داسې را نه لرې تښتېده لکه له پوډري چې خلک تښتي. مېرمن مې زما لوښي بېل کړل. زما د ګېلاس په لاستي پورې یې سور تار وتاړه. یوه کاسه او یو قاب یې د نوکانو په رنګ په نښه کړل. زما د څملاستو ځای یې بېل کړ. ټولو داسې چلن راسره کاوه چې تا وا په کورونا اخته شوی وم.

وېرېدلی خو زه هم وم خو فکر مې وکړ چې وظیفې ته به دوام ورکوم. په دې باور وم چې خبریال که پېښه نرمه وښیي، خلک یې نرمه ګڼي او که یې سخته وښیي، خلک به لا ډېر وبوږنېږي. بله دا چې که موږ خلکو ته معلومات نه وای ورکړي، له کورونا نه د ځان ساتلو لارې چارې مو ورته نه وای ښیلې، نو د کورونا خطر به لا زیات شوی وای. همدا وه چې وظیفه مې پرې نښوده خو ماسک به مې اچاوه او وخت په وخت به مې په سنیټایزر لاسونه مینځل. په

راډیو کې مو وار ټاکلی و چې ټول په یوه وخت دفتر ته ولاړ نه شي. له یو بله به سره لرې کېناستلو او د کورونا د مخنیوي لپاره به مو څه چې په وس کې وو، هغه کول.
د کورونا پېښې ورځ تر بلې زیاتېدلې. یوه - یوه نیمه میاشت وروسته، د روژې میاشت وه چې ناروغان او مرگونه بېخي زیات شول. یوازې مو په خپل کلي کې اوه - اته جنازې وکړې. خو په زړه کې مې نور هغه پخوانی وهم نه و پاتې. د دنیا خبرونه مې کتل چې په دې ناروغۍ کې د مړینې فیصدي ٦ فیصده ده او اکثره زاړه کسان یا په نورو ناروغیو اخته کسان وژني. زه نه زوړ وم، نه مې بله مریضي درلوده نو یو څه روحي سکون مې درلود. په کونړ کې مې هم لیدل چې ډېر خلک له ناروغۍ بېرته رغېږي. له ځان سره به مې ویل چې که ومې هم نیسي، بېرته به ښه شم.
د روژې پنځه ویشتمه وه چې ستونی مې خراب شو، بیا مې تبه شوه، بیا شدید ټوخی و. موږ هره ورځ په راډیو کې خلکو ته معلومات ورکول چې که دغه نښې نښانې درکې پیدا شوې، نو ځان قرنطین کړئ. د کورونا نښې نښانې رامعلومې وې. وپوهېدم چې نیولی یې یم، خو وار پار مې خطا نه شو. ځان ته به مې ډاډ ورکاوه چې په کورونا کې اوس هغه اول زور نه دی پاتې او اثرات یې کم شوي دي.
ښه نو اوس روغتون ته لاړ شم که نه؟ د خلکو خبرې مې رایادې شوې. د راډیو لپاره مو چې له خلکو سره مرکې کولې، ډېرو به شکایت کاوه چې په روغتون کې د چا سم خدمت نه کېږي.
یوه ورځ د کورونا د یوه ناروغ له پایواز سره مې مرکه کوله. پوښتنه مې وکړه چې ماما دلته ستاسو د مریضانو خدمت کېږي که نه.

ویې ویل: خدمت مذمت نشته. واسطه بازي ده. څوک چې واسطه لري، آکسیجن ورته رسېږي. چې واسطه نه لري، همداسې به پراته وي. غریبان که مړه هم شي، څوک یې پروا نه کوي خو که چارواکي او زورواکي یو ټوخی وکړي، ډاکټران ټول ورته منډې وهي، آکسیجن ورلګوي، ستنې ورکوي. د زورور د پاره هر څه شته خو د غریب د پاره هېڅ شی نشته.



هسې هم زما وضعیت خراب نه و، نو په کور کې مې ځان قرنطین کړ. ویټامین سي والا شیان به مې ډېر خوړل او کورني درمل به مې کارول. ترخه به مې ډېره خوړله. زموږ په غرونو کې ترخه ډېره کېږي. خلک وايي چې دا بوټی ډېرو ناروغیو ته ګټور دی. سپېرکۍ، بادیان، جینجرې او ترخه به مې میده کړل او ټول به مې ګډ واېشول. دې شي ته زموږ په وطن کې ګرم ګېلاس وايي. نو همدا ګرم ګېلاس به مې په ورځ کې دوه درې ګېلاسه څښل. هره ورځ به لمر ته کېناستم چې ویټامین ډي مې پوره شي.

خو په کورني قرنطین کې دوه غمونه وو. یو د وړو، بل د زړو. له ماشومانو ځان څنګه وساتم؟ لویان خو په خبره پوه دي، خوا ته مې نه راځي خو واړه کله منع کېږي. نو له ماشومانو به مې ځان پټاوه. سهار وختي به چې دوی ویده وو، له کوره به وتلم او ماسخوتن ناوخته به چې دوی ویده شول، خپلې کوټې ته ولاړم. بله مې د مور او پلار مسئله وه. دواړه له پنځوسو کالو نه بره وو او په دې وېرېدم چې که خدای مه کړه کورونا یې ونیسي، را نه مړه نه شي. مور او پلار ته مې وویل: یو څو ورځې ما نه ناکام وکئ. څو پورې ښه شوی نه یم، نه به سره وینو. دغسې له لرې به یو بل ته دعا کوو.

کورونا را باندې آسانه تېره شوه. لکه له ازموینې مخکې چې سړی ډېر وېرېږي او چې امتحان تېر شي، بیا ځان سره وايي چې ازموینه خو دومره سخته نه وه، نو زه ولې دومره وېرېدم. د کورونا خبره هم همداسې وه. وهم یې خوب او آرام را نه اخیستي وو خو پخپله بیا داسې سوکه تېره شوه. خو لکه په سخته ازموینه کې چې ځینې ناکامه کېږي، د کورونا سخت امتحان هم خپل ناکامان لرل. هدیرې لویې شوې. د خلکو په کورنو ویر ګډ شو. نیستي او غریبي زیاته

شوه. صحي سیستم مو خپلې نیمگړتیاوې را ښکاره کړې. نو اوس چې ورته گورم، د کورونا وهم بې ځایه هم نه و.



# مسوولیت

*(اوشبو حکایه جلال آباد شهری ۵- ناحیه‌سی باله‌لر و عیالل‌ر حقلرینی حمایه ایتیش انجمنی باشلیغی فوزیه ساپی صحبتی اساسیده یازیلدی)*

د جلال آباد ښار د پنځمې ناحیې په یوه کوڅه کې په بېړه روانه وه. ستمې یې کېده. یو یو وار به یې ماسک له پوزې لږ کښته کړ، ژوره ساه به یې واخیسته، بیا به یې ماسک بېرته پر پوزې سم کړ. ماسک یې په خولو لوند شوی و او د خولو تروش بوی ترې لتېده. دسکول یې له یوې اوږې څخه بلې ته کړ او د لاستي ځای یې وسولاوه.

د کوڅې په پای کې پنځه نورې ښځې ورته ولاړې وې. څنګه چې دا ور ورسېده، یوه ښځه چې تر نورو ځوانه ښکارېده، را وړاندې شوه. د روغبړ لپاره یې لاس ور وغځاوه، ویې ویل: سترې مه شې، په خیر راغلې.

فوزیې لاس پر ټټر کېښود، ویې ویل: بخښنه غواړم، په لاس سترې مه شي به نه کوو.

ځوانې ښځې غېږ ترې چاپېره کړه، په خندا یې وویل: استادې! بخښنه ولې غواړې؟ سمه غېږه راکه. دا خو الهي مریضي ده. چې د خدای رضا نه وي، په چا نه پورې کېږي.
فوزیې په دواړو لاسونو چې په دستکشو پوښلي وو، ځوانه ښځه په کراره له ځانه لرې کړه، ویې ویل: ګوره نجلۍ! پیغمبر صاحب نږېدلي کمر نه امان غوښتی دی. چې موږ تاسې تعلیم یافته ښځې یې مراعات نه کو، نو له بې تعلیمه خلکو څه ګیله. که خدای مه کړه ناروغه شې، څه به کوې؟ دا قیمتي خو وګوره، یو پاکټ د درد ګولۍ مې په پنځه سوه روپۍ واخیست. زه چې کورونا شوې ومه، مېړه مې یو پاو خاک شیر په دوه نیم زره راوړي وو. د کورونا سره ټوقې نه کېږي.
بلې پخې ښځې وویل: رییس صاحبې! دا لېونۍ خو هېڅ نه سمېږي.
ځوانې ښځې په خندا وویل: سمه دمه یمه، سمه مینه‌ناکه. ما خو ورته مور ویلي دي.
فوزیې وویل: وبخښئ چې ناوخته راغلم. د لور په دوا پسې تللې ومه. خدای دې انصاف ورکي، دوا دومره قیمته خرڅوي چې مه کوه پوښتنه. هره نسخه یې پنځه زره، شپږ زره روپۍ کېږي.
ځوانې ښځې وویل: خو نه به وې راغلې. موږ به د تا د برخې کار هم کړی و. یو ټېلیفون به دې کړی و.
فوزیې وویل: خیر یوسې. راغلم چې دا معاش خو مې حلال کم. خیر دی، یوه کوڅه به خلاصه کم، بیا به ولاړه شم.
فوزیه د جلال آباد د پنځمې حوزې د ښځو او ماشومانو د حقونو د ملاتړې ټولنې مشره وه. له هاغه وخته چې افغانستان ته د کورونا وبا راورسېده، د دوی ټولنې د عامه پوهاوي کار په غاړه اخیستی و. پیسې به د یونیسف ادارې ورکولې، معلومات او مواد به د عامې روغتیا

ریاست ورته برابرول.
فوزیې وویل: بسم الله به وکو. څوک به له ما سره ځي؟
ځوانې ښځې د مکتب د شاګردانو غوندې لاس جګ کړ، ویې ویل: لور دې.
ټولو وخندل. دوې ښځې یوې فرعي کوڅې ته ولاړې او فوزیه له ځوانې ښځې سره بلې ته. د یوه کور ور یې وډباوه. د وره له شا د ښځې غږ راغی: څوک یې؟
فوزیې وویل: موږ د عامه پوهاوي کسان یو. د صحت عامې نه راغلي یو چې د کورونا په اړه معلومات درکو.
د کور څښتنې د وره له شا وویل: خیر یوسئ، معلومات مو ځان ته وساتئ. زموږ کور ته مه راځئ چې کورونا را نه ولئ.
د بل کور دروازه یې ټک ټک کړه.
یوې مشرې ښځې دروازه خلاصه کړه.
مخکې تر دې چې هغه څه ووایي، ځوانې ښځې ځان ورمعرفي کړ.
د کور څښتنې وویل: په خیر راشئ. خدای دې خیر درکي.
فوزیې له دستکوله د ضد عفوني موادو بوتل را وایست. پر یوې ټوټې یې څو څاڅکي مواد واچول. د دروازې قلفک یې ورباندې پاک کړ. بیا یې د یو لاس پر ورغوي لږ مواد واچول او دوړاه لاسونه یې ښه سره وموښل. لاسونه یې پوزې ته ورنژدې کړ.
ځوانې ښځې هم غړی اوږده کړه، مخ یې د فوزیې لاسونو ته ورنژدې کړ. پوزه یې وسونېله. ویې ویل: اخخخخ! د الکولو دغه نرم بوی څومره ښه لګي.
بیا یې د ضد عفوني موادو بل ډک بوتل د کور څښتنې ته ورکړ او ویې ویل: خورې! هر کله چې څوک د کوم ضرورت د پاره د کور نه

بهر کېږي، بیا چې بېرته راځي، دروازه دې همداسې پاکه کي او خپل لاسونه دې هم په دې موادو صفا کي.
په انګړ کې یې هلکان او نجونې لرې لرې سره کېنول. چلیمچي او بدنۍ یې راوغوښته. له دسکول نه یې د ډیټول صابون چکه را وایسته. ځوانې همکارې یې پر لاسونه اوبه واچولې. دې د کور والاو ته د لاس مینځلو طریقه وښوده او تشریح یې کړه. د کورونا نښې نښانې یې ورته یادې کړې. له کوره د نه وتلو یې ورته وویل. بیا یې دوه چکې صابون د کور ښځنتنې ته ورکړې او رخصت یې واخیست.



په دوو ساعتونو کې د کوڅې په ټولو کورونو وگرځېدې. چا د وره له شا ځواب کړې او چا یې په مینه هرکلی وکړ. دوی د هر کور وگړو ته دوه دوه چکې صابون، د ضد عفوني موادو یو یو بوتل او لس لس دانې ماسکونه ووېشل او له کورونا د ځان ساتلو معلومات یې ورکړل.
د کوڅې پای ته چې ورسېدل، فوزیې له دسکوله کتابچه را وایسته. د کتابچې پر لومړۍ صفحه لیکل شوي وو: پنځمه ناحیه، ۲۳۶۰ کوره. بیا د هرې سیمې د څو کوڅو نومونه او د هرې کوڅې مخې ته د کورونو شمېر لیکل شوي وو. فوزیې د یوې کوڅې له نامه سره د (۰) نښه وکاږله. کتابچه یې بېرته په دسکول کې کېښوده. له ځوانې همکارې سره یې په بېړه خدای پاماني وکړه او د روغتون لاره یې ونیوله.
یوه اونۍ کېده چې لور یې عملیات شوې وه. لور یې امیدواره وه. وروستۍ ورځې شپې یې وې چې په کورونا اخته شوه. له کورونا لا پوره نه وه رغېدلې چې د زېږون درد ورته پیدا شو. مور یې په ریکشا پسې نفر واستاوه خو په سړکونو کې نه موټر و، نه ریکشا، نه بل څه. بیا یې زوی د کوڅې بر سر ته ولېږه چې د گاونډي ریکشاوالا پوښتنه وکړي چې په کور دی که نه.
ریکشا راغله. له لور سره په کې سپره شوه. صحت عامې ته ولاړې. نوکریوالې ډاکټرې د یوه خصوصي کلینیک آدرس ورکړ چې ټلویزیوني معاینه وکړي. هلته چې ورسېدل، گوري چې ډاکټره نشته، کابل ته تللې ده.
له هغه ځایه یې خپله لور یوه خصوصي روغتون ته بوتله. هلته یې ورته وویل: لور دې عملیات غواړي. ماشوم یې مړ دی او که دا تر سبا پورې عملیات نه شي، د دې د مرگ خطره هم شته. شل زره روپۍ یې د عملیات کېږي او باقي د بستر، درمل، او نورو شیانو پیسې به جلا

پرې کوئ.
زوم یې دومره پیسې نه درلودې نو بېرته د صحت عامې روغتون ته ولاړل.
ډاکټرې ته یې چې د عملیات خبره وکړه، هغې وویل: اوس خو نه کېږي، سبا سهار یې راوړئ.
سبا سهار چې ورغلل، ډاکټرې وویل: ورشئ، امر راوړئ چې عملیات یې کو.
فوزیې وویل: گوره ډاکټر صاحبې! یوه ډاکټره ته یې، یوه زه یم. زه کور په کور گرځم، ستاسو د نارینه‌وو، ښځینه‌وو او ماشومانو خذمت کوم. نو خیر دی همکاري وکړئ، دا مریضه مې عملیات کړئ.
بلې ډاکټرې وویل: د څه شي ډاکټره یې؟
دې ځواب ورکړ: صحې کارکوونکې یمه، ټولو ورځ خلکو ته د کورونا په اړه عامه بوهاوی ورکوم.
ډاکټرانو یو بل ته سره وکتل، کټ کټ یې وخندل. ویې ویل: په همدې دوو خبرو چې دې زده کړې، بیا نو ډاکټره شوې؟ ډاکټري دومره آسانه شوه؟ امر به راوړې، گنې نه یې عملیاتوو.
فوزیې له دسکوله موبایل را وایست، ویې ویل: ته ودرېږه چې ډاکټر میرویس ته زنگ ووهم، دا خبره بیا هغه ته وکړئ.
ډاکټرانو یوې بلې ته سره وکتل. یوې ډاکټرې د فوزیې لاس ټینگ کړ، ویې ویل: څه پروا نه لري، عملیات به یې کو. خو د عملیاتو د پاره یې دوایي، د جراحۍ سامان او مواد به پخپله راوړئ.
د لور عملیات یې خلاص شو خو زخم یې میکروبي شوی و او بله ورځ یې گزک وکړ. تېزه تبه یې وه او وضعیت یې وار په وار خرابېده. په جدي څانگه کې پرته وه. فوزیې به هره یوه نه بله ورځ د پنځو شپږو




زرو روپو دوايي ورته راوړله. په کور کې چې څومره پيسې ورسره وې، په دوا درملو ولاړې خو لا يې هم د لور وضعيت نه و ښه شوی.
د جدي څانګې يوه ډاکټر فوزيې ته کړه: ورشه، په هغې ډاکټرې چې عمليات يې کړی، عريضه وکه.
فوزيې وويل: که ما په هغې عريضه وکړه، په ځان مې عريضه وکړه. زه پخپله د ښځو د حقونو د ټولنې مشره يم. مريضي د خدای د لوري ده. اوس که زه ورباندې عريضه وکم، دولت به جزا ورکي، کسر معاش به يې کي نو زړه مې دا نه مني چې د بچيو د خوراک پيسې دې ورنه واخيستل شي.
يوه لور يې عملياتي، بله يې په کورونا اخته. فوزيې به کله روغتون ته منډې وهلې، کله د ناروغې لور کور ته. دا لا کم و چې مېړه يې هم کورونا شو. حيرانه وه چې اوس څنګه کړي. که مېړه ته شي، لور به ورنه پاتې وي او که لور ته مخه کړي، ناروغ مېړه به يې په ميدان پاتې وي. د لور کور يې د دوی له کوره لرې و. مېړه ته يې وويل چې ته هم د لور کره راشه چې د دواړو خدمت وکړی شم.
خو زوم يې ورته کړه: ترورې! د کاکا خدمت به زه وکم، داسې يې وبوله لکه ته پخپله چې ورسره يې. ته دې لور سره پاتې شه. زموږ کور شفاخانې تم نږدې دی نو تګ راتګ به درته آسانه وي.
فوزيې به سهار وختي ناروغې لور ته په شيدو کې خاک شير ايشول، بيا لږ وروسته به يې د ادرکو او ليمو چای ورته جوړ کړ. کور به يې ورته صفا کړ. بيا به روغتون ته شوه. د عملياتي لور حال به يې اخيست. ساعت نيم پس ته به ساحې ته تله، په منډو به يې څو کورونو ته ورننوته او عامه پوهاوی به يې ورکړ. همکارانو به يې ويل چې د تا د برخې کار به موږ وکړو، ته مه راځه. خو دې به ويل چې نه، معاش به حلالوم.

د عامه پوهاوي له کاره وروسته به يې د مېږه پوښتنه وکړه. بیا به بېرته د ناروغې لور کره ولاړه، د غرمې پرهېزانه به يې ورته برابره کړه. تر غرمې وروسته به يې دغه ټول کارونه يو ځل بیا کول او دا هر څه به يې خپل مسوولیت ګاڼه.



# ایمان

د ماښام فرض لمونځ مې تمام کړ. سلام مې وګرځاوه. د دعا لپاره مې مقتدیانو ته مخ واړاوه. دعا مې پیل کړه: اللهم انت السلام ومنک السلام، تبارکت ربنا و تعالیت یا ذا الجلال والاکرام. سر مې پورته کړ. ګورم چې ایله دوه صفونه ډک دي او نور نو جومات تش دی.



دعا مې ژر تمامه کړه. یوه مقتدي باندې مې غږ وکړ: نورولي خانه! دا نور کلیوال دې څنګه جماعت ته نه دي راغلي.
هغه د اوږې له پاسه شا ته وکتل. غاړه یې تازه کړه. ویې ویل: خدای خبر. ګومان کوم چې د کورونا له ډاره به نه وي راغلي.
یوه بل مقتدي غږ وکړ: مولانا صیب! بس همدا خبره ده. په راډیو کې یې ویل چې لمونځونه مو په کور کې وکئ چې کورونا مو ونه نیسي.
ومې ویل: مؤمنانو! سنت مو چې وکه، یوه ګړۍ صبر وکئ. لږ تقریر به درته وکم.
دوه رکعته سنت مې چې تمام کړ، منبر ته وختم. میکروفون مې خولې ته سم کړ. د لاسپیکر غږ مې ښه لوړ کړ چې ټول کلی مې خبرې واورې. ومې ویل چې کورونا مورونا نشته، دا د کفارو توطئه ده. دوی غواړي چې تاسې له الله نه لرې کي، ګنې په جومات کې کورونا له کومه شوه. دا د خدای کور دی که نه دی؟ ولې مو ایمانونه دومره ضعیف شول. دا مې هم ورته وویل چې حدیث شریف دی چې مسلمان ته د مرض سرایت نشته. نو که کورونا وي هم، مسلمان به نه وربانديې اخته کېږي.
په هغه ماښام کې مې زړه ښه تش کړ. د ماخوستن په لمانځه کې مې کتل چې جومات بېرته ډک شوی دی.
یو دوه هفتې هر څه سم وو. مقتدیان به مې جماعت ته راتلل خو بیا هم ورو ورو تارک جماعت والا زیات شول. بله ورځ چې له جوماته وتلو، ډاکټر کمال مو ولید چې د باندې ولاړ دی. ماسک یې اچولی و او په لاسونو یې هم دستکش وو. ما ورته دواړه لاسونه وړاندې کړل خو هغه یو ګام شا ته شو، لاس یې پر ټټر کېښود، ویې

ویل: السلام علیکم. مولانا صېب! پام چې چا سره په لاس سترې مه شې ونه کې.
ما وویل: دا څه لوبې کوې؟ څه کافر خو نه یم چې داسې را نه لرې تښتې.
ډاکټر وویل: خدای دې نه کړي مولانا صېب. بس څه وکو نو مجبوري ده. کورونا ډېره خطرناکه ناروغي ده. ځان به ورنه ساتو.
ما هماغه حدیث شریف ورته تېر کړ چې وایي مسلمان ته د مرض سرایت نشته.
ډاکټر وویل: مولانا صېب! ته خو ډېر محترم سړی یې، خو خدای ته وګوره دا خبرې مه کوه. زموږ شفاخانه د کورونا په مریضانو ډکه ده. ټول مریضان مو د همدې خوست خلک دي، نو خلک چې ستاسو خبرې واورې، د هغوی په اړه به څه فکر وکړي؟ ستاسو علمیت ته مې سلام دی خو ما هم دیني کتابونه کتلي دي. حدیث شریف دی چې له جذامي نه داسې تښتئ لکه له زمري نه چې څوک تښتي. نو که د مرض د سرایت خبره نه وای، رسول الله مبارک به دا خبره ولې کوله؟
د ټولو مقتدیانو سترګې په ما ښخې شوې. داسې ښکارېدل چې د ډاکټر خبره یې زړونو ته لوېدلې ده. چې رښتیا شي، د ډاکټر خبرې سمې وې خو ما نه اوس خبره شوې وه. ګنې ښه راته معلوم وو چې کله د ظني نقل او صریح عقل تر منځ په ظاهره کې ټکر وي، صریح عقل به منې او ظني نقل ته به داسې توجیه لټوې چې له صریح عقل سره سمون پیدا کړي، بیا چې صریح عقل په بل ظني نقل تایید شوی هم وي، نو د عقل خبره نوره هم پیاوړې کېږي.
وروسته په دې هم وپوهېدم چې زما د حدیث اصلي مطلب دا ده

چې اسباب په استقلال سره مرض نه شي رامنځ ته کولی بلکې د مرض په پیدا کولو کې د الله ارادې ته اړ وي. جالبه دا ده چې دا خبره مې هم له ډاکټرانو زده کړه. یوه ډاکټر راته وویل چې کله کله داسې کېږي چې میکروب د انسان بدن ته داخلېږي، خو هغه په مرض نه اخته کېږي. هغه انسان نورو ته مرض انتقالوي خو پخپله روغ وي، نو که خبره یوازې په سبب کې وای، دی هم باید مریض شوی وای.

خو خبره را نه شوې وه او که زه له خپلې خبرې گرځېدلی وای، د مقتدیانو باور به راباندې کمېده، نو ومې ویل: ډاکټره! په دین زه ښه پوهېږم که نه؟ تا به یو کتاب، دوه کتابه کتلي وي خو ما ډېره په کې سپینه کړه. چې حدیث تېروې نو هغه بل حدیث هم دریاد کړه چې چا نبي کریم ﷺ ته وویل چې که د مرضونو سرایت نه وي نو یو اوښ چې پمن شي، د پادې نور اوښان ولې پمن کېږي؟ نبي کریم وفرمایل چې هماغه ذات چې په لومړي اوښ یې دا مرض گډ کړی و، په نورو اوښانو یې هم گډوي. مطلب دا چې که د الله ﷻ اراده په کې نه وي، هېڅ شی څوک نه شي مریضولی.

مقتدیانو ته مې مخ واړاوه، ومې ویل: گورئ مؤمنانو! که په مسلمان دا مرض ولگېد، نو هغه به یا سخت گناهکار وي یا به یې په ایمان کې شک وي. نو جماعت به نه پرېږدئ. په ایمان مو برکت شه.

پنځه ورځې تېرې وې چې تبه راپورې شوه. ټول غړي مې خوږېدل. بندونه، ملا، پښې، ولې، ټول بدن مې داسې ټوک ټوک و چې ته وا چا سخت ډبولی یم. پېراسیټامول گولۍ مې واچولې، خو گټه یې نه وکړه. په سبا یې ټوخلي هم راپورې شوه. ستونی مې خوږېده، پوزه مې بهېدله. سم دم زوکام شوی وم. د جگېدو نه وم.

زوی مې چرګ حلال کړ. ښځې مې یخني راته جوړه کړه. منګریتې یې هم په کې اچولې وې. خو په خاورو کې خوند و، په دې یخنۍ کې نه و. د هېڅ شي خوند په کې نه و، نه د مالګې، نه د مسالې، نه د غوښې، نه د منګریتو، نه د مرچو. په بوی هم نه پوهېدم. د غړو دردونه مې وار په وار زیاتېده. پېراسیټامول هېڅ اثر نه کاوه، لکه خټه چې خورې.

زوی مې ټینګ و چې شفاخانې ته به ځو، خو ما ویل نه ځم.

بله ورځ مې ټټر داسې نیولی و چې ته وا چا کلک تړلی دی. ساه مې بندېده. ټوخلې مې لا پسې زیاته شوه. داسې شوی وم چې له اخ و ټوخه لوېدلی وم. زوی مې څو وارې وویل چې دادا ضد مه کوه، شفاخانې ته به دې وړو، خو ومې نه منل.


یو وخت ګورم چې د شفاخانې پر کټ پروت یم. په مرۍ کې مې نل تېر و. په دواړو لاسونو مې ستنې لګېدلې وې. د سیروم کڅوړه مې سر ته ځړېدله. سترګې مې بېرته سره ورغلې.

بل ځل چې راویښ شوم، ستمی مې کېده. ساه مې ډوبه وه، خو د هډونو دردونه مې کم شوي وو. یو ډاکټر لګیا و ستن یې رالګوله. داسې شی یې اغوستی و چې له پښو تر سر پورې ټول بدن یې په کې پټ و. پر خولې او پوزې یې سپین پېړ ماسک لګولی و او مخ یې له تندي تر زنې پورې په یوه روښانه پلاستیک پوښلی و.

لاسونه مې وچ شوي وو. لاس مې لږ وښوراوه. ډاکټر را وکتل. بل ته یې نارې کړې: متخصص صیب! ناروغ په سد شوی.

دوه نور ډاکټران رانژدې شول. هغوی هم همداسې له سره تر پښو پورې په جامو او ماسک داسې پټ وو چې هېڅ فرق یې سره نه کېده. یوه یې وویل: مولانا صیب! څنګه یې؟

غږ یې راته آشنا و، خو مخ یې نه را معلومېده چې څوک دی.
هڅه مې وکړه چې څه ووایم خو نه کېده. مرۍ ته مې د خولې له لارې د هوا نلکی تېر شوی و. ژبه مې نه شوای خوځولی. د سر په اشاره مې ډاکټر پوه کړ چې ښه یم.
ډاکټر وویل: مولانا صیب! ځان مه په عذابوه. آرام وکه. انشا الله چې زر به ښه شې. اوس شکر له خطره بچ شوی یې.
د ورځو شپو حساب رانه ورک و. کله کله به ویښېدم خو اکثره وخت به ویده وم. په داسې کوټه کې پروت وم چې یو دوه ډاکټران به هر وخت په کې وو او پر ناروغانو به گرځېدل. نور ډاکټران به هم په ورځ کې پنځه شپږ ځله راتلل او ناروغان به یې کتل.



بله ورځ ډاکټرانو له مرۍ نه مې هغه نلکۍ وایست او بیا یې په پوزه کې راته د آکسیجن پیپ ولګاوه. وار په وار سره ښه کېدم. ساه بندي مې ډېره کمه شوې وه. دردونه نه وو، خو ډېر بې سېکه شوی وم.
په دې دومره وخت کې مې د کورنۍ هېڅوک نه وو لیدلي. څوک یې نه پرېښودل چې دې کوټې ته راننوځي. یوازې مریضان او ډاکټران به په کې وو.
هماغه ډاکټر، چې غږ یې را ته آشنا ښکارېده، هره ورځ به یې زما خاصه پوښتنه کوله. ویل به یې: «مولانا صېب! څه تکلیف خو به نه وي؟ خدمت ښییه!»
له هغه وخته چې ساه بندي مې کمه شوې وه، نورو ډاکټرانو څو وارې وویل چې دا ناروغ اوس ښه دی، وارډ ته به یې بوځو، خو ده به ویل چې نه، یوه دوې ورځې دې هم دلته وي چې ښه مطمین شو.
بله ورځ یې له دې کوټې وایستم. بلې کوټې ته یې یوړم. ګړۍ نیمه وروسته دوه ډاکټران راننوتل. یوه یې وویل: دادا! شکر چې ښه شوې.
اوه! دا خو مې زوی و. هغه هم د ډاکټرانو غوندې له سره تر پښو پورې په سپینه دریشۍ کې پټ و او مخ یې هم په ماسک او پلاسټیکي مخ پټوني پټ و.
د هغه په لیدو سخت خوشحاله شوم. د هغه په سترګو کې هم دومره زیاته خوښي ښکارېده لکه له ډېر خطرناکه سفر چې بېرته راستون شوی یم، لکه د ښامار له خولې چې راګرځېدلی یم.
زوی مې بیا وویل: دادا! شکر چې ښه شوې. زموږ خو تمه ختلې وه خو خدای جوړ کړې، دغه ډاکټر جوړ کړې.

ډاکټر وویل: حقیقي شافي خو الله دی، موږ یوازې وسیله یو.
ډاکټر هماغه د آشنا غږ والا و. سر مې لږ پورته کړ چې ښه ورته وګورم، ګوندې له سترګو نه یې وپېژنم. ومې لیدل چې پر ټټر یې په قلم لیکلي دي «ډاکټر کمال».
ټول زما په رغېدو خوښ وو خو زه سخت زهیر وم. هر ځل به مې چې ډاکټر کمال لیده، خپلې خبرې به مې رایادې شوې چې ویلې مې وو: مسلمان ته د مرض سرایت نشته. که په مسلمان دا مرض ولګېد، نو هغه به یا سخت ګناهکار وي یا به یې په ایمان کې شک وي.



هر دم به مې په زړه کې تېرېدل چې ډاکټر کمال به پیغور راکړي او وبه وايي چې ښه نو ستا په ایمان کې شک دی، که سخت گناهکار یې؟




# تش بسترونه

یو دم لېونی شو. خولۍ یې پر ځمکې وویشته. خوله یې خلاصه کړه. دارې یې داسې را وښودې لکه لېوه چې پر چا حمله کوي. ویې ویل: قسم دی، چک به درباندې ولگوم.
د ځانمرگي غوندې یې رامنډه کړه. له گردیزه راغلي هئیتان ټول وتښتېدل. هر چا د نژدې دفتر وره ته ورمنډې کړې. یوازې زه پاتې شوم او هغه لېونی. ساتونکي مې رامخته شول. ناره یې پرې وکړه چې ودرېږه!
خو هغه زما خوا ته روان و.
ساتونکو مې پرې چیغه کړه: ودرېږه!
خو په چا یې اورې. په همدې وخت کې مې یو عسکر له څټه په لغته وواهه. سرې پړ مخې ولوېد. ساتونکو مې د هغه لاسونه ور وتړل او راپورته یې کړ.
د پکتیا د صحت عامې رییس او د کورونا روغتون مسؤل له نورو ملگرو سره بېرته له دفترونو راووتل.

سړی مو د هغه د کورنۍ له درېو نورو غړیو سره، چې ټول په کورونا اخته وو، په وچ زور موټر ته وخېژول او ګردیز ته مو ولېږل.
جالبه دا وه چې دا سړی پخپله هم ډاکټر و، د اعصابو ډاکټر. یوه اونۍ مخکې خبر راورسېد چې د دوی په کور کې د کورونا دوه ناروغان دي. یوه ورځ په خپل دفتر کې ناست وم چې د ځمکنیو د ولسوالۍ د صحت عامې آمر راته راغی او ویې ویل: ولسوال صاحب! د ډاکټر عاقل په کور کې د کورونا ناروغان دي. ما نفر ورولېږه چې ناروغان کلینیک ته راولئ خو ویې نه منله. که دا ناروغان قرنطین نه کړو، ناروغي به یې نورو ته سرایت وکي. ما ویل زما په خوله به را نه شي نو ته هم راسره لاړ شه چې کلینیک ته یې راولو.
د صحت عامې آمر، امنیه قومندان او د امنیت آمر مې راسره ملګري کړل. په موټرو کې کېناستو، لس دقیقې مزل مو وکړ. د سړي کور ته ورسېدو.
ور مو وټکاوه. پخپله ډاکټر عاقل راووت. سترګې یې رډې راختلې وې. بې له دې چې سړي مه شي راکړي، ویې ویل: خیر خو به وي؟
د صحت عامې آمر ورته وویل چې موږ په ناروغانو پسې راغلي یو چې قرنطین یې کو.
هغه وویل: قرنطین مرنطین نه غواړي. موږ پخپله ډاکټران یو. همدلته په کور کې به یې علاج وکو.
د صحت عامې آمر وویل: ګوره ډاکټر صاحب! ته خو پوهېږې چې په کور کې د قرنطین شرایط سل په سلو کې نه عملي کېږي. خپل خپلوان به مو تګ راتګ کوي، ناروغي به په ټوله ولسوالۍ کې خپرېږي. همدا یې سر وخت دی. چې دوی قرنطین کو، نور به بې

غمه وي.
سړي وویل: دا زه درته ډاکټر نه ښکارم که څنګه؟ په قرنطین یوازې ته پوهېږې که موږم پوهېږو؟ ځغلئ چې بیا دې خوا ته رانشئ.
ما ورته کړه: ډاکټر صاحب! زه مو په دې ډاکټري خبرو نه پوهېږم خو حکومت راته ویلي چې که څوک په خپله خوښه قرنطین نه مني، په زور به یې ورباندې منئ. نو غوټه چې په نوک خلاصېږي، خولې ته څه حاجت. پخپله شکر پوی سړی یې، ډاکټر یې، په ښه او بده تر ما ښه پوهېږې، نو خدای ته وګوره خبره ومنه.
سړي لوی اسویلی وکېښ، ویې ویل: بس نو چې زه پوهېږم، مریضان مې همدلته په کور کې ساتم. ځئ! مخې ته مو ښه شه.
فکر مې وکړ چې له دې سړي سره نه کېږي. ملګرو ته مې وویل: درځئ!
بېرته ولسوالۍ ته راغلو.
یوه اونۍ چې تېره شوه، خبر شو چې ډاکټر عاقل پخپله هم اخته شوی. په کور کې یې څلور نارینه او څلور پنځه زنانه ټول په کورونا اخته شوي وو. دا خبر ګردېز ته هم رسېدلی و. د پکتیا د صحت عامې رییس د پکتیا د کورونا روغتون له مدیر او څو نورو کسانو سره پخپله راغلي وو چې دا ناروغان بوځي. ډاکټر عاقل ته یې نفر استولی و چې د صحت عامې کلینیک ته دې راشي. هغه له دریو زامنو سره راغلی و.
د صحت عامې آمر راته ټېلفون وکړ چې ډاکټر عاقل خو د چا خبره نه مني، که تکلیف نه وي یو وار کلینیک ته راشه.
ورغلم. ګورم چې ډاکټر سخت پارېدلی دی. ما ورته کړه چې وه ډاکټر صاحب ولې وچ په وچه لانجه جوړوې. ګوره د صحت عامې

رییس صاحب ان له ګردېزه درپسې راغلی. حکومت څومره ستاسو غم کیي او تاسې بیا څه کیئ.
خوله یې خلاصه کړه. حکومت ته یې هم زیاړې وکړې، د صحت عامې رییس ته هم.




ورته وبربړدم: غلی! یا به سم سړي غونډې پخپله ورسره ځې، یا به دې په زور بیایو.
هماغه و چې سړی لېونی شو او ویې ویل: عبدالرحمانه! ولله که مې ستا پلار هم بوځي. قسم دی، چک به دربانډې ولګوم.

***

له دې پېښې نه دوه میاشتې مخکې په ولایت کې جلسه وه. ټول ولسوالان یې ورغوښتي وو. ټولو ماسکونه اچولي وو او د جراحۍ دسکشونه یې په لاسو کړي وو. څوکۍ یې له یو بله دوه دوه متره لرې ایښې وې. والي وویل چې هر ولسوال دې د خپلې ولسوالۍ د صحت عامې د آمر په مشوره لازم تدابیر ونیسي.
هاغه مهال لا په ټوله پکتیا کې کورونا نه وه. ولسوالۍ ته چې راغلم، د صحت عامې له آمر سره یوه هفته هره ورځ په کار لګیا وم. په کلینیک کې مو دېرش بستره د کورونا ناروغانو ته بېل کړل.
د صحت عامې آمر وویل: که خدای مه کړه کورونا دلته خپره شي، دېرش بستره به کم وي. دا داسې بلا ده چې د اور غونډې خپرېږي. لکه په ځنګله چې اور ولګېږي، وچ او لانده له یوې مخې سوځوي.
ومې ویل: نو ستا څه رایه ده؟ څه باید وکو؟
ویې ویل: نور نو نه پوهېږم خو ځای مو کم دی.
د لیسې تعمیر نوی جوړ شوی و. شاګردان خو هسې هم رخصت وو. د صحت عامې آمر مې وروست. ورته کړه مې چې که دلته یو څو کوټې درکم، بیا نور شیان ته ورته برابرولی شې؟
هغه وویل: هو. نور کارونه یې ما ته پرېږده.

د صحت عامې آمر به له سهاره تر ماښامه په منډو وو. يو شی
له گردېزه راوړه، بل له کابله. يوه چارواکي ته ټيلفون وکړه، بل ته






زنگ ووهه. پخپله به یې د کلینیک له نورو ډاکټرانو سره لکه پنډیانو چپرکټونه نیولي وو او د لیسې تعمیر ته به یې وړلې. کله کله به زه هم مرستې ته ورتلم.
چپرکټونه، د آکسیجن بالونونه، د سیروم کځوړې او پایې او ډېر نور شیان یې په ټولگیو کې داسې ایښي وو چې سم دم د روغتون غوندې ښکارېدل. خو په لیسه کې اوبه نه وې. کمال خان ته مې د اوبو خبره وکړه. هغه په یوه مؤسسه کې کار کاوه چې کلیوالو ته به یې څاگانې کېندلې او بمبې به لگولې وې. اوس نو مؤسسې کار نه کاوه خو د کار وسایل یې د کمال خان په کور کې ایښي وو.
هغه کوبه او ماشین او نور شیان یې په موټر کې واچول او لیسې ته یې راوړل. اوس هر څه وو خو داسې کس نه و چې برمه وهل یې زده وي. کمال خان غریب ان گردېز ته ورپسې ولاړ. ما د ولسوالۍ موټر ورکړ چې په لاره کې یې څوک مخه ونه نیسي.
ښه وه چې په گردېز کې یې سړی پیدا کړی و. په درېو ورځو کې څا وکیندل شوه. نلونه او واټر پمپ د گردېز یو تاجر راته واخیستل. کوټو او تشنابونو ته مو نلونه تېر کړل. تشنابونو ته سپټیک څا په کار وه او مور ورته حیران چې پیسې له کومه کړو.
یو څو ورځې چې تېرې شوې، له کورونا سره د مبارزې تخصیص راغی. د پیسو ستونزه هم حل شوه. تشنابونو ته مو سپټیک څا جوړه کړه.
دېرش بستره په کلینیک کې او پنځوس نور مو په لېسه کې تیار کړل. مور ډېر خوشحاله وو چې پوره چمتو وو چې که خدای مه کړه د کورونا وبا څمکنیو ته راشي، نو مور به د ناروغانو خدمت کولی شو.

خو ته پوهېږې! بسترونه هماغسې تش پاتې شول. ان يو نفر هم په کې بستر نه شو. خبره دا نه وه چې په څمکنيو کې څوک په کورونا اخته نه شول. ډېر خلک پرې اخته شول، خو څوک له شرمه کلينيک ته نه راتلل. ويل به يې چې که خپل پردی مو خبر شي، بيا به پيغور راکوي. چا په کور کې ځان پټ کړی و، څوک گردېز ته تللي وو او هلته يې ځان بستر کړی و او ځينو خپل ناروغان ان کابل ته بېولي وو. دوی دا دومره ستونزې په ځان منلې خو د ولسوالۍ کلينيک ته نه راتلل چې کليوال پرې خبر نه شي چې په کورونا اخته شوی.


د جلال آباد حرنغي ررغتون

# توپیر

څلور ورځې یې په کور کې تېرې کړې خو تکلیف یې وار په وار سره زیاتېده. په اول سر کې یې ګومان کاوه چې د نور کله غوندې زوکام به وي. د زوکام غوندې یې پوزه بهېده، ستونی یې خوږېده او نرۍ



تبه یې وه. خو په درېمه ورځ ساه لنډي هم ورته پیدا شوه او اشتها یې ختمه شوه.
مېرمن یې وویل: سړیه! داسې خو نه جوړېږې، لږ ډاکټر ته ورشه چې سم علاج دې وشي.
ده په زګېروي وویل: کوم ډاکټر؟
ټوخي واخیست. سر یې له بالښته پورته کړ. پنځه شپږ وارې یې پر له پسې وټوخل. بیا یې خپله خبره وغځوله: چې کلینیک ته لاړ شې، ډاکټران یا لډو کوي یا قطعې. ولله که در ته وم ګوري.
مېرمن یې وویل: نو څه کوې؟ ورځ تر بلې دې حال لا پسې خرابېږي.
عبدالرحمن کېناست. څو شېبې یې سر ځړېدلی و. تېزه تېزه ساه یې اخیسته. کمپله یې د پښو له سره لرې کړه. لاسونه یې پر ګونډو کېښودل او په کراره پاڅېد.
د غره په ډډه د څېړیو او نښترو د ګڼو ونو په منځ کې د ډبرین کور ور خلاص شو. عبدالرحمن چې په کمپله کې یې ځان پېچلی و، راووت. په پښو کې یې د څرمنو داسې موزې وې چې تر زنګنو پورې یې رسېدې.
عبدالرحمن ورو ورو راکښته شو. پر نري لرګین پله له سینده پورې شو. د سیند په غاړه کې مخ په کښته روان شو. شل دقیقې مزل یې وکړ. د سپینو دېوالونو یو پوړیز تعمیر مخې ته ودرېد. د تعمیر پر دېوال لیکل شوي وو «د برګ متال کلینیک». نور کله به یې دغه لاره په لسو دقیقو کې وهله، خو اوس یې زور ختلی و.
کلینیک درې کوټې لرلې. په یوه کوټه کې دوه کسان سره مخامخ پر غولي ناست وو او تر منځ یې د لډو د لوبې تخته وه. دواړه په کمیس

پرتوگ کې وو، پکول خولۍ يې په سرونو او بږيرې يې تر يوې قبضې اوږدې وې.
عبدالرحمن وويل: ډاکټر صاحب! ته خو مې لږ وګوره چې کورونا خو به نه يم. ټول بدن مې خوږېږي، ساه مې بندېږي.
ټوخه، ټوخه، ټوخه ويې ټوخل.
ساه يې سمه کړه، بيا يې وويل: هېڅ کله داسې نه وم ناروغ شوی.
په لوبې بوخت يو کس پاڅېد. له الماری څخه يې يو پاکټ ګولۍ را واخيسته. پاکټ يې سرې ته ونيو، ويې ويل: هه! دا درواخله. درې وخته يې خوره، ښه به شې.
عبدالرحمن پاکټ واخيست. مخ او څټ يې په لاس کې واړاوه را واړاوه. ويې ويل: کورونا
ډاکټر يې خبرې پرې کړې: کورونا له کومه شوه. کورونا دلته څه غواړي. ځه له خيره.
ډاکټر بېرته په لوبه بوخت شو.
عبدالرحمن څو شېبې ځای پر ځای ولاړ و. بيا يې مخ واړاوه او له کلينيکه ووت.
هغه بېرته کور ته ولاړ. څنګه چې کور ته ننوت، مېرمنې ته يې وويل: هسې دې لالهانده کړم. ما خو درته ويل چې د چا غم نه کوي.
مېرمن يې وويل: خدای دې انصاف ورکړي. خير دی، راځه وغځېږه.
زه به اَشتکه او خوبانی درته تيار کړم. خدای به دې ښه کړي.
ده وويل: سمه ده، خو ګوره دا واړه رانه لرې ساته. پخپله هم مه رانژدې کېږه.
څو وارې يې تېزه تېزه ساه واخيسته، بيا يې وويل: هسې نه چې خدای مه کړه تاسې ونيسي.


عبدالرحمن څو ورځې په کور کې پروت و. د درد او تبې ګولۍ به یې خوړلې او وطني دارو درمل به یې هم خوړل. مېرمن به یې کله پیتي، کله یخني او کله ښوروا ورته پخوله او د بوټو جوشانده به یې ورته جوړوله. سړی ورو ورو ښه کېده.
د ناروغۍ پنځمه ورځ یې وه، د مازدیګر لمونځ لا نه و قضا شوی چې یو کلیوال یې کور ته راغی.
هغه وویل: خیر خو به وي، جومات ته ولې نه راځې؟
سړي وویل: ناروغ یم. ما ویل هسې نه چې نور هم زما ناروغي ونیسي. په راډیو کې خو وایي چې خلک دې لمونځونه په کور کې کوي چې په کورونا اخته نه شي.
ګاونډي وویل: دا هسې خبرې دي. دلته خو ټول خلک لمونځونه په جماعت کوي. کورونا مورونا نشته.
څو ورځې وروسته، عبدالرحمن ښه شو او جومات ته ولاړ. جومات له لمونځغاړو ډک و.
په برګ متال کې، بلکې د نورستان په هره ولسوالۍ کې هر څه د نور کله غوندې وو. د خلکو مجلسونه، د جماعت لمونځونه، د ماشومانو لوبې، په جوماتونو او مدرسو کې د ماشومانو سبقونه د پخوا په شان روان وو. خو یو شی بدل و. هره ورځ په هر کلي کې دوه درې نوي کسان په ناروغۍ اخته کېدل.
میاشت وروسته د عبدالرحمن ماما هم په کورونا اخته شو، هغه د عبدالرحمن غوندې ښه بخت نه درلود چې په څو ګولیو او جوشاندو سره دې ښه شي. تکلیف یې وار په وار سره زیاتېده. ساه یې بندېده او سینه یې نیولې وه.
عبدالرحمن او د ماما زوی یې په دې سلا وکړه چې ناروغ به جلال

آباد ته وړي.
لمر لا نوی څرک وهلی و چې عبدالرحمن یو سراچه موټر راوست. د شا د سیټ تکیه یې را قاته کړه چې له څوکۍ سره سمه هواره شي. د سراچې ډاله یې خلاصه کړه او کور ته ننوت. یوه کمپله یې راغبرګه کړه او پر غولي یې هواره کړه. ناروغ یې په څلورو کسانو له لاسونو او پښو ونیوه او پر کمپله یې کېښود. څلورو کسانو د کمپلې څلور کونجونه ونیول او د «یا الله» په ویلو سره یې راپورته کړه. په احتیاط سره یې ناروغ له کوټې وایست.
لاره اوږده او په ډېرو ځایونو کې سړک خام و. د موټر ټېرونه چې په هر کند او کپر برابرېدل، د موټر د جمپنونو او دروازو کړپا به د ناروغ له زګېروي سره یو ځای پورته کېده.
د ماسپښنین اذان چې وشو، چغه سرای ته ورسېدل. موټروان وویل: خوراک موراک به کوو که څنګه؟
عبدالرحمن چې د موټروان په څنګ کې ناست و، اورمېږ یې تاو کړ. د ماما زوی ته یې وکتل او ماما یې هم تر نظر تېر کړ.
د ماما زوی یې هم پلار ته وکتل، ویې ویل: اوس خو آرام دی. له دې وروسته خو لاره هم ښه ده نو انشا الله چې په وخت به ورسېږو. ډوډۍ به وخورو او لمونځونه به وکړو، بیا به له خیره رهي شوو.
موټر د سړک څنډې ته ودرېد. موټروان او عبدالرحمن کښته شول. په څادر یې خپل کالي وڅنډل. دوړې ورنه پورته شوې.
د ماما زوی یې وویل: اول تاسې ډوډۍ وخورې، زه به بابا سره پاتې شم. ته چې راغلې، بیا به زه لاړ شم.
موټروان وویل: ډوډۍ موډۍ نشته. دلته خو قرنطین دی، هوټلونه بند دي. په ټول بازار کې یوازې د پرچون یو څو دوکانونه خلاص

دي. څه بسکېټ مسکېټ او جوس به واخلو، بېرته به راشو.
څه کم نيم ساعت وروسته موټر بېرته روان شو. لاره هواره، سړک پوخ او ناروغ آرام و.



عبدالرحمن وویل: هی هی! چې د ولسوالۍ سړک مو هم همداسې
وای، څومره خوند به یې کړی و.
موټروان اسویلی وکېښ، ویې ویل: عبدالرحمانه! څه ووایم؟ تاسو
ته به بې انصافه ښکارېږم چې کرایه مې زیاته اخیستې خو قسم دی،
هره پېره چې وهم، د موټر یو نه یو ځای خامخا خرابېږي. په کچه
لاره کې د تېلو مصرف هم یو په دوه شي. نو چندانې پیسې والله که
را ته پاتې شي.



د ننګرهار پولې ته چې ورسېدل، په پاټک کې يې موټر ودراوه. موټروان او عبدالرحمن کښته شول. يو کس چې له سره تر پښو پورې په سپينه کڅوړه کې پټ و او ماسک يې اچولی و او عينکې يې پر سترګو وې، راوړاندې شو. په لاس کې يې د تمانچې غوندې پلاستيکي شی و. دوه ګامه لرې ودرېد او هغه د تمانچې غوندې وسيله يې د عبدالرحمن تندي ته ونيوه چې تبه يې معلومه کړي. دوه درې ثانيې وروسته يې وويل ځه. بيا يې د موټروان تبه وکتله. ويې ويل: ځئ له خيره.

دوی چې موټر ته وختل، د ماما زوی له عبدالرحمن څخه پوښتنه وکړه: څه يې ويل؟

عبدالرحمن ځواب ورکړ: هېڅ. پوه نه شوم چې څه يې کتل.

موټروان وويل: په هغه بلاګۍ د خلکو تبه معلوموي چې کورونا نه وي.

عبدالرحمن وپوښتل: که د چا کورونا وي نو بيا؟

موټروان ځواب ورکړ: بيا يې نه پرېږدي چې جلال آباد ته ورشي.

عبدالرحمن په خندا وويل: ښه يې ويلي دي چې د دولت يوه سترګه ړنده ده. مور روغ کسان يې وکتلو خو ناروغ ته يې پام نه شو.

ټولو وخندل.

جلال آباد ته ننوتل، ښار داسې غلی و لکه مړستون. سړکونه تش وو. نه د ريکشو هغه غر و غور و، نه د سړک په غاړو کې د خرڅوونکو شور ماشور. موټرونه هم خال خال تر سترګو کېدل.

ناروغ يې د کورونا روغتون ته يووړ. ډاکټر چې څنګه ناروغ معاينه کړ، ويې ويل: لږ نور به مو هم صبر کړی و، بيا به مو راوسته!

عبدالرحمن د ماما زوی ته وکتل. د هغه په سترګو کې ناهيلي

ښکارېده.
عبدالرحمن وويل: ډاکټر صيب! ان د برگ مټال نه راغلي يو. هيله مو خداى ته ده او تا ده.
ډاکټر وويل: موږ به خپله بنده‌گي وسه کوو، خو د مريض وضعيت مو ډېر خراب دی. گورو به چې به د خداى څه خوښه ده.
ناروغ يې عاجل اتاق ته يووړ.
شېبه وروسته يوه صفاکار نسخه راوړه، ويې ويل: دا دوايي له بازاره راوړئ.
عبدالرحمن نسخه ترې واخيسته. د ماما له زوى سره روان شو.
لس پنځلس دقيقې وروسته يې دوايي راوړه.
صفاکار له لرې ورباندې غږ وکړ: ناوخته مو کړ.



## د ښې غوښې ښه ښوروا

*(بو حکایه لغمان ولایتی یشاووچیلریدن سیاوش ننگیال بیلن اۉتکزیلگن صحبت اساسیده یازیلدی)*

اې ښکاري آشنا درته سلام کوم
پام کوه ماشې ته گوتې مه وروړه
دا شعر د اسحق ننگیال دی. اسحق ننگیال د پښتو ژبې نوښتگر تکړه شاعر و. هغه به په خپلو شعرونو خلک سولې، خواخوږۍ، او انساني ژوند ته رابلل.
سیاوش ننگیال، د ارواښاد اسحق ننگیال زوی دی. هغه یو وړوکی گرځنده کتابتون جوړ کړی و. یو صندوق یې د بایسیکل پر کنجوغې تړلی و او د ماشومانو لپاره یې کتابونه، کتابچې، قلمونه او مجلې

په کې اچولي وو. هغه د لغمان، ننگرهار، کونړ او نورستان پر کليو گرځېده. په وړو لوډسپيکرونو به يې خبرې کولې او په خوږو جملو به يې ماشومان تعليم او زده‌کړې ته هڅول. پر کليوالو ماشومانو به يې د کيسو او شعرونه کتابونه، کتابچې او قلمونه وېشل. ځينې خوندورې کيسې به يې ورته لوستلې او هڅه به يې کول چې هغوی تعليم ته رامات کړي.

کورونا چې راغله، فکر يې وکړ چې خپل خلک د کورونا په خطرونو او د مخنيوي په لارو چارو يې څنگه خبر کړي. څه معلومات يې چې له رسنيو او انټرنټ څخه پيدا کړي وو، ويې ليکل. لنډ لنډ پيغامونه يې ورنه جوړ کړل او په خپل غږ يې ثبت کړل. د خپل گرځنده کتابتون صندوق يې خالي کړ. بيا يې يو صابون، چليمچي او لوټه (بدنۍ) په



کې کېښودل. نیت یې وکړ چې کلي په کلي به گرځي او خلکو ته به معلومات ورکوي.
د یونیسیف مؤسسې دفتر چې د سیاوش په پلان خبر شو، د همکارۍ لاس یې ورکړ. دې مؤسسې د کورونا د مخنیوي په اړه بروشرونه، سټېکرونه او پوسټرونه ورکړل.
سیاوش د سفر موزې په پښو کړې او له کوره ووت. پر بایسیکل یې پښه واړوله. د مهترلام ښار له شاوخوا کلیو یې پیل وکړ. لومړي کلي ته چې ورسېد، په لوډسپیکر یې ثبت کړي پیغامونه چالان کړل:
کور پاتې شئ، روغ پاتې شئ!
کورونا وژونکې ناروغي ده!
لاسونه بار بار ومینځئ چې کورونا مو ونه نیسي!
د کلي ماشومان ترې چاپېر شول.
یوه وویل: بیا دې کتابونه راته راوړي دي؟
ده ځواب ورکړ: نه، خو داسې څه مې راوړي چې گټه یې تر کتاب کمه نه ده.
له صندوق څخه یې صابون، چلیمچي او لوټه را وایستل. د جومات له بمبې څخه یې لوټه ډکه کړه. ماشومانو ته یې وویل: د لاسونو د مینځلو سمه طریقه د چا زده ده؟
ماشومانو یو بل ته سره وکتل. یوه نري ډنگر هلک چې تر نورو مشر ښکارېده، لاس جگ کړ، ویې ویل: زما زده ده.
سیاوش صابون ورته ونیو: هه! صابون درواخله.
ده د هلک پر لاسونو اوبه واچولې. هغه صابون پر لاسونو وموښه. یو دوه وارې یې لاسونه پر یو بل وسولول او بیا یې سیاوش ته وکتل.
سیاوش پوه شو چې د هلک مطلب دا دی چې نور نو بس دی، اوبه

راواچوه.
سیاوش وویل: نه، دا یې سمه طریقه نه ده.
ماشومانو په تلوسې سره سیاوش ته کتل.
سیاوش صابون را واخیست. د لاسونه مخ، شټ، د ګوتو سرونه او نوکان یې ښه څنډ ومینځل او بیا یې د یوه لاس ګوتې د بل لاس د ګوتو تر منځ تېرې بېرې کړې. په دې ترڅ کې یې په مدار سره حساب کاوه: یو – دوه – درې ... شل.
ماشومانو ته یې وکتل. موسکی شو. ویې ویل: شل مې کړل که نه؟
ټولو وخندل.
ده وویل: لاسونه به په همدې طریقه بار بار مینځئ. د چا زده شوه؟
پر څو ماشومانو یې د لاسونو د مینځلو طریقه تمرین کړه. بیا یې ورته وویل: آفرین! تاسې چې کورونو ته ولاړئ، نورو ته هم دا طریقه ورزده کړئ. ګورئ! که چا ته تبه، ټوخلې، او زوکام پیدا شو، تاسې به ورنه لرې ګرځئ. کله چې ټوخېږئ یا پرنجېږئ، لاس مو له څنګله قات کړئ او داسې یې د خپلې خولې او پوزې مخې ته ونیسئ.
بیا یې د پرنجېدو تمثیل وکړ: اچچچچې!
او د ښي لاس څنګل یې د پوزې او خولې مخې ته ونیو.
ماشومانو وخندل. یو بل ته یې سره وکتل. بیا ټولو د سیاوش پېښې وکړې. هر چا به ویل: اچچچچې!
او له دې سره به یې څنګل خولې او پوزې ته پورته کوله.
سیاوش وویل: آفرین! اوس نو تاسې کورونو ته لاړ شئ. زه به بل کلي ته لاړ شم.
ده ماشومانو او ماشومانو ده ته د مخه ښې لپاره لاس وښوراوه او ټول سره خپاره شول.



ده خپل اوږد سفر د لغمان له دې کلي څخه پیل او د نورستان په یوه کلي کې یې ختم کړ. خو د معلوماتو ورکول په هر ځای کې داسې آسانه نه وو. په ځینو کلیو کې به یې چې څنګه په لوډسپیکر پیغام چالان کړ، سپین بږیري او ځوانان به راووتل او ده چې به د کورونا نوم یاد کړ، هغوی به ویل: څه ورځه! کورونا دلته څه بلا غواړي؟ کورونا خو د کفارو او مرتدانو لپاره ده.

یوه ورځ له همداسې کلي څخه په وتو و چې چا غږ کړ: اې وروره! لږ ودرېږه.

ده شا ته وکتل. د دېرشو یا پنځه دېرشو کالو سړي په پټو کې ځان پېچلی او مول یې وهلی و.

سیاوش ودرېد.

سړی رانژدې شو خو پنځه شپږ ګامه لرې ودرېد. ویې ویل: وروره! که کورونا په چا پورې شوې وي، نو هغه دې بیا څه وکي؟ څه وخوري، څه ونه خوري؟ څه ورته ښه دي؟

ده وویل: په کور کې مو څوک مریضان شوي که څنګه؟

سړي شاوخوا ته وکتل، په ټیټ غږ یې وویل: نه، پخپله زه یې نیولی یم. خو ګوره، ته و خدای که چا ته به حال وایې! که خلک خبر شي، وایي به چې دا سړی مرتد دی چې کورونا نیولی. دلته یې ډېر خلک نیولي دي، خو څوک هم له ډاره حال نه وایي.

سیاوش ورته معلومات ورکړل چې له نورو دې ځان لرې وساتي، سابه او مېوه دې ډېره خوري، چای او ګرم مایعات یې ډېر څښبي او که ساه لنډي ورته پیدا شوه، روغتون ته دې لاړ شي.

میاشت وروسته د همدې کلي له څنګه تېرېده. پنځوش شپېته تنه په هدیره کې راټول وو. پر یوه کټ جنازه ایښې وه. په هدیره کې ډېر

قبرونه نوي ښکارېدل. قبرونه د پخوا په نسبت دوه چنده زیات شوي وو.
په بل کلي کې ده لا خوله خبرو ته نه وه جوړه کړې چې یوه سړي وویل: ته خو خپل ډالر اخلې، خو زموږ خلک مه بې لارې کوه!
دا لا څه کوې چې د نورستان یوه کلي ته چې ورسېد، ژمی و او ښه ډېره واوره شوې وه. یوه سپین ږیري ورته وویل: که مې بیا دلته ولیدې، په همدې واورو کې به دې منډم. څه رنګ دې ورک کړه چې بیا را نه شې!
خو په دې سفر کې جالبې پېښې هم کمې نه وې.
یوه ورځ سیاوش له لغمانه د جلال آباد خوا روان و چې ګوري ډېرې کډې را روانې دي. چا نه یې پوښتنه وکړه چې دا خلک چېرته ځي؟
هغه وویل: دا خلک له کابله راغلي دي. خلک وایي چې کورونا ګرمو ځایونو ته نه شي راتلی، نو اوس خلک له کابله دې خوا ته کډې راوړي.
بل ځل یې یوه ډله خلک ولیدل چې په کلي کې چېرته روان دي. ده پوښتنه وکړه چې خیر خو به وي، په دې قرنطین کې چېرته روان یئ؟ خدای مه کړه څوک مړ شوی دی، که څنګه؟
یوه ځوان ورته وویل: زموږ کلي ته اوبه بندې دي. څو سر بند ته چې اوبه را خوشې کړو چې خلک خپل پټي اوبه کړي. د خلکو کورونو ته به هم په لښتیو کې اوبه روانې شي.
سیاوش ولیدل چې نور موسېږي.
بل یې وویل: دی هسې درسره ګپ لګوي. موږ څو چې معلم ګل آغا کورونا نیولی.
سیاوش ورته کړه: نو تاسې ولې ورځئ؟ تاسې خو باید ځان ترې

وساتئ؟ که یې پوښتنه کوئ نو په ټېلېفون یې پوښتنه وکړئ.
هغه وویل: موږ یې سیل ته ځو چې وګورو د کورونا مریض څنګه وي.
داسې کلي هم وو چې په اول سر کې به یې کورونا بېخي نه منله. دا یې د کفارو توطیه بلله خو بل وخت به له کورونا داسې ډارېدل چې ان د نژدې خپلوانو جنازې ته به هم څوک نه تلل او په هره جنازه کې به ایله لس پنځلس تنه وو، ځکه چې په هره کوڅه کې یې درې څلور تنه وژلي وو. خلکو به ځانونه په کورونو کې پټ کړي وو او په کلي کې به ان پشکه هم نه لیدل کېده، خلک خو لا څه کوې.
سیاوش ننګیال ستونزې وګاللې، خپل وخت او انرژي یې په دې ولګوله چې خلک د کورونا په خطرونو خبر کړي او وېې پوهوي چې څنګه ځان ترې وساتي. څنګه چې پلار یې د انسانانو خواخوږی و، زوی یې هم و. خلکو هسې نه دي ویلي چې د ښې غوښې ښه ښوروا وي.



## خواله

*(بو حکایه نورستان ولایتی کامدیش تومنی دکاندارلریدن عبدالرحمان بیلن اۋتکزیلگن صحبت اساسیده تیارلندی)*

درملتون والا د بېلونو کتابچه او قلم راوخيستل. د بېل په سر کې د درملتون نوم ليکل شوی و، بيا د مشتري د نامه او د نېټې ځای و، بيا شمېرې او مخې ته يې خالي خانې، د بېل د لاندې برخې په يوه څنډه کې ليکل شوي وو، پته: جلال آباد .... مارکېټ او په بله څنډه کې يې ټېلېفون شمېرې.

درملتون والا د ویټرین هغې برخې ته شو چې د حساب ماشین ورباندې ایښی و. د ویټرین مخې ته ولاړ سړي ته یې وکتل. پوښتنه یې وکړه: د چا په نوم یې ولیکم؟
سړي د اوښ له وړیو جوړ شوی پکول پر خپل سر سم کړ، ویې ویل: عبدالرحمن.
درملتون والا وویل: ښه نو یو دې د سر درد گولۍ غوښتې، نورې د څه شي؟
- د ملا د درد، د گېډې د درد، د زوکام، مممممم د کانگې، د معدې.



لس لس قوتۍ.
درملتون والا د درملو نومونو په پښتو لیکل، پېراسیټامول، بروفین، کفکول ...
لست چې پوره شو، څنګ ته یې ولاړ زلمکي ته ورکړ. ویې ویل: دا شیان راواخله. هلک د درملو په راخیستلو لګیا شو. یو درمل له یوې الماری، بل له بلې.
درملتون والا د ویټرین له شا راووت. د شودو چایو پیاله یې پر پلاسټیکي مېز کېښوده. ویې ویل: راځه ماما! دا چای وڅکه، هلک به



دوايي را واخلي.
عبدالرحمن د مېز خوا کې پر پلاستيکي څوکۍ کېناست، ويې ويل: خير يوسې!
درملتون والا وويل: تم خير يوسې. ته کينه کنه چې لږ خواله وکو. ښه نو، تا ويل چې دوايي کامدېش له وړې؟
- هو. داسې وکه چې دوايي راته تيار کاټن که. همدقلته يې کېده چې سبا سهار يې يوسم.
- صحيح ده، بس ته بې غمه شه. ښه نو، هلته کلينيک ملينيکم شته که نه؟
- نه، نه ډاکټر شته، نه کلينيک. که کلينيک وای نو موږ دوکاندارانو به په گوليو څه کول. مخکې يو غټ کلينيک و خو طالبانو وسوځولو. اوس که دولت ډاکټران راولي، طالبان يې نه پرېږدي. که بل څوک يې راولي، دولت يې نه پرېږدي. بس نو دقه مو حال دی. لاره خرابه، وطن لرې. دومره په تکليف يو چې مه کوه پوښتنه. زنانه چې مريضانې شي، نه قابله وي، نه ډاکټره. که يې تکليف زيات وي څو پورې چې مرکز ته يې وړي، په لاره کې وفات کېږي. دوه درې مياشتې مخکې زموږ يو خپلوان کورونا نيولی و. وضعيت يې خراب و. په موټر کې مو واچاوه چې دلته يې راوړو. د لارې په نيمايي کې و چې سړی مړ شو. بېرته مو يووړ.
درملتون والا وويل: خدای دې يې وبخښي. بيا مو غسل ورکو که څنگه؟ ډاکټران خو وايي چې غسل مه ورکوئ. چای دېم څکه.
عبدالرحمن پياله پورته کړه. د چايو غوړپ يې وکړ. ويې ويل: سم دم لامبل مو ورکړل، لکه عام سړي ته يې چې ورکوي. سمه جنازه مو يې وکړه. هلته دا قيصې نه وې.



درملتون والا هغه زلمکي ته وکتل چې د دواګانو په راټولولو لګیا و. غبرګ یې ورباندې وکړ: دا اومیپرازول مه اخله! دا ګران دي. هغه د لسو روپو والا یې ورته کېده.
بیا یې مخ عبدالرحمن ته واړاوه، ویې ویل: ښه! د کورونا څه وضعیت و؟ جلال آباد کې خو یې ډېر کسان ووژل.
عبدالرحمن تر پکول لاندې لاس تېر کړ، سر یې وګراوه. بېرته خولۍ سمه کړه، ویې ویل: هلته یې وژل خو دومره ډېره نه. په اول سر کې خو چا نه منله چې کورونا دې وي خو اوس چې په چا هر مرض ولګېږي، خلک وایي کورونا ده. هههههه.
درملتون والا او شاګرد یې هم کټ کټ وخندل. هغه وویل: نو هلته به قرنطینم نه و، که و؟ خلکو به ناسته پاسته کوله؟
عبدالرحمن د هغه سترګو ته وکتل، بیا یې وویل: نه چا قرنطین پېژانده، نه ښه، نه بد. خبرونو کې خو مو اورېدل چې لاس مه ورکوئ، ګنې ګونې ته مه ځئ، داسې خبرې به یې کولې. خو موږ به جومات تم تلو. سترې مه شي به موم کوله، سمه بغل کشي. وروسته ډېر خلک مریضان شول. یو څو مولوي صاحبانم په کورونا اخته شول. بیا یې ویل چې په جومات کې لږ لرې لرې ودرېږئ.
درملتون والا پوښتنه وکړه: ته یې نیولی وې؟
عبدالرحمن د شودو چایو وروستی غوړپ هم وکړ، ویې ویل: او کنه! موږ خو نه پوهېدو چې کورونا ده، بس تبه خو وه، ساه بندي وه، پوزه مې بندېده، نو همدا کورونا وه خو خدای ښه کړو. جوشانده موشانده به مو څکله، د وچ کړیو شفتالو اوبه، د مرخنۍ اوبه، د تروشو انارو اوبه، همدا به مو څکلې، شوملې موملې به مو څکلې، پنیر به مو خوړل. ګوره ځوانه! هغه دوایي چې په تشه ګېډه خوړی کېږي، یوې

خوا ته که. چې په مړه خېټه خوړی کېږي، بلې خوا ته که چې سره ګډې نه شي.

درملتون والا خپل شاګرد ته وکتل. ويې ويل: ښه وايي. د تشې خېټې والا باندې دايره وکاږه چې ورنه غلطي نه شي. ته ودرېږه چې پخپله يې وکاږم.

هغه پاڅېد. د ويټرين شا ته تېر شو. سور مارکر قلم يې را واخيست. د درملو څو قوتۍ يې بېلې کړې. د هرې قوتۍ پر مخ يې يوه يوه تشه دايره رسم کړه. يوه قوتۍ يې ور پورته کړه او عبدالرحمن ته يې وښودله، ويې ويل: دا وينې! دغسې دايرې چې ورباندې وې، هغه په تشه ګېډه خوړی کېږي. صحيح شوه؟

- خير يوسې! صحيح شوه.

درملتون والا بېرته د ويټرين له شا راووت. د عبدالرحمن پياله يې ور ډکه کړه. ويې ويل: ښه، ښه! نو دقسې! دلته خو يې زمونږ زړونه په قرنطينونو شنه کړل. درې څلور مياشتې ټول خلک په کورونو کې بند وو. زمونږ خو ښه ده چې د دواګانو کار و بار دی نو مونږ ته اجازت و چې دوکانونه مو خلاص کو خو نور خلک سخت په تکليف وو. کار و بار نه و، پيسې نه وې. خلک غريبانان وچې ډوډۍ ته احتياج وو. هر څوک د پولې ټک ته کېناستلي وو. بيا په دې آخرو کې لږ ښه شو چې دولت غريبانانو ته وچه ډوډۍ ورکوله. هلته په نورستان کې څنګه چل و؟ تاسو ته يېم ډوډۍ درکوله؟

عبدالرحمن په حيرانو سترګو ور وکتل، ويې ويل: وچه ډوډۍ له کومه شوه! چا والله که نيمه ډوډۍ لا چا ته ورکړې وي. پاس حکومت دی، لاندې طالبان دي. کله لاره بنده وي، کله خلاصه نو حکومت هېڅم نه دي کړي. غريبانان خو ډېر دي کنه. حکومت نشته، وظيفې نشته.

بس همقه زمینداري ده. د جوارو ډوډۍ دي، شوملې دي، چای دي، بس خلک همدقه شیان خوري.
درملتون والا د شودو چایو ترموز را واخیست. سرپوښ یې تاو کړ. د عبدالرحمن پیالې ته یې ور تیټ کړ.
عبدالرحمن پر خپلې پیالې لاس ونیو، ویې ویل: بس دی. ژوندی دې وې.
درملتون والا وویل: چای خو شته.
عبدالرحمن په موسکه خوله وویل: قربان دې شم. ډېر مې وڅکه.
درملتون والا پاڅېد. د ویټرېن شا ته ولاړ. څو قوتۍ درمل یې په یوه وړوکي کارټن کې واچول. د کارټن پر سر یې په مارکر سره ولیکل: د سر درد.
په لوړ غږ یې وویل: ماما! کورونا خلک ډار کړي وو که څنګه؟ دلته خو خلک سخت په وېره کې وو. انسان د انسان نه وېرېده.
عبدالرحمن وویل: زموږ د خلکو خو دغه عقیده ده چې مرض الله راولي، الله یې ورک کوي. نو ډار نه و. کورونام داسې هوایي غوندې تېره شوه. خلک مریضان شول خو ډار مار نه و. نه چا د مریض نه کرکه کوله، نه چا ویل چې ما ته مرض د پلانکي نه راغی. وروسته چې مرض زیات شو، بیا خلک داسې لږ لږې لرې ګرځېدل، نور نو څه نه وو.
درملتون والا د درملو وروستۍ قوتۍ هم په یوه وړوکي کارټن کې واچول. پر سر یې ولیکل: د کانګې ګولۍ. بیا یې ټول واړه کارټنونه په یوه لوی کارټن کې واچول. سر یې په سکاشټېپ بند کړ. ورباندې یې ولیکل: عبدالرحمن، کامدېش.
خپل شاګرد ته یې وویل: دا کارټن په هغه ګوښه کې کېده.

پخپله د عبدالرحمن خوا ته راغی. ویې ویل: ماما! کارتېن دې هغلته ایښی دی. که زه نه وم، دغه هلک به یې درکي. خو شپه ما سره وکه. د مېلمنو ښه ځای لرم. ښه ښوروا به درته جوړه کم، لږ خواله بم وکو.
عبدالرحمن چې له ځایه پاڅېدلی و، لاس یې پر ټټر کېښود. ویې ویل: خیر یوسې! ځم چې د دوکان د پاره نوره سودا وکم. سبا سهار به د خیره کلي ته ځم. پیسې دې څو شوې؟
د درملتون والا پیسې یې ورکړې. له درملتونه ووت. چې څو ګامه لرې شو، بېرته یې شا ته وکتل. د درملتون لوحې ته ځیر شو. تر شونډو لاندې یې څه وویل او روان شو.


زامن يې وايي چې داکټرانو
د زهرو سنن ورکړې ده

## د زهرو ستن

د کورونا په اړه د یوه ډاکټر خواله ته غوږ یږئ. زه ډاکټر خیال مرجان مبارز یم. د پکتیا د کورونا روغتون سرطبیب وم.
کورونا نه وه، د غمونو مور وه. له اوله تر آخره پورې غم و. په اول سر کې خو هر څه نامعلوم وو. د سرایت د طریقې په اړه یې چا یو څه ویل، چا بل څه. د مخنیوي په باره کې یې اول ویل چې د مالګوبې غړغړه کول ګټور دي، خو وروسته معلومه شوه چې تأثیر نه لري. اعراض او علایم یې له موسمي زوکام سره یو شان، د تداوی نتیجه یې مبهمه، اختلاطات یې نا معلوم ....
کله کله مې ځان سره فکر کاوه چې موږ له دومره امکاناتو سره دومره سرګردانه یو، که دا مرض دېرش کاله مخکې پیدا وای، نو زموږ د ډاکټرانو به څه حال وو. هاغه مهال خو په وطن کې نه انټرنټ و، نه کمپیوټر، نه فیسبوک، نه دومره ټلویزیونونه او راډیوګانې. پلار مې کیسه کوي چې هاغه وخت به خلک د یو ټېلیفون په خاطر ان پېښور

ته روان وو. د چا چې ورونه، زامن په عربو کې مسافر وو، په کېسټو کې به یې غږ ثبتاوه او چې څوک وطن ته راتلل، خپلې کورنۍ ته به یې ورلېږل. که د چا کومه عاجله خبره وه، نو پېښور یا مېرانشاه ته به تله چې خپل مسافر ته حال ورکړي. اوس خو د انټرنټ او رسنیو له برکته هره ګړۍ چې په دنیا کې څه پېښېږي، ترې خبرېږو.
نو د کورونا خبره مې کوله. که دېرش کاله مخکې کورونا خپره شوې وای، موږ به په هېڅ شي نه خبرېدو. اول خو به په دې نه خبرېدو چې دا مرض پیدا شوی دی. تر څو پورې چې موږ به خبرېدو، نیم افغانستان به یې نیولی و. بیا چې خبر شوي وو چې داسې نوې ناروغي خپره شوې ده، په کتابونو کې به یې معلومات نه وو چې د دې ناروغۍ نښې نښانې څنګه دي، تشخیص یې په څه شي کېږي، د سرایت لارې یې کومې دي، څنګه یې مخه نیولی شو، په تداوۍ کې یې څه شامل دي، اختلاطات یې څنګه کنټرولېږي ... بله خبره دا ده چې په هغه وخت کې مو طبي وسایل او تجهیزات ډېر کم وو، لابراتوارونه مو معیاري نه وو، او سل نورې ستونزې. اوس شکر انټرنټ شته، هره څېړنه چې نن په امریکا او برېټانیا کې کېږي، په سبا یې موږ هم ترې خبرېږو. خو غم یوازې دا نه و.
د پکتیا د کورونا روغتون چې جوړ شو، زه یې سرطبیب شوم. د روغتون رییس مو محمد کریم زرمتی و. د روغتون لپاره چې څه په کار وو، هغه مو لست کړل. یوه – یوه نیمه میاشت خو په دې تېره شوه چې اساسي تجهیزات او وسایل لږ لږ اکمال کړو، خو ټول شیان مو پوره نه کړی شو.
په اول سر کې ناروغان نه وو، نو موږ دې ته وخت درلود چې مطالعه وکړو. په همدې وخت کې مو د آنلاین ټرېننګ بند و بست وکړ. ما

او ټولو ډاکترانو او نرسانو ټرېننګ واخیست. بیا به مو هره ورځ په نټ کې کتل چې د کورونا په تداوۍ کې کوم نوي څه اضافه شوي دي او د اختلاطاتو چاره یې څنګه کېږي. په دې کې هم غم دا و چې چا به په خپله څېړنه کې دعوا کوله چې فرضاً کلوروکین یا ازیترومایسین د کورونا په تداوۍ کې مؤثر دی. بل به دا خبره رد کړه چې نه دغه دوایي ګټور نه دي. دغسې ضد او نقیضې خبرې به وې او موږ حیران وو چې د چا ومنو. بده لا دا وه چې عامو خلکو به چې څنګه واورېدل چې کلوروکین د کورونا ناروغانو ته ګټه کوي، پر درملتونونو به یې حملې کولې. په یوه اونۍ کې د کلوروکین ګولۍ له بازاره ورکې شوې او بیه یې لس وارې زیاته شوه.

ډېر وخت نه و تېر چې روغتون په ناروغانو ډک شو. نو ما به هم د سرطبیب دنده اجرا کوله، هم د داخله ناوغیو د متخصص دنده. دلته نو غم د تجهیزاتو و. محافظتي کېټونه مو کم و. آکسیجن په وخت نه را رسېده او ځینې عمر خوړلي ناروغان به په تنفسي زجرت اخته شول چې وینټیلاټور ورته په کار و. دوی پخپله ساه سمه نه شوه اخیستلی، نو د میخانیکي تنفس دغه ماشین مو باید درلودی. مرکز ته مو پر له پسې زنګونه وهل او ایمېلونه مو ورته کول چې وینټیلاټور راکړئ. ښه ځنډ وروسته، یو دوه داني یې راورسېدل، خو موږ یې په کارولو نه پوهېدو. یوه ته ووایه، بل ته ووایه، په نټ کې سرچ وکړه، ایله چې سر مو پرې خلاص شو او په سیستم او اعیارولو یې وپوهېدو.

د ناروغانو باران او د آکسیجن قحطي شروع شوه. د روغتیا وزارت د کورونا روغتونونو چارې انجیوګانو ته وسپارلې. هغه انجیو چې زموږ د روغتون چارې یې سمبالولې، آکسیجن په وخت نه راکول او ډېر کم به یې راکول. وخیم ناروغانو په یوه ورځ کې د آکسیجن څلور پنځه

سلنډره مصرفول. دې وخت کې نو د پايوازانو بدماشي شروع شوه. سرزورو به په زور د آکسيجن سلنډر واخيست او خپلو ناروغانو ته به يې يووړ، ان که ناروغان يې تر نورو ښه هم وو، دوی ورته آکسيجن لګول. هغه لا څه کوې چې ځينو کسانو د آکسيجن سلنډرونه غلا کړي وو او کورونو ته يې ورسره وړي وو. يو وخت ګورو چې ۲۸ سلنډره کم دي. دا يې بل غم چې دا هم په موږ تاوان شول. د روغتون ټولو ډاکټرانو وويل چې معاشونه مو واخيستل، پيسې به يې په ګډه پرې کوو. ما او د روغتون رييس د بالونونو تاوان پرې کړ خو وروسته ټول همکاران مو له خپلې ژمنې واوښتل او چا يوه روپۍ هم را نه کړه. ځينو پايوازانو به اخطار راکاوه چې که زما مريض دې جوړ نه کړ، نو بيا به زه درسره جوړېږم. ورته ويل به مو چې «وه سړيه! دا مريضي قطعي علاج نه لري. ان په امريکا کې د کورونا ډېر مريضان مړه کېږي، نو موږ خو نعوذ بالله خدای خو نه يو چې ناممکن کار دې وکړی شو.» خو چا ته يې وايې.

يوه ورځ يوه سپين ږيري ناروغ ته مو سخته تنفسي ستونزه پيدا شوه. غوښتل مو چې وينټيلاټور ورته ولګوو، خو انستيزيلوګ مو نه درلود چې انټيوبېشن يې کړي. انټيوبېشن داسې عمليه ده چې د ناروغ له خولې نه د سږو نلونو ته يو نلکی تېروي چې د ونټيلاټور پيپ ور پورې وترل شي. دا کار د هغو کسانو دی چې په عملياتخانو کې ناروغانو ته بېهوشي ورکوي. د ګردېز په حوزوي روغتون کې يو تکړه انستيزيلوګ و، ضابط خان نومېده. هغه زما ملګری و. نو زنګ مې ورته وواهه چې راشي. په هغه وخت کې نو خلک او ډاکټران د کورونا له ناروغانو داسې ډارېدل لکه له ځانمرګي چې ډارېږي. خو ضابط خان دې خير يوسي، زما په يوه ټېليفون راغی. ناروغ ته يې انټيوبېشن وکړ. ونټيلاټور

مو ولګاوه، د ناروغ وضعیت ورو ورو ښه شو.
یوه شپه نوکریوال وم. یو ناروغ یې په سخت وضعیت کې را ته راوړ.
ساعت ته مې وکتل، د شپې څه باندې لس بجې وې.
په نه زړه مې ضابط خان ته ټیلیفون وکړ. ورته مې وویل: ضابط خانه! بخښنه غواړم چې په دې ناوخته شپه کې تکلیف درکوم. یو ناروغ یې همدا شېبه راوړی. وضعیت یې ډېر خراب دی. انټیوبېشن غواړي. پوهېږم چې درته سخته ده خو که راشې، ثواب به وګټې.
ویې ویل: «ډاکټر صیب خیال مرجانه! د تا خبره کله په ځمکه غورځولی شم. دا دی درغلم.»
خدای دې ورسره ښه وکړي، په هماغه شپه کې یې ځان را ورساوه. ناروغ یې انټیوبېشن کړ. دغسې مې څو وارې ضابط خان غریب راوغوښت. سره له دې چې دا د هغه وظیفه نه وه، او نه چا پیسې یا بل امتیاز ورکول، خو هغه به راتلو. ما او محمد کریم، د روغتون رییس، ډېره هڅه وکړه چې ضابط خان د کورونا روغتون ته تبدیل کړو، خو ونه شو.
نور غمونه کم وو چې په خلکو کې آوازه ګډه شوه چې د کورونا په روغتون کې ډاکټران مریضانو ته د زهرو ستن ورکوي او وژني یې. دا خبر مو چې واورېد، زړونه مو غوټ مات شول. موږ په څومره سختۍ د مریضانو خدمت کاوه، نه مو شپه معلومه وه، نه ورځ. ستړیا، ستوماني، د وسایلو کمی، دا هر څه مو ګالل، په میاشتو میاشتو مو د معاش درک نه و او موږ په تشو جېبونو خدمت کاوه، خو د دې پر ځای چې څوک مو قدر وکړي، داسې ډنډورې یې راپسې کولې.
کله چې خبر شو چې دا آوازه چا ګډه کړې ده، لا پسې خپه شوو. کیسه داسې وه چې د کورونا د اوج په وخت کې یو څوک د حکیم

الکوزي په نوم په کندهار کې او بیا په کابل کې را پیدا شو. هغه ویل چې د کورونا واکسین یې جوړ کړی دی او چې د کورونا هر ناروغ یې وخوري، ټک او پټری به شي. وایي چې اوبو ورې د اوبو ځګ ته هم لاس اچوي، نو خلک هم د الکوزي په واکسین پسې تر کابله لاړل. په رسنیو کې یې هم ورته تبلیغ وشو. ځینو خلکو له رسنیو سره مرکې وکړې او ویې ویل چې د الکوزي دوا یې مریضان ښه کړي دي.

دا خبره چې ډېره ګرمه شوه، د عامې روغتیا وزارت د الکوزي د څاڅکو نمونه را واخیسته، تجزیه یې کړه. معلومه شوه چې په ترکیب کې یې ډېر مورفین او ځیني نور شیان دي. د مورفین خواص دا دي چې ان شدید دردونه هم کراروي، انسان ته د خوښۍ احساس ورکوي او نشه لري. نو مریضانو به چې دا خوړل، خود به ورباندې ښه لګېدل. خو یوې خبرې ته د چا پام نه و، هغه دا چې مورفین تنفس نهي کوي او ساه اخیستل سوکه کوي.

د زهرو د ستنې خبره را نه پاتې شوه. نو هغه کیسه داسې وه چې یوه ورځ درې بجې وې چې یو سپین بږیری ناروغ یې راته راوړ. سړی مولوي و او عبدالهادي نومېده. زامنو پنځه شپږ ورځې په کور کې ساتلی و او کورني دارو درمل یې پرې خوړلي وو. اوس یې چې حال ډېر خراب شوی و، روغتون ته یې راوړی و. د ناروغ په وینه کې د آکسیجن فیصدي ډېره کمه وه شاوخوا ۷۰ فیصده به وه، سږو یې سم کار نه کاوه، په ډېرې سختۍ سره یې ساه اخیسته او تنفس یې ډېر سوکه و. پایوازان هم ورسره پریمانه راغلي وو.

ناروغ ته مو آکسیجن چالان کړ او تداوي مو ورته شروع کړه. تر ماښامه پورې یې وضعیت نسبتاً ښه شو. موږ ډېر خوشحاله وو چې تداوۍ ښه نتیجه ورکړې وه. ورغلم چې پر پایوازان یې زېری وکړم.

چې ورننږدې شوم، هغوی خپلو کې د الکوزي د واکسين خبره کوله.
ورته مې وویل: ګورئ! مولوي صاحب شکر ښه شوی دی. خو پام
چې د الکوزي واکسين ورنه کړئ.
یو بل ته یې سره وکتل، یوه یې وویل: نه، نه، نه یې ورکوو. بې غمه
شه ډاکټر صيب.
د مولوي صاحب په خاطر ما ته څو وکیلانو ټېلیفونونه کړي وو چې
پام به ورباندې کوې. زما نوکریوالي هم نه وه خو تر ماخوستنه پورې
په روغتون کې پاتې شوم. د مولوي صاحب وضعیت دومره ښه شوی
و چې نورو ناروغانو ته یې مسئلې شروع کړې وې. د شونډو توروالی
یې ورک شوی، رنګ یې غوړېدلی و. په وینه کې یې د آکسیجن
فیصدي ډېره ښه شوې وه. نو زه بې غمه کور ته ولاړم.




سهار چې راغلم، گورم چې مولوي صاحب مړ دی. سخت خپه او ورسره حیران شوم. نوکریوال ډاکټران او نرسان مې وپوښتل چې گزارش راکړي. ما ویل هسې نه چې دوی کومه بې غوري کړې وي، خو دوی خپل کارونه بېخي صحیح ترسره کړي وو. کله چې د ناروغ تنفس درېدلی و، هغوی هر څه چې لازم وو، کړي یې وو خو گټه یې نه وه کړې.

امبولانس مو ورکړ چې جنازه یوسي. زه هماغه کوټې ته ولاړم چې مولوي صاحب په کې بستر و. له نورو ناروغانو مې پوښتنه وکړه چې څه کیسه وه. هغوی وویل چې مولوي صاحب خو بېگاه ډېر ښه و. ښه مجلس یې راسره وکړ. د خوب نه مخکې پایوازانو ورته د الکوزي



واکسین ورکړ. بیا دی هم ویده شو، موږ هم. سهار د لمانځه په مهال مولوي صاحب وفات شو.
غرمه یوه ملګري راته ټیلیفون وکړ. ویې ویل: ډاکټره دا څه کیسه ده؟ وایي ناروغانو ته د زهرو ستن ورکوئ.
ما ویل: څوک وایي؟
ویې ویل: نن د مولوي صاحب په جنازه کې یې خلکو ته ویل چې پام چې مریضان مو شفاخانې ته یو نه سئ. هلته مریضانو ته د زهرو ستن ورکوي. ویل یې چې مولوي صاحب یې هم د زهرو په ستن وواژه.



## مبارزه

پر دېوال ځړېدلي ساعت ته یې وکتل. درې نیمې بجې وې. جاینماز یې راواخیست او د کټنځي پر غولي یې وغوړاوه. مخکې تر دې چې د لمانځه نیت وکړي، پر زوی باندې یې غږ وکړ: سیروم یې چې راوړ، ناروغ ته یې ولګوه. زه به لمونځ وکړم چې ناوخته شو.
همدا چې لاسونه یې غوږونو ته پورته کړ، چا په وارخطایۍ غږ وکړ: ډاکټر صیب! ډاکټر صیب! دا زما مریض خو وګوره. حال یې ډېر خراب دی.



ډاکټر سلام وګرځاوه. شا ته یې وکتل. یوه هډور ځوان یو بوډا په شا کړی و او بل ځوان چې د هغه شا ته ولاړ و، د ناروغ پښې یې نیولې وې.
ډاکټر په لاس ورته اشاره وکړه چې مریض د معاینې پر مېز واچوي.
هغه چې بوډا یې په شا و، په درنو ګامونو د معاینې د مېز خوا ته روان شو او ویې ویل: وبخښه ډاکټر صېب! موږ به خدای ته خواست وکو چې د لمانځه د ناوخته کېدو بخښنه درته وکي.



ډاکټر په بېړه محافظتي جامې واغوستې، ماسک يې واغوست، د فشار آله او د معاينې غوږۍ يې واخيستې او د ناروغ سر ته ودرېد. د ناروغ له پايوازه يې څو پوښتنې وکړې: څه په شوي دي؟ کله راهيسې؟ پخوا يې څه تکليف درلود که نه؟ ...
په دې ترڅ کې يې د ناروغ سترګې وکتلې، د زړه او سږو آوازونو ته يې غوږ شو، نبض يې وکوت، فشار يې اندازه کړ او بيا يې کاغذ راواخيست او څه يې پرې وليکل. کاغذ يې د ناروغ پايواز ته ونيو: دغه ټستونه ورته وکړئ.



پر زوی یې غږ وکړ: دا بابا بل کټ ته یوسئ. آکسیجن ورته چالان که. کنولا ور ولګوه. سالین سیروم ورته شروع که خو سوکه، په دقیقه کې شل ځاځکي. لابراتوار والا را وغواړه چې همدلته وینه ځنې واخلي.
محافظتي کالي او ماسک یې بېرته وایستل او پر لمانځه ودرېد.
تر لمانځه وروسته، پر څو مریضانو وګرځېد. د چا د سږو آوازونه یې واورېدل، د چا فشار یې وکوت، بل ته یې د آکسیجن اندازه زیاته کړه.
نیم ساعت به وتلی و چې د بوډا زوی د لابراتوار نتیجه راوړه. ډاکټر نتیجه کتله او له ځان سره بونګېده: امممم، ډېر ښه، دا یې صحیح ده.
سور قلم یې ور واخیست، د لابراتوار د نتیجې پر کاغذ یې څو ځایه کرۍ تاوه کړه.
د بوډا زوی چې په ځیر ورته کتل، ویې پوښتل: ډاکټر صیب! خطري څه خو به نه وي؟
ډاکټر بې له دې چې ور وګوري، ځواب ورکړ: یو څه ستونزه خو شته، خو خدای به یې ښه کړي.
پایواز وویل: خیر دې وي! خدای دې درسره ښه وکي.
ډاکټر نسخه ورته ونیوه، ویې ویل: دغه دوایي ورته راوړه. ناروغ دې تر ماښامه وي چې سیروم یې تمام شي، لږ آکسیجن بم واخلي چې ساه یې سمه شي، بیا یې کور ته وړی شئ.
پایواز لا وتلی نه و چې دوه نور کسان چې د یوې کمپلې دوه سرونه یې نیولي وو، را ننوتل. پر کمپله یې زړه ښځه اچولې وه.
ډاکټر ژر پاڅېد. د کمپلې منځنۍ برخه یې په غبرګو لاسونو ونیوه. درې واړو کمپله د معاینې مېز ته پورته کړه. ډاکټر ناروغه ژر ژر معاینه کړه. څو پوښتنې یې وکړې. د ناروغې پخواني معاینات او نسخې یې

وکتل. ویې ویل: عاجل یې د کورونا روغتون ته یوسئ.
پخپله یې ټیلیفون را واخیست، چا ته یې زنګ وواهه، ورته ویې ویل: سلام علیکم! ډاکټر فرقاني یم. یوه مریضه درلیږم، تنفسي ډسټرس لري. ډیابټیکه ده او د لوړ فشار سابقه لري. د کورونا نښې نښانې په کې دي نو توجو مو غواړم. خیر یوسې.
د ناروغې پایوازانو ته یې مخ واړاوه، ویې ویل: هله نو! وخت مه ضایع کوئ.
هغوی چې خپله مریضه وایستله، بل ځوان راغی. د ډاکټر د مېز خوا ته کېناست. ویې ویل: ډاکټر صېب! ستونی مې سخت خوږېږي. داسې تېزه تبه مې ده لکه د ملاریا تبه. بدن مې ټوک ټوک دی، ټول هډونه مې خوږېږي.
ډاکټر راپاڅېد. د کاشوغې په اندازه هوار لرګی یې ور واخیست. ځوان ته یې وویل: خوله دې خلاصه که.
ناروغ چې خوله خلاصه کړه، ده هغه هوار لرګی د هغه پر ژبې کېښود او سر یې د هغه خولې ته ورنژدې کړ چې ستونی یې وګوري.
په همدې شېبه کې ناروغ وپرنجېد. د خولې او پوزې اوبه یې د ډاکټر پر مخ باد شوې.
ډاکټر لږ شا ته شو او د ناروغ له خولې یې لرګی ایسته کړ.
ناروغ له جېبه دسمال را وایست. لاس یې وړاندې کړ چې د ډاکټر مخ پاک کړي. ویې ویل: وبخښه ډاکټر صېب! ډېر بد کار وشو.
ډاکټر وویل: پروا نه کوي. دا خو کېږي. پخپله به یې پاک کړم. ته کېنه چې ستونی دې وګورم.
د ناروغ معاینه چې خلاصه شوه، ډاکټر نسخه ورته ولیکله. هغه چې ووت، ډاکټر ماسک له مخې لرې کړ او د خځلو په ټوکرۍ کې یې

واچاوه. د مېز له سره یې د لندو دسمالو بنډل را واخیست. یو دسمال یې څنې وایست او مخ یې ورباندې پاک کړ. بیا تشناب ته ولاړ او په صابون یې مخ او لاسونه ومینځل.
بېرته چې راغی، د هغه بوډا پایواز چې په درې نیمو بجو یې خپل مریض راوړی و، وویل: ډاکټر صېب! خدای دې اجرونه درکي. په لمانځه ولاړ وې خو زموږ د مریض په خاطر دې سلام وګرځاوه. دغه بل مریض دې، هغه ته دې هېڅ غوسه ونه کړه. نور ډاکټران ولله که مریض معاینه کوي. دغه بابا مې څو ورځې مخکې بل ډاکټر ته وړی و، ډاکټر له خپل مېز نه پلاسټیک تاو کړی و. د پلاسټیک له شا یې راسره خبرې کولې. مریض یې بېخي معاینه نه کړ. همداسې یې دوایي ورته ولیکله. قسم دی که یوه ذره ګټه یې کړې وي.
د بل ناروغ پایواز وویل: رښتیا وایي. ځینې ډاکټران خو یو مخ پټ شوي دي. معاینه خانو ته بېخي نه ورځي. یو نیم یې چې معاینه خانې ته ځي، بیا د مریضانو نه ډارېږي. له لرې سوال او ځواب کوي خو مریض ګوري نه. تا سره دې خدای ښه وکي چې د مریضانو سم خدمت کیې.
ډاکټر وویل: تشکر، کور مو ودان. دا خو زموږ وظیفه ده. ستاسو را باندې حق دی چې خدمت مو وکم. بله دا چې که ټول د کورونا نه وډارېږو نو کورونا به مو ټول چپه کي. دومره څوک خو په کار دي چې د کورونا سره مبارزه وکي.
ډاکټر یو وار بیا پر کټونو پرتو ناروغانو باندې وګرځېد. ځینو ته یې کور ته د تلو وویل. یوه ته یې په کنولا کې پیچکاري وکړه. د بل تبه یې وکتله.
د مازدیګر لمونځ یې وکړ. لمونځ یې چې تمام شو، ودرېد. لاسونه یې

پورته ونیول او غځوونې یې وکړې. له ملا ښي او چپ لوري ته، مخ او شا ته کوږ شو. اهوبلی یې وکېښن.

ساعت ته یې وکتل: شپږ بجې وې.

د معاینې پر مېز یې ډېټول وپاشل. څو شېبې یې صبر وکړ. وروسته یې مېز په یوه ټوټه پاک کړ. پخپله پرې څملاست. لاسونه یې تر سر لاندې کړل او پښې یې سیده وغځولې. سترګې یې پټې کړې. څو وارې یې ژوره ساه واخیسته. د سهار تر لمانځه وروسته یې تر دې دمه پورې پر له پسې ناروغان کتلي وو او هېڅ استراحت یې نه و کړی.

د موبایل د زنګ آواز شو. ډاکټر سترګې وغړولې. پښې یې راټولې کړې. د مېز له سره کښته شو. ورو ورو یې د هغه مېز خوا ته ګامونه واخیستل چې موبایل یې د نسخو له کتابچو سره پرې پروت و.

موبایل یې د سترګو مخې ته ونیو. نمبر نا آشنا و.

موبایل یې غوږ ته ونیو: هلو!

- ډاکټر صیب! ادې مې ښه نه ده. تا ویلي وو چې که ستونزه وه، ټېلیفون درته وکم.

- مریضه دې؟

- مرجان بي بي نومېږي. پرون نه ها بله ورځ درغلي وو. تا ویل چې کورونا نه ده، حساسیت ده. اوس یې ساه بندېږي.

- ښه ښه! وپوهېدم. ګوره! هغه سپرې دې استعمال کي، ساه لنډې یې سمېږي. که تکلیف یې زیات و، بیا هغه وړې ستنې چې مې ورکړې وې، یوه دانه یې په رګ کې ورولګوئ. انشا الله ښه به شي.

موبایل یې بند کړ. پر څوکۍ کېناست. کښته وښویېد. شا ته یې داسې تکیه وکړه چې سر یې هم د چوکۍ پر تکیې برابر شو. سترګې یې پټې کړې.

چا غږ وکړ: ډاکټر صېب! اجازه ده؟
ويې ويل: مهرباني!
او پر څوکۍ سم شو.
سړی را ننوت. ويې ويل: ډاکټر صېب! يو تکليف به درکم. مور مې په کور کې بې سده پرته ده. د راوړلو نه وه. ما ويل که زحمت نه وي، يو وار راسره لاړ شې، ويې ګورې.
ډاکټر پوښتنه وکړه: کور دې چېرې دی؟
سړي وويل: نږدې دی. سرسنګ کلا کې.
ډاکټر د فشار آله، د درملو يوه بکسه او د آکسيجن وړه ډبه را واخيستې.
ويې ويل: درځه!
د سړي موټر ته ور وخوت.
يو دوه دقيقې مزل يې چې وکړ، سړي ته يې وويل: دومره سوکه ولې ځې؟
هغه وويل: ډاکټر صېب! چې رښتيا شي، د مور د ښه کېدو نه مې تمه ختلې ده. د رغېدو نه ده. د سهار نه تر اوسه پورې بې سده پرته ده. ډارېږم چې ورشو، مړه نه وي.
ډاکټر وويل: سړيه! ولې داسې وايې؟ خدای مهربان دی. ته لږ تېز درومه.
د ناروغې د وينې معاينات او هغه درمل يې وکتل چې تېره اونۍ يې ورته ورکړي وو. هغې د شکرې ناروغي لرله. ډاکټر چې معاينه کړه، په پيچکارۍ کې يې لږ وينه واخيسته. پر کاغذ يې څه وليکل. کاغذ او له وينو ډکه پيچکاري يې سړي ته ونيول، ويې ويل: دا به په بېړه لابراتوار ته وړې او نتيجه به يې ژر بېرته راوړې.
سړی ووت.

ډاکټر د هغه سړي ورور ته مخ واړاوه: یو ګېلاس تر نیمايي پورې له بورې ډک که بیا جوشې اوبه پرې واچوه او ما ته یې راوړه. کاشوغه دېم هېره نه شي.
د بورې شربت یې ورو ورو په کاشوغه د ناروغې په خوله کې ور واچول.
د هغې زوی وویل: ډاکټر صېب! دا خو د شکرې مریضي لري، تاوان به ورته ونه وکي؟
ډاکټر وویل: فکر کوم چې دوايي یې له هغه څه ډېره خوړلې ده چې ما ویلي وو. د وینې شکره به یې کمه شوې وي.
د لابراتوار نتیجه چې را ورسېده، ډاکټر موسک شو. ویې ویل: اټکل مې سم و.
په بېړه یې له یوه پلاستیکي امپول څخه دوايي په غټه پېچکارۍ کې واخیسته او ناروغې ته یې په رګ کې ور ولګوله. د دوهمې پېچکارۍ تر لګولو وروسته، ناروغ زګېروی وکړ. درېمه پېچکاري یې چې ور ولګوله، ناروغې سترګې پرانیستې.
د ناروغې زامنو یو بل ته وکتل. د دواړو پر شونډو موسکا خوره وه.
ویې ویل: شکر خدایه!
ډاکټر وویل: هلئ! اوس یې نو روغتون ته یوسئ چې سم مراقبت یې وشي.
بېرته چې خپلې معاینه خانې ته ورسېد، د ماښام اذان وشو.
لمونځ یې وکړ. زوی ته یې وویل: بچو! ما د کورونا شفاخانې ته ورسوه. یو وار به وګورم چې زما مرسته یې په کار ده که نه. بیا به همداسې کور ته ځو.
د ګردېز د کورونا روغتون ته چې ورسېد، د روغتون په انګړ کې یې د

هغې زړې ښځې زوی ولید چې ده ماسپښین روغتون ته رالېږلې وه. پوښتنه یې وکړه: مریضه مو څنګه ده؟
هغه په غرېو نېولي غږ وویل: ادې خو مړه شوه.
ډاکټر وویل: انا لله و انا الیه راجعون. خدای دې یې وبخښي. کله وفات شوه؟
ویې ویل: یو ساعت به کېږي. اوس معطل یو چې مړی یې راکي.
ډاکټر صېب! چې ته خپه نه شې خو د دې شفاخانې ډاکټران ولله که د کار وي. ټول ها خوا دېخوا ګرځېدل خو هېڅ کار یې‌م نه کاوه. د دوی وار د ما نه زیات خطا و.
ډاکټر وویل: څه ووایم نو. همدا به یې قسمت و.
هغه روغتون ته د ننه شو. څو ناروغان یې وکتل او معالجو ډاکټرانو ته یې مشورې ورکړې.
بیا د روغتون د رییس کوټې ته ورغی. په ګیله‌من انداز یې ورته وویل: رییس صېب! ځینو ناروغانو ته سم کار نه کېږي. نن مې یوه ناروغه درلېږلې وه، تنفسي ډسټرس یې درلود. دلته چا آکسیجن هم نه و ورکړی. پایواز یې وایي ډاکټران تر موږ زیات وارخطا وو.
رییس وویل: فرقاني صېب! د تا نه به یې څه پټوم. ته یې پخپله هم وینې چې چېرته نوي فارغ شوي ډاکټران دي، دلته کار کوي. نه تخصص لري، نه تجربه. یو دوه درې تکړه ډاکټران لرو او هغوی په مریضانو پسې نه رسېږي. تاسې خو وینئ چې څومره ډېر ناروغان لرو.
ډاکټر وویل: نو مشوره خو دې کوي. موږ خو ویلي دي چې د هر چا مشوره په کار وي، موږ په خدمت کې یو.
رییس وویل: خدای دې تا او ډاکټر صېب خلیق الله نیازي ته خیر درکي چې مسوولیت مو هم نه دی خو بیا هم راځئ او مریضان

ګورئ. کور مو ودان.
ډاکټر محمد شریف فرقاني وویل: هیله کوم. کورونا مو د ټولو دښمنه ده نو په ګډه مبارزه به ورسره کوو.



# باور او نه باور

*(بو حکایه جلال آباد لیسه‌لریدن بیری نینگ مدیری خانم عزیزه محمدی بیلن اۉتکزیلگن صحبت اساسیده یازیلدی)*

د پخې عمر مېرمنې غږ وکړ: چېرې ځې؟

ځوان هلک د کوټې له وره سره پښه ونیوله. مخ یې راواړاوه او د ښي لاس په دوو گوتو یې نري بریتونه وگرول. ویې ویل: ځم باغ امیر شهید ته. اندېوالانو سره به لږ چکر ووهم.

مور یې وویل: زویه! گوره چې چا ته لاس ورنه‌کې، چا ته به ورنژدې کېږې نه.

ځوان کټ کټ وخندل، ویې ویل: مورې! تم د کفارو خبرې راته کیې؟ لاس مه ورکوه، غېږه مه ورکوه، سترې مه شې مه کوه، دا یا د

امریکا پالیسي ده یا د چین پالیسي ده چې زمونږ د مسلمانانو په منځ کې بې اتفاقي اچوي، مینه محبت راکې ختموي.
ښځې بل زوی ته مخ واړاوه، ویې ویل: زما خو نه مني، ته ورته څه ووایه. په خبرونو کې خو یې وینۍ چې په چین کې یې څومره کسان مړه کړي.
مشر زوی چې تازه یې د مازدیګر لمونځ تمام کړی و او لا پر جاینماز ناست و، وویل: دا هسې خبرې دي. چینایان سپیان خوري، هره مرداره



خوري نو خدای ورله جزا ورکوي. دا داسې بلا ده چې په مسلمان کار نه لري. ورځه وروره! بې غمه چکر وهه.
د ښځې په زړه کې هم شک پیدا شو. له ځان سره یې وویل چې هېڅوک کورونا نه باوروي؛ په دې راډیوګانو او تلویزیون کې یې چې نښې نښانې یادوي، هغه ټولې د زوکام نښې دي او زوکام خو دلته هر کال دوه درې کرته راځي، نو زامن به مې رښتیا وایي.
بله ورځ چې مکتب ته ولاړه، د صحت عامې او یونیسف کسان ادارې ته راغلي وو. هغوی ورته په ټینګه وویل: مدیره صاحبې! ګوره چې کورونا به بابیزه نه ګڼئ. نن وي که سبا وي، افغانستان ته به رارسېږي نو شاګردانو ته مو صحي سپارښتنې وکړئ. د کورونا د مخنیوي لارې چارې ورته وښیئ.
مدیرې د مکتب له وره سره دستشویي او صابون کېښوده. معلمانو ته یې نوکریوالي جوړه کړه چې هره ورځ دې په وار سره د مکتب په دروازه کې ودرېږي او هر شاګرد چې مکتب ته ننوځي، لاسونه یې ورباندې ومینځي. شاګردان یې د مکتب په غولي کې راغونډ کړل او ورته ویې ویل: ګورئ! لاسونه به په اوبو او صابون مینځئ، یو بل ته به لاس نه ورکوئ، ماسک به اچوئ ...

شاګردان د ټولګیو خوا ته روان شول. مدیره د ادارې وره ته نژدې وه چې چا غږ وکړ: مدیره صاحب! وبخښه، نن لږ راباندې ناوخته شو.
مدیرې مخ واړاوه. شا ته یې زرمینه معلمه چابکه روانه وه. مدیرې ورته لاس ورکړ او درې ځله یې په مخونو سره ښکل کړې.
بلې معلمې ورته حیران حیران کتل، ویې ویل: تاسې څومره بختورې یئ چې کورونا نه بیخي ډارېږئ نه.

مدیرې کټ کټ وخندل، ویې ویل: ولې به ډارېږو؟ زه خو کورونا نه باوروم. د زوکام غوندې مرض دی، دا خلک یې هسې غځوي.
څو ورځې تېرې وې چې په هرات کې د کورونا پېښه ثبت شوه. بیا قرنطین شو او مکتبونه رخصت شول. مدیرې دوه درې ورځې په کور کې تېرې کړې خو نور یې طاقت ونه شو. زامن به یې هم په چکر وتل او دا به هم کله د یوې کله د بلې خورلڼې کره تله. ماسک به یې نه و. هرې خورلڼې سره به یې روي ماچي کوله. ویل یې: زه خو کورونا نه باوروم. زړه مې ډاډمن دی چې ما به نه نیسي.
کورونا کابل ته او بیا په څو ورځو کې نورو ولایتونو ته ورسېده. د مدیرې مور یې هم ونیوله. مور یې په لغمان کې وه، نو مدیره ور روانه شوه. چې څنګه یې کور ته ور ورسېده، له مور نه یې غېږه تاوه کړه. په مخ او په خوله یې ښکل کړه. هغې ورته ویل: وه لورې! مه کوه چې تا ونه نیسي.
دې وویل: و مې دې نیسي، زه یې پروا نه لرم.
مور یې ډاکټر ته وروسته. درمل یې ورته واخیستل او بېرته یې کور ته وروسته. څلور پنځه شپې یې ورسره تېرې کړې. د مور حالت یې ورو ورو ښه شو او بیا دا خپل کور ته ولاړه.
هره ورځ چې تېرېده، دا باور به یې لا قوي کېده چې کورونا هسې ګپ دی ځکه چې له مور څخه یې دې ته سرایت نه و کړی. دوه درې هفتې وروسته تبه ورپورې شوه، د هډوکو درد، ټوخی، سر دردي. یو ځل به یې ځان سره ویل چې همدا به کورونا وي، بیا به یې ویل چې نه عادي زوکام دی. خو عادي زوکام هېڅکله داسې له پښو نه وه غورځولې.
مور یې خبره شوه او ځان یې ور ورساوه. چې څنګه راورسېده، په زوم

باندې يې غږ وکړ: ته خو ورشه لږ خاک شير راوړه چې ورته جوش يې کم.
سړی ولاړ شو، په تلو تلو کې يې وويل: خدای دې وکي چې پيدا يې کم. بازار ټول بند دی.
يو نيم – دوه ساعته وروسته بېرته راغی. پلاستيکي کڅوړه يې خوابښې ته ونيوه، ويې ويل: قيامت دی قيامت. خاک شير مې دومره ګران نه وو ليدلي.
خوابښې پوښتنه وکړه: په څو وو؟
سړي ځواب ورکړ: پاو په پنځه سوه روپۍ.
مديرې وويل: د ښادۍ خاک شير يې کې د دې بيې سره.
ټوخه، ټوخه، ټوخه، ټوخه ... څو شېبې يې پر له پسې وټوخل، بيا يې وويل: سړيه! نه به دې راوړل.
سړي خوابښې ته وکتل، ويې ويل: څنګه به مې نه راوړل! مشرې قوماندانې امر کړی و.
ټولو کټ کټ وخندل.
د خندا غږونه چې تت شول، ويې ويل: تور چای د خاک شير نه بتر. په غونډ بازار کې پيدا کېږي نه، چې پيدام شي، پاو يې د پنځو سوو نه کم نه ورکوي.
خوابښې يې ولاړه شوه. خاک شير يې پرې مينځل. بيا يې په شيدو کې وايشتول. ډکه کاسه يې مديرې ته ونيوله.
مديره نېغه کېناسته. جوشاندې ته يې پوکی وکړ او ورو ورو يې يو يو غوړپ ځنې وکړ.
درې ورځې لا نه وې تېرې چې مېړه يې هم ناروغه شوه. ورپسې يې زامن يو په بل پسې ونيول. خو په ټولو باندې ناروغي سوکه تېره شوه.

هغسې نه وه چې خلکو کیسې کولې چې ساه لنډي دې ورته پیدا شي، یا دې بیخي له اخ و ټوخه ولوېږي.
مدیره په ناروغۍ کې هم پرې نه وته. لا به هم گرځېده را گرځېده او له دنیا به یې ځان خبراوه. دې وخت کې نو مرگونه زیات شول. هره ورځ د یو یا دوو کسانو د مړه کېدو خبرونه یې اورېدل.
یوې خورلڼې ورته کیسه وکړه: خواښې مې په کورونا اخته وه. سخته ساه بندي ورته پیدا وه. شفاخانې ته مو یوړه، یو ساعت لا نه و تېر چې مړې یې را وایست. مړی یې په پلاستیکي کڅوړه کې اچولی و او سر یې بند کړی و. ډاکټرانو ته مو وویل چې د دې په لاس کې خو د سرو زرو کړې وې. هغوی وویل چې که لټولی یې شئ نو ورشئ پلاستیک خلاص کئ، ویې لټوئ. موږ د کورونا له ډاره همداسې د سرو زرو سره ښخه کړه. په جنازه کې یې هم له زامنو نه ما سیوا نور څوک نه وو.

د دې کیسو په اورېدو به په زړه کې ډار ور ولوېده چې هسې نه مړه مې کړي او مړی مې بې عزته شي، په پلاستیک کې مې تاوه کړي او څوک به مې په جنازه کې نه وي، څوک به نه وي چې راباندې خاورې واړوي. بیا به یې ځان ته ډاډ ورکړ چې زه خو نه سینه بندي مرض لرم، نه شکره لرم، نه زړه یم نو ما به نه وژني.
مدیرې به په دې مجلسونو کې د علاج مختلفې طریقې هم اورېدلې. چا به ویل چې شاتره د کورونا دوا ده، چا زَوَل یادول، بل به ویل چې گنډېر او اغزکی په اوبو کې واېشوئ.
بله ورځ چې د یوې خورلڼې له کوره راغله. قرآن شریف یې له تاخه راکښته کړ. ښکل یې کړ او پر سترگو یې وموښه، بیا یې پرانیست. څو پاڼې یې واړولې. یو دم یې وویل: اله په خدای چې رښتیا یې ویلي وو.

دا دي پیدا مې کړل.
مشر زوی يې پوښتنه وکړه: څه دې پیدا کړل؟
مدیرې وویل: راشه زویه! دا ویښته دې په چای کې غوټه که، بیا یې وڅښه. خلک وايي د چا په قرآن شریف کې چې ویښته راوځي، دا معجزه ده او د کورونا علاج کوي.



زوی یې کټ کټ وخندل، ویې ویل: وه مورې! هره خبره ولې باوروې؟ ویښته خو به د هر قرآن شریف په منځ کې وي. څوک چې قرآن تلاوت کوي نو د بېرې یا د سر یو نیم ویښته خو به یې تویېږي په کې.

تازه ښه شوې وه چې ماما یې ناروغ شو. دا هم ورسره روغتون ته ولاړه. ډاکټرانو ویل چې د زړه حمله پرې راغلې ده.

یوه نرس ناروغ ته کنولا ولګوله او په پېچکارۍ کې یې دوایي راواخیسته چې ور ویې لګوي.

مدیرې تر لاسه ونیو، ویې ویل: ولا که دې پرېدم. ته د کورونا پېچکاري ورلګوې چې مړ یې کې؟

نرس وویل: دا څه اوتې بوتې وایې.

مدیرې وویل: اوتې بوتې به ولې وایم. ته وا مونږ نه یو خبر چې مریضانو ته پیچکارۍ ورکوئ چې مړه شي بیا پرې فنډ واخلئ.

نرس اسویلی وکیښ، ویې ویل: لا حولولا.

مدیرې یې لاس خوشی کړ، ویې ویل: ته لږ صبر وکه.

موبایل یې را وایست. چا ته یې زنګ وواهه. ورته ویې ویل: ډاکټر صېب شېر ولي! ماما ته مې پیچکاري ورلګوي، که مړ شو، تاوان یې په تا دی.

هغه ورته وویل: نه، نه. مه ډارېږه. دا پیچکاري د زړه رګونه خلاصوي.

پرېده چې ور ویې لګوي.

د کورونا پېښې کمې شوې. قرنطین ختم شو. مکتبونه بېرته شروع شول. مدیرې به بیا هم شاګردانو ته ویل چې یو بل ته به نه نږدې کېږئ، ماسک به اچوئ، لاسونه به مینځئ ...

لږه موده وروسته، د کورونا دوهمه څپه راغله. مکتبونه بېرته بند شول.

د مدیرې مور یې بیا ونیوله او دا وار یې مړه کړه. د کورونا په دوو څپو کې یې ډېر نور خپل خپلوان او پېژندویان مړه شول. وختونه تېرېدل او د کورونا د درېمې څپې خبرې کېدې، خو مدیرې لا هم ځینې داسې خبرې نه باورولې چې باورول یې په کار وو.



# همکاري

*(پکتیکا ولایتی ساغلیقنی سقلش ادارەسی خادمی داکتر رفیع رحال بیلن اۋتکزیلگن صحبت اساسیده یازیلدی)*

په ولایتي غونډه کې مو هوډ کړی و چې پکتیکا به له کورونا پاکه ساتو.

خو څنگه؟

څو کارونه مو باید کړي وای. د ولایت په ټولو دروازو کې باید صحي ټیمونه وي چې راتلونکي کسان وگوري او که په چا کې د کورونا نښې ویني، قرنطین کوو به یې. پر تگ راتگ به بندیز لگوو. خلکو ته به د کورونا په باره کې معلومات ورکوو. صحي پرسونل به روزو او په روغتون کې به کافي وسایل او تجهیزات لگوو ... دې

کارونو همکاري غوښته او د ولس له همکارۍ پرته نه کېدل.
په دې ټولو کارونو کې د عامه پوهاوي چاره سخته وه. چې خلکو ته به مو د کورونا نوم اخیست، ویل به یې چې کورونا مورونا نشته، تاسو ډاکټرانو هسې د خپلې ګټې وتې لپاره لاره جوړه کړې ده.
یوه ورځ په روغتون کې نوکریوال وم. ماښام مهال و. فیسبوک مې خلاص کړ، ګورم چې د بي بي سي په فیسبوک پاڼه کې لیکلي دي: په پکتیکا کې د کورونا لومړۍ پېښه ثبت شوه.

وار پار رانه خطا شو. په بېړه د عامې روغتیا د رییس دفتر ته ولاړم. هغه چې ځنګه خبر شو، ویې ویل: خدای دې خیر کي. لکه چې پکتیکا یې لاندې کړه.
معلومات مو وکړ چې دا ناروغ څوک دی. ناروغ هغه کس و چې همدا نن له روغتون څخه خارج شوی و. کیسه داسې وه چې یو سړی له دوبۍ نه راغلی و. دلته زموږ ډاکټرانو په روغتون کې قرنطین کړی و او د وینې نمونه یې کابل ته لېږلې وه. د معاینې نتیجه ځنډېدلې وه او ډاکټرانو لیدلي وو چې په سړي کې د کورونا نښې نښانې نشته، رخصت کړی یې و.

اوس نو څه وکړو؟
د سړي کور ان د سروبي ولسوالۍ په خاني کلي کې و. دا کلی د ولسوالۍ له بازار څخه تقریباً ۹ کیلومتره لرې دی.
د عامې روغتیا رییس وویل: بل رقم نه کېږي، په سړي پسې ورشئ، بېرته یې راولئ. سړی له مسافرۍ راغلی نو خامخا به یې قریبان او

عزيزان پوښتنې ته ورځي، په کور کې به خپله خپلخانه ورسره وي، پلار به يې وي، وروڼه به يې وي، خويندې به يې وي. دی به هم دې خوا ها خوا ګرځي راګرځي، نو ټوله ولسوالي به په کورونا اخته کي.
نو داسې وکړ چې همدا اوس ورپسې ورشو.
څو پورې چې تيارېدو، د شپې اته بجې شوې. حرکت مو وکړ. د سروبي ولسوالۍ ته چې ورسېدو، د ولسوالۍ قومندان ته مو وويل چې موږ خو داسې په کورونايي ناروغ پسې راغلي يو، د هغه کور لرې دی او شپه هم ناوخته نو يو څو تنه عسکر راسره کړه.

عسکر يې را نه کړ. مجبور شوو چې يوازې پسې ورشو.
يو خو د شپې تياره شي بل چې باران هم وورېږي نو تياره دوه برابره شي. سيمه هم غرنۍ او غرونه په ځنګلونو پوښلي. د کورونا وهم له يوې خوا، د لارې، د تيارې، او د ناامنۍ وهم له بلې خوا. خو ناچاري وه. موږ هوډ کړی و چې پکتيکا به له کورونا ساتو.
نيمه شپه وه چې د سړي د کلا شا ته ورسېدو. غږ مو پرې وکړ چې راووځه.
د پښو د ترپا غږونه شول. د کلا له بامه د لاسي څراغونو رڼاګانې را باندې ولوېدې. ترکا شوه، کلاشينکوفونو ته مرمۍ تېرې شوې.
دا نو بل وهم. ژر د موټر د څراغونو رڼا ته ودرېدم چې ښه مې وويني. ور ناره مې کړه: پام چې ډزې ونه کړې. ډاکټران يو، له ښرنې نه راغلي يو.

يوه را غږ کړ: په دې نيمه شپه کې څه بلا غواړې؟

ومې ویل: ته خو دروازه خلاصه که، بیا به خبرې وکو. ستاسو مسافر په کورونا اخته دی. نن یې د ټسټ نتیجه معلومه شوه.
لاسي څراغونه لا د بام پر سر لګېدل چې چا د کلا دروازه خلاصه کړه. دوه ځوانان کلاشینکوفونه پر اوږو له کلا راووتل. ورو ورو رانژدې شول. موږ ټول د موټر د څراغونو رڼا ته ولاړ وو.
حجرې ته یې وروستو.
یوه مشر سړي په خندا وویل: نږدې مو ویشتلي وئ. هوښیار خلک یئ، ښه پوهېږئ چې د بدیو وطن دی نو څه در پېښه وه چې په دا نیمه شپه کې راغلئ؟
ومې ویل: حاجي صېب! ښه خبره دې وکړه. که خبره دومره مهمه نه وای نو ولې به راتلو.
ورته مې وویل چې راغلی مسافر کورونا لري او چې څوک ورسره تماس کې شي، هغه به هم نیسي نو ځکه ژر راغلو چې بېرته یې راسره بوځو. یو څو ورځې به موږ سره بستر وي بیا چې د ناروغۍ د سرایت خطر لرې شو، بېرته به یې رخصت کړو.
خو خبره دومره آسانه نه وه چې دلته یې لولئ. یو نیم دوه ساعته مو ورسره بحث وکړ، ایله چې خبره یې ومنله. مسافر نو کرار ویده و او موږ شپه په بحثونو رڼوله. سهار وختي یې مسافر راویښ کړ. دا نو بل غم چې هغه ضد کړی و چې زه خو رک روغ یم، ستاسو ډاکټرانو پخپله رخصت کړم، نو بیا مې ولې بیایئ.
بیا مو له ده سره دلیلونه شروع کړل. ورته مو وویل چې په ځینو کسانو کې د کورونا نښې نه وي، خو د کورونا میکروب په کې وي او نورو ته یې انتقالوي. په ځینو کسانو کې اول نښې نه ښکاري خو

وروسته بیا معلومېږي. خبرې مو ډېرې ورته وکړې او آخر مو راضي کړ.
سهار څه کم اته بجې وې چې د دوی له کلي ووتو او د ښرنې روغتون ته لاړو. په همدې ورځ په دې سړي کې د ناورغۍ نښې راښکاره شوې خو ښه و چې دی ځوان او د بدن مقاومت یې زیات و نو ډېره سخته پرې رانغله. دوې اونۍ وروسته چې روغ شو او رخصت مو کړ، دعا یې کوله، ویل یې: کور مو ودان چې زه مو خپل ضد ته پرې نه ښودم، که نه نو اوس به مې تهوله خېلخانه مریضه وه.
زموږ له قوي هوډ سره سره، کورونا د بد خبر غوندې ژر خپره شوه.
میاشت لا نه وه تېره چې پېښې زیاتې شوې، دومره زیاتې چې په ولایتي روغتون کې ځای نه و پاتې.
د پوهنتون رییس همکاري وکړه او د زراعت د پوهنځي یو بلاک یې موږ ته راکړ. هلته مو د کورونا مرکز جوړ کړ. داسې وخت راغی چې هغه بلاک هم په ناروغانو ډک شو.
په اول سر کې چا کورونا نه منله خو وروسته یې چې ومنله په خلکو کې داسې وېره خپره شوه چې اولاد به له مور او پلاره تښتېدل. یوه ورځ په خپل موټر کې د روغتون خوا ته روان وم. روغتون ته لږه لاره پاتې وه چې د تېلو پمپ والا سړک ته رامنډې کړې او نارې یې کړه:
ډاکټر صیب، ډاکټر صیب! ودرېږه.
موټر مې ودراوه. پوښتنه مې وکړه: خیر خو به وي؟
ویې ویل: ډاکټر صیب! ته راشه چې هلته تر ونو لاندې یو ناروغ پروت دی. گومان کوم چې د کورونا مرض به یې وي.
راکښته شوم. دستکشونه او ماسک مې واغوستل. د تېلو د پمپ په

ځنګ کې لاندې یو سپین ږیری له درده پر ځمکه رغښته.
ورنژدې شوم. له ما مې واونیوه. ورته مې وویل چې زه ډاکټر یم.
راځه چې شفاخانې ته دې بوځم.
سړی په سختۍ سره ودرېد. پورته یې وکتل. ویې ویل: وه د سپي
زویه! راځه له دې بل لاسه مې ته ونیسه.
ګورم چې یوه ځوان د تېلو د پمپ په یوې ستنې پورې ډډه وهلې ده
او له لرې را ته ګوري.
پوښتنه مې وکړه چې هغه څوک دی.
ویې ویل: زوی مې دی. ورته مې وویل چې شفاخانې ته بوځه. را
روان یې کړم خو په ټوله لاره کې رانه لرې لرې روان و. له ډاره نه
رالنډېږي.
خبره مې د همکارۍ کوله. خلکو به په اولو وختو کې ویل چې
کورونا هسې د ډاکټرانو د ګټې وټې کیسه ده، خو داسې وخت راغی
چې همدغه خلک پخپله د عامې روغتیا ریاست ته راغلل چې څه
خدمت وکړو.

خو دا تغییر څنګه راغی؟
کیسه داسې وه چې موږ خبر شوو چې یو بې کسه، بې وزله سوالګر
سپین ږیری په جومات کې پروت دی او سختې تبې نیولی دی.
د شپې دوولس بجې وې. امبولانس مو روان کړ. جومات ته چې
ننوتو، غریب په یوه کونج کې پروت و او له درده یې زګیروی خوت.
ور ټیټ شو. سړی مو له ماړو ونیو چې راپورته یې کړو. دستکشونه
مې لانده شول. سړی دومره خولې شوی و چې ټول کالي یې لانده

خیشته وو. دومره بې سېکه و چې ځان يې تکيه کولی نه شو.
سپين ږيري ويل: ډاکټر صېب! ژوندی به پاتې شم؟
سړي ته مو ډاډ ورکړ چې خدای به دې ښه کي. موږ به دې روغتون



ته بوځو. یو څو شپې به دې بستر کو. چې ښه شوې، بېرته به دې راولو.
سپین ږیری ناروغ مو روغتون ته ورساوه. کالي مو وربدل کړل. په کټ کې مو څملاوه، سیروم او دوایي مو ورته شروع کړل. څو ورځې تېرې شوې. ناروغ مو وار په وار سره ښه کېده. دوې هفتې وروسته بېخي ښه شو. په امبولانس کې مو بېرته هماغه جومات ته وروست چې ورنه راوستی مو و. سپین ږیري ډېرې دعاوې وکړي او په موسکه خوله یې رخصت کړو.
زموږ یوه همکار هم د هغې اولې صحنې ویډیو کړې وه او هم د دې. دا ویډیو مو په فیسبوک کې خپره کړه. بله ورځ گورو چې گڼ خلک د عامې روغتیا ریاست ته راغلي دي. دوی ټولو ویډیو کتلې وه نو موږ یې ستایلو چې د بې کسو او غریبو خلکو داسې خدمت کوئ.

یوه وویل: زما موټرونه مو په خدمت کې دي. چې هر چېرته یې بیایئ، بس همدلته به درته ولاړ وي.
بل وویل: زه پټرول پمپ لرم، سر له ننه چې څومره تېل مو امبولانسونو ته په کار وي، وړیا به یې درکوم.
درملتونو والاوو وویل: که مو سیروم، سرنجونه، او دوایي په کار وي، فقط غږ راباندې وکړئ، رسول یې پر موږ.
د مېوو دوکاندارانو ویل چې د بستر ناروغانو ته به هره ورځ یو یو کریټ مېوه درلېږو.
د یوه خصوصي روغتون رییس راغی. پنځه تنه ځوانان ورسره وو

چې محافظتي کېڼونه يې اغوستي وو او د دواپاشۍ پمپونه يې په شا کړي وو. د روغتون رييس وويل: دغه ځوانان به هره ورځ د ښرنې ټول بازار ضد عفوني کوي.
هېڅ مې زړه ته نه لوېدل چې د همکارۍ داسې روحيه دې په افغانستان کې ووينو. گومان مې کاوه چې خوب وينم، خو دا هر څه رښتيا وو.



## تاواني واکسین

په کوټه کې دې خوا ها خوا گرځېده. خولۍ یې په کیڼ لاس له سره لرې کړه. د ښي لاس په گوتو یې د تار تار سپینو ویښتانو بېخ وگراوه. خولۍ یې بېرته پر سر سمه کړه. له جېبه یې موبایل را وایست. زنگ یې وواهه:



- هلو! ډاکټر صېب ستړی مه شئ. ډېر وخت دې نه نیسم، یوه پوښتنه مې کوله.
- مهرباني.
- ډاکټر صېب! وایم دغه واکسین وکم که نه؟ د کورونا واکسین یادوم.
- خود به یې کوې.
- ډاکټر صېب! خلک وايي چې تاواني دي. وايي بیا د سړي اولاد نه کېږي.
د پاخه عمر مېرمن یې مخ ته پلو ونیو. تر سترګو لاندې یې لېوره ته وکتل. لېور یې د خپل موبایل سکرین ته سترګې نیولې وې. دا غلې پاڅېده او له کوټې ووته.

- سړي په ټېلفون خپله خبره وغځوله: امممم، چې دا به رښتیا وي که څنګه؟
د ډاکټر لحن بدل شو، په لوړ غږ یې وویل: ګوره! د خلکو په اوتو بوتو پسې به نه ګرځې. واکسین لګوه چې د کورونا درېمه څپه به ډېره خطرناکه وي.
سړي چې ټېلفون بند کړ، ورور یې سر پورته کړ. په پوښتونکو سترګو یې ور وکتل: څنګه شو؟ هماغه د ما خبره وه که نه وه؟
سړي موبایل د واسکټ جېب ته واچاوه. ویې ویل: ولا که پوهېږم چې سړی د چا ومني.
ورور یې د موبایل سکرین ورته ونیو: دا وګوره! سرچ مې پسې وکو. ویلي یې دي چې سړي ته یوازې لږ تبه او د بدن درد پیدا کوي، د ستنې ځای لږ پړسېږي، بس خلاص.
سړي سترګې تنګې کړې. د موبایل پر سکرین انګلیسي کرښو ته ځیر

شو. ويې ويل: ستا سر سم پرې خلاص شو؟ همداسې يې ليکلي دي؟
د ورور شونډې يې سره ورغلې. اسويلی يې وکيښ. ويې ويل: لالا!
تا ته لکه چې اوسم ماشوم ښکارم. ماسټري مې په انګليسي کړې ده. د



دفتر کارونه مې ټول په انګلیسي دي نو که مې سر پرې نه خلاصېدای، هلته به مې کار کولی شو؟
سړي یوه چونډۍ نسوار په ورغوي کې واچول او خولې ته یې وشړل.
په ډکه خوله یې وویل: مه خپه کېږه! هسې مې ویل چې سم پرې وپوهېږو.
بالښت یې تر تخرګ لاندې کړ. پر توشکې کوږ شو. څو شېبې یې له کړکۍ څخه انګړ ته کتل. د مڼو ونو پرېمانه مېوه کړې وه.
ورور یې په موبایل اخته و.
توفدانۍ یې خولې ته ونیوه. نسوار یې تو کړل. ویې ویل: د خلکو خبرو اندېښنه را اچولې ده. هسې خو به نه وایي. که رښتیا سړی شنډ کې نو بیا؟
ورور یې موسک شو. د وره خوا ته یې غاړه کږه کړه. څوک نه وو. موبایل یې څنګ ته پر توشکې کېښود. ویې ویل: ګوره لالا! که څه ووایم بیا به خپه شې. دا یې شنډ کړې نو څه؟ شکر درځن اولادونه دې دي، نه د زامنو کمی دې دی، نه د لونو. ورېندار مې هم تر پنځوسو اوښتې نو د اولاد څه غم درغلی دی؟
سړي په خوله کې ناړې ټولې کړې چې د نسوارو پاتې شوني له خولې څخه راټول کړي. په توفدانۍ کې یې تو کړل. ویې ویل: ولې به یې غم نه کوم. سړی به بل واده کوي. بل واده خو بیا سړي نه اولاد غواړي که نه؟
د وره خوا ته یې وکتل. مېرمن یې له درشله بېرته وګرځېده.
ورور ته یې سترګه ووهله.
دواړه غلي وو. له دالانه د سونګېدا تت غږ راته.
***

سړی سبا سهار څه کم نه بجې دفتر ته ورسېد. د شعبې همکاران د ودانۍ وره ته نژدې د ونو سیوري ته ولاړ وو. ده لاس ورته جګ کړ. ویې ویل: دا حاضري به امضا کم، بېرته به راشم.
شېبه پس د دفتر د ودانۍ له وره راووت. د همکارانو په ټولۍ کې ورګډ شو. د ډاکټر خبره یې ورته وکړه.
یوه وویل: هغه وویل، تا هم ومنل؟
بل وویل: زموږ ډاکټران په څه خبر دي؟ دلته ډاکټر له کومه شو!
بل د ده پر اوږه لاس کېښود، ویې ویل: ما ته وګوره! د هند خپل خلک درګرده مري، په ورځ کې څلور پنځه زره کسان یې مړه کېږي. نو که دا واکسین یې د کار وای، موږ ته به یې رالېږل؟ هن، دا ته یې وواپه!
سړي د کمیس له پاسه راوتلې ګېډه ټینګه ټینګه وموښله. ویې ویل: بده خبره ولا که کوې. لږ سوچ ورته په کار دی.
بل ورغبرګه کړه: خود ښه وایي خو سوچ په ګېډه نه کېږي.
ټولو کټ کټ وخندل.
سړي تسبیح پورته کړې.
همکار یې یو ګام شا ته شو.
ټولو بیا خندا ته زور ورکړ.
سړي تسبیح په جیب کې واچولې او د نسوارو قوتۍ یې را وایسته.

***

مازدیګر سړی په انګړ کې ګرځېده. د یوې ونې پاڼه یې را وشکوله. په نوکانو یې د پاڼې د رګونو تر منځ پردې یوه یوه وڅیرله. سوکه سوکه یې ټوټې ټوټې کړې او ویې غورځولې. بیا یې د پاڼې رګونه هماغسې وړې کړې. د چوترې پر ژۍ کېناست. نسوار یې وکړ.
ورور یې د انګړ په دروازې راننوت. د لپ ټاپ کمپیوټر بکس یې په

غاړه و. د پتلانه پایڅې یې وڅنډلې.
سړي ته یې وویل: لالا! څنګه داسې چورتي ښکارې؟
سړي نسوار تو کړل. لویه ساه یې واخیسته، ویې ویل: نن یې سترې مه شې را نه کړه.
- خپه ده؟
- خپه یې بولې که بل څه، دغسې خو ده. د خدای و د رسول خبره پې ښه نه ده لګېدلې. چې شریعت راته روا کړې نو دا څشته ځان، لا حول والله. اوس مې له خولې څه ورته وتلي وو.
- خیر دی، بېرته به پخلا شي. ما خو نن واکسین ولګاوه.
سړي لاندې باندې ورته وکتل. ویې ویل: خدای دې درته خیر کي. اوس خو دې کار کړی دی.
- هېڅ به هم ونه شي، بیا به یې وګورې.
- نو تا دومره فکر نه کاوه چې هند دا واکسین ولې خپلو خلکو ته نه لګوي چې موږ ته یې رالېږي؟ خپل خلک یې کورونا تباه کړ، دوی بیا د موږ غم کوي؟ سړی دومره ساده باید نه وي. په موږ یې تجربه کوي.
ورور یې د لپ ټاپ د بیګ لاستی پر اوږې سم کړ، ویې ویل: ګوره لالا! هر ملک ځان ته خارجي سیاست لري. هر ملک غواړي په نورو هېوادونو کې نفوذ ولري. ټول پوهېږو چې په هند کې میلیونونه خلک وږي تږي بې کوره دي او د سړکونو په غاړه کې څملي خو حکومت یې موږ ته د سلما بند جوړ کړ، سړکونه یې راته جوړ کړل. دغه ما پخپله په هند کې ماسټري نه ده کړې؟ هند هر کال زرګونه خارجي محصلانو ته سکالرشیپونه ورکوي، لیلیه ورکوي، جېب خرڅ ورکوي، درس او تعلیم یې هم وړیا. هر ملک همداسې کارونه کوي. نو دا کارونه یې څنګه بولې؟

سړي د منږو د ونې ښاخونو ته سترګې ښخې کړې وې. ښاخونه په منږو ډک وو او په منږو کې سوروالی پیدا شوی و. سړی غلی و.

***

میاشت تېره شوه. د کورونا درېیمه څپه راغلې وه.

د سهار چای ته ناست وو. ورور یې په موبایل کې فیسبوک کوت.

ماشومانو ته یې وکتل، ویې ویل: مکتبونه مو رخصت دي.

سړي پوښتنه وکړه: څنګه؟

ورور یې موبایل ورته ونیو: نیمه شپه کې یې اعلان کړی دی چې دوه اونۍ به رخصتي وي.

د سړي ځوان زوی موبایل ته لاس وغځاوه. پر سکرین یې ګوته تېره کړه. ویې ویل: پوهنتون هم رخصت دی نو نه به ځم.

هره ورځ د جومات په لاسپیکر کې د دریو څلورو کسانو د جنازې خبر تېرېده. سړی هم د زیات عمر په خاطر له دفتره رخصت شوی و.

څو ورځې وروسته تبه پرې راغله. لکه د تېر ځل غوندې، خو دا وار تېزه وه. د بدن درد یې هم زیات و. په دوهمه ورځ ساه لنډي ورته پیدا شوه. ورور او زوی یې موټر ورته راوست، روغتون ته یې بوت.

په درېیمه ورځ یې حالت لا پسې خراب شو، پوره جمله یې نه شوه ویلی. د هرې کلمې تر ویلو وروسته به یې دوه درې تېزې ساوې واخیستې. ټولو ناروغانو داسې ژر ژر ساه اخیستله چې ته وا هوا تمامېږي او هر څوک غواړي چې ډېره برخه ورنه خپله کړي؛ لکه وړو ماشومانو ته چې په ګډ لوښي کې خوندور خواړه واچوې او هر څوک ژر ژر ګوله واخلي چې هسې نه نور یې ورنه خلاص کړي.

په روغتون کې آکسیجن نه و. ټول بسترونه ډک وو، ان د روغتون په انګړ کې هم کټونه اېښي وو او ناروغان ورباندې پراته وو.



ډاکترانو ویل چې ژر آکسیجن ورته پیدا کړئ چې د مریض وضعیت مو وخیم دی.
د سړي زوی سهار په آکسیجن پسې وتلی و. دوې بجې وې چې په سراچه موټر کې راغی. د آکسیجن یو بالون یې راوړی و.
تره یې ورته کړه: دومره ځنډ؟
ځوان هلک اسویلی وکیښ، ویې ویل: شکر وکه چې پیدا خو مې که. په ټول ښار کې آکسیجن نه پیدا کېږي. ابا څنګه دی؟
ـ هماغسې.



تره یې بالون ورسره پورته کړ. دواړه د روغتون په وره ورننوتل.
ځوان هلک وویل: لس ځایه خو به مې غوښتي وي. چې پیدا مې که، بیا پیسې راسره کمې وې.
تره یې ور وکتل: ولې؟ لس زره افغانۍ خو درسره وې.
- په شل زره افغانۍ و.

***

دوې اونۍ وروسته یې سړی کور ته راووړ. ورور او مشر زوی تر دواړو متو نیولی و. سړي بې سېکه ګامونه اخیستل او پښې یې پر ځمکې ښښېدې. د انګړ له وره څخه تر کوټې پورې څلور پنځه ځله تم شو چې ساه سمه کړي.
د منو پر ونو یې سترګې ولګېدې. منې پخې غوندې ښکارېدې.
ښځې یې د کوټې په بر سر کې، د کړکۍ خوا ته ورته دوې توشکې سر په سر اچولې او سپینه رویجایي یې ورباندې غوړولې وه.
سړي چې ور وکتل، د نکاح شپه ورياده شوه. هاغه وخت کې یې هم د کوټې په منځ کې همداسې ځای ورته جوړ کړی و او دی مخ قبلې ته ناست و. مخامخ ورته ملا او د خسرګني سپین ږیري ناست وو.
توخي یې د یادونو سلسله وشلوله.
ځای په ځای ودرېد. څو لویې ساوې یې واخیستې. بیا روان شو.
پېغلې لور یې سپېلنی لوګی کړ.
مشر زوی یې پر بل ورو غږ وکړ: هله! د آکسیجن بالون د موټر نه کښته که.

***

بله اونۍ سړی ګرځېدی شو. ساه لنډي یې کمه شوې وه. رنګ یې لږ غوندې غوړېدلی و.

د چوترې پر ژۍ ناست و چې ورور يې له وظيفې راغی.
ورور يې وويل: نن خو را ته ډېر ښه ښکارې.
سرې وويل: د خدای فضل دی. شکر ښه يم.
بيا يې سترګې تيتې کړې. په تيټ غږ يې وويل: کاشکې مې د تا منلی وای. اولاد خو لا څه کوې، که يې بېخي له نارينتوبه هم غورځولی وای، واکسين مې بايد لګولی وای. دې کورونا مرګ راباندې تېر کړ.
ورور يې وويل: شکر چې بېرته ښه شوې خو د دوهم واده پيسې دې په علاج ولګېدې. هههههه
سړي پر شونډو ګوته کېښوده: اشششش!

# د خیرو ګل مړاوی شو

## *حبیب وقار*

د نن په ناخوالو یې فکر کاوه، کور کې یوازې و مېرمن او اولادونه یې کلي ته لېږلي وو چې د دوبي موسم له مېوو، پاکې او ښایسته هوا او کلیوالي مینې خوند واخلي. په دې فکرونو کې ډوب و چې زموږ ټولنه ولې تر ډېره تر انساني چارو وحشي چارې ډېرې خوښوي، کله کله به یې د خپل (اخ وطنه!) ناول په اړه فکر وکړ، وبه یې ویل: دریغی! هغه مې نور هم پسې غزولی وای، یا دا چې مې په دې اړه یو بل ناول هم لیکلی وای.

فکر به یې وکړ چې د خپلې ټولنې هغسې نادودې، وحشتونه او ظلمونه چې په «جوجو» کې یې لیکلي، نور هم را ټول کړي، کېدای شي ناول یې یو داسې څوک هم ولولي چې په همدې وحشتونو بوخت دي. داسې څوک چې هره ورځ خپله پېغله لور یا مېرمن په دې له کوځیو

نیسي او کشوي چې ولې یې خوړو ته ډېره مالګه اچولې او ولې یې ډوډۍ سوځولې ده. یا هم خپله ماشومه لور له دې کبله د اوبو په جګ ولي چې ولې یې ورته ویلي، د پلاني لور هم ښوونځي کې شامله ده، د دې هم ښوونځي ته زړه کېږي.
احمدي د خپل «بغدادي پیر» یا «ډېویډ جونز» ناول په اړه فکر کوي، د بغدادي پیر په مریدانو اوس هم وطن ډک دی، اوس هم په زرګونو هېوادوال د خپلو پلورل شوو پیرانو پښو ته سرونه ښکته کوي، که یې خدای ته دومره تعظیم کړی وای، خامخا به یې ځای جنت و او که یې دومره وطن پالنه کړې وای هم به وطن ګل او ګلزار و، خو افسوس چې افغان ویښ نه شو او نه یې هم د ژوند لاره ومونده.
احمدي چې ډېرې ناخوالې یې په فکر کې را ټولې کړې وې، په فکرونو کې ډوب و، د هغې ماشومې احساسات یې وانګېرل چې پلار یې ښوونځي ته نه پرېږدي، خپله للمه لور یې سترګو ته ودرېده او په سترګو کې یې اوښکې ډنډ شوې. یو دم له تکیې را پورته شو، له ځان سره یې وویل دا څه په ژوبڼ کې ژوند کوو. پېغله لور، مېرمن او ورېره مو که له کرونډو د شوتلو پنډ راوړي، خېشاوه یې کوي، مالونه څروي یا له غره لرګي را ښکته کوي، ښه ورته خوشاله یو خو که زده کړه کوي، قرآن زده کوي، ډاکټره کېږي بیا یې ځان ته شرم بولو، دا اوس موږ په کومه زمانه کې ژوند کوو، په کوټه کې یې سرګردانه قدمونه اخیستل.
له کوټې انګړ ته ووت، خیرو ګل ته یې وکتل چې له تندې مړاوی شوی. کوزه یې ډکه کړه، ګل ته یې ښې ډېرې اوبه ورکړې. ګل ته یې وویل که ته هم د داسې وحشي پلار تر لاس لاندې وای، تا ته به یې هم اوبه نه وای درکړې، همداسې به مړاوی او مړ شوی وې.
احمدي له سهار راهیسې سر درد او سړه تبه حس کوله، پخلنځي ته

لاړ له یخچال یې یو دېگ را واخیست چې بېګانۍ پخې بېنډۍ پکې پرتې وې، دېگ یې د غرمنۍ له پاره په ګاز کېښود.
له غرمې وروسته د احمدي تبه ورو ورو ډېرېده، مازیګر مهال یې د دفتر یو همکار زنګ ورته وکړ چې شپې ته کور کې یوازې پاتې نه شي له دوی کره ورشي خو ورسره ویې نه منله، ویل یې یو څه تبه لري او ځان یې درد کوي. په سبا زړه نازړه دفتر ته لاړ، د دفتر همکارانو ټوکې پرې وکړې چې په اولادونو پسې ناروغه شوی دی، خو داسې نه وه، هغه سختې ناروغۍ لاندې کړی و، هغه په کورونا اخته شوی و.
په دې ورځ کور ته وختي لاړ، هوډ یې وکړ چې د خپل نوي ناول له پاره یو څه خاکه ولیکي او چوکاټ ورته جوړ کړي. کمپیوټر ته کېناست خو له لاسه یې څه نه کېدل. موضوع ترې ګډه وډه کېده. زړه یې کېده چې ویده شي او تکیې ته ډډه ووهي. تکیې ته یې یوه سترګه خوب وکړ چې راویښ شو، خپل اولادونه یې سترګو ته ودرېدل. ځان یې دروند او تود حس کړ، یو دم راکښېناست د کورونا له ناروغۍ مړه شوي یې سترګو ته ودرېدل، ځان هم د کورونا ناروغ ورته ښکاره شو.
نه نه، زه کورونا نه یم، زه روغ یم. هسې لږ موسمي تبه لرم، زه نه کورونا کېږم. زه روغ یم. خپلې الماری ته په چټکو ګامونو لاړ. خپل نوی چاپ شوی ناول «د غمې ځاله» یې را واخیست او د الماری په یوه پله کې یې خپل ټول کتابونه له لومړي تر وروستي په منظم ډول کتار کړل (سره سیلۍ، مینه، د واورې سرې، بوډا او د لېوالو پلونه، رڼا، برېبوکۍ، په فلسفه کې تلپاتې پېښې، یوه خبره درته وکم، جوجو، اغزن سیم، راځئ کیسه ولیکو، زرو، د معجزې تیږه، نیکه، ډېوېډ جونز، پټان، اخ وطنه، ابور ریحان البیروني، کاتب هزاره، موسی شفیق، محمد هاشم میوندوال، اشر، ټال، رنګه غوږونه، د پاچاخان ژوند لیک، خونکار او

د غنمې ځاله) ټول ۲۷ شول. ورته خوشاله شو، ویې ویل دا کتابونه مې چې سلو ته ورسېږي، سلیزه ووهم او هر ناول مې لږ تر لږه ۱۰۰۰ تنه ولولي نو داسې فکر وکړه چې پیغام به یې ۱۰ زره تنو ته رسېدلی وي او که دا پیغام دا هر کس خپلې کورنۍ ته ورسوي نو هره کورنۍ چې لس تنه وي، دا پیغام به سل زره تنو ته ورسېږي. په همدې وخت کې یې له زړه دا هیله وکړه چې که ژوندی و، د کتابونو دا شمېر به یې سل ته رسېږي.

احمدي له یخچال د سړو اوبو بوتل را واخیست یو ګیلاس یې په سر واړولې، الحمدالله یې وویل. ځان یې په توده تبه کې لیده. ځان سره یې فکر وکړ د کابل هوا یو څه ګرمه او دوړجنه ده، که قره باغ ته لاړ شي د مېوو موسم هم دی، هوا یې پاکه ده او ډېره ګرمي هم نشته نو کېدای شي ناروغي یې ورسره ښه شي. له کړکۍ یې د خیرو ګل ته وکتل داسې یې احساس کړ چې ګل ورته خاندي، ژر یې د اوبو کوزه واخیسته د خیرو د ګل له بیخ سره یې د اوبو ځای لوی کړ، بیا یې ښې ډېرې اوبه ورته واچولې. په مینه یې ورته وویل دا ټولې وخښه زه قره باغ ته ځم. داسې نه چې زما تر راتګ پورې مړاوی شې. که دې اوبه خلاصې شوې هم لږ مقاومت وکړه. زه راځم اوبه دې پر ما دي. څو چې زه ژوندی یم، ته به نه رانه مړاوی کېږې.

نصیراحمد احمدي د هېواد پیاوړی ناول لیکوال په غزني کې خپل کلي ملک کلا ته ورسېد. هغه په ۱۳۵۳ لمریز کال په همدې کلي کې زېږېدلی و. اولادونو یې مخې ته منډې را وهلې. ټولو غېږې ورته خلاصې کړې وې. دوی ته خپل پلار ډېر ګران و، ځکه چې دوی ته به یې له کچې ډېره مینه ورکوله. د ماشومانو تر شا د احمدي وروڼه بشیر، منیر او د کورنۍ نور غړي هم ولاړ وو. احمدي دوی ته په ټوکه

وویل غبرګه به نه درکوم ناروغ یم، خدای مه کړه کورونا نه وم، تاسې پرې اخته نه کړم.
بشیر ورته وخندل، دلته کورونا مورونا نشته، په دې پاکه هوا کې کورونا مري، کورونا یوازې چټلو کوڅو او چټلو سیمو کې ډېره وي. ټولو په کړس کړس وخندل بیا هر یوه نصیر ته غېږه ورکړه.
نصیر ته یې مشر ورور وویل که تبه دې ډېره وي، درمل درته راوړم، خو نصیر وویل: که مې تبه هم وي د کلي د دې پاکې او سړې هوا او ستاسې د دې بې کچې مینې زور نه لري. اوس به خپله په تېښته شي.
خو د احمدي تبه د تښتېدو نه وه. په سبا یې د غزني په ولایتي روغتون کې بستر شو. په یوه اونۍ کې له خبرو ولوېد، د اولادونو د ژړا غږ به یې هره ورځ کلی را خبراوه. د دفتر یوه ملګري یې پیغام کې د روغتیا پوښتنه ترې وکړه، خو نصیر ورته لیکلي وو: «د رغېدو نه یم، ټول مې وبخښئ، همدا کرښې مې هم په زور ولیکې».
د احمدي ناروغۍ ته په اندېښنه کې وم، مازیګر و د کور له دروازې مې پښه ننویسته چې د مبایل زنګ راغی. انور اندړ و، ویل یې احمدي صیب یې کابل کې امیري کمپلکس روغتون کې بستر کړی دی. د ډاکټر عبدالرحیم هلال شمېره راکړه. شمېره مې ورکړه او خپله مې هم هلال صیب ته زنګ وکړ چې د زړونو پادشاه په امیري کمپلکس کې بستر دی. هیله ده ورته ورسېږې.
هلال صیب دې خیر یوسي ډاډ یې راکړ.
د احمدي د دفتر ملګرو انور اندړ، مینا نظري، مجیب الرحمن محمودي، ناجیې نجات او سمیرا پرخې پر فېسبوک د احمدي له پاره له خلکو دعا غوښته او د احمدي ناروغۍ ته په اندېښنه کې وو.
احمدي صیب مې لومړی ځل په ۱۳۸۵ لمریز کال د بي بي سي راډیو

د تعليمي خپرونو په دفتر کې ليدلی و، بيا وروسته په ۱۳۸۸ لمريز کال په همدې دفتر کې همکاران شوو او پوره پنځه کاله مو شعبې څنګ په څنګ وې، سهار او مازيګر به مو دفتر ته هم په موټر کې يو ځای تګ راتګ کاوه. تل به يې خوله له خندا ډکه وه او نوې کيسې به يې کولې. سهار به چې موټر ته پورته شوو، ويل به يې شور مه کوئ! نوې کاغذ پېچه ټوکه مې اورېدلې.

احمدي د داستاني ادبياتو پياوړی ليکوال او يو تکړه ناول ليکونکی و. زده کړې يې لومړی د خپل کلي په مسجد کې له الف او با پيل کړې وې، خو د حالاتو په ادلون بدلون سره يې کډه کابل ته ځي او هلته په حبيبيه ليسه کې شاملېږي، له حبيبيې ليسې په ښو نومرو فارغېږي. د کانکور په ازموينه کې له ګډون وروسته د کندهار پوهنتون کرنې پوهنځي ته بريالی کېږي.

خو دا چې احمدي له ليکوالۍ او ادبياتو سره مينه لري، له کرنې پوهنځي تېرېږي، څه وخت د معلمۍ سپېځلې دنده مخکې وړي او په ۲۰۰۳م کال په کابل کې د بي بي سي راډيو له تعليمي خپرونو سره د پروډيوسر په توګه دنده پيلوي. وروسته د خپرونو اېډېټر او په پای کې د راډيو عمومي اېډېټر کېږي او تر وروستيو په همدې دنده پاتې کېږي. احمدي ليکوالي پيلوي خوږې کيسې ليکي، کيسې يې د هېواد په ګوټ ګوټ کې مينه وال پيداکوي. تر دې چې د احمدي ناولونه د هېواد هر کلي او باندې ته رسېږي او هر ناول يې پنځه او شپږ ځله چاپېږي او د ولسمشر محمد اشرف غني له لوري د غوره ليکوالۍ مډال اخلي.

احمدي لا هم په اميري کمپلکس کې بستر دی. له بازاره کور ته ستړی راغلم. مشر ورور مې له کلي راغلی و. په انګړ کې مو فرش هوار کړ.

د کور کلي په کیسو بوخت وو چې وحیدالله اوریاخېل زنګ وکړ. ویل یې راځه د احمدي صیب پوښتنې ته ورشو. ورته ومې ویل سمه ده، یو ساعت وروسته به ورشو. یو ساعت لا تېر نه و چې اوریاخېل صیب بیا زنګ وکړ، له سلام وروسته یې وویل:

فېسبوک دې نه دی کتلی؟

نه ولې خیریت خو به وي؟

اوریاخېل صیب په پرېشانه ډول وویل:

احمدي صیب خو وفات شوی. د دې خبرې د اورېدو توان مې نه درلود. له ځان سره مې وویل د خیرو ګل مړاوی شو او ومړ او د هېواد پیاوړی لیکوال د ۲۰۲۱م کال د جولای په لسمه له دې نړۍ وکوچېد.

د اوریاخېل صیب په خبره ګنګس شوم. ملالۍ لور مې وپوښتل هماغه احمدي کاکا ښيي چې زما د کتاب (وری او ستوری) مخکتنې ته له مینا نظري خاله سره یو ځای راغی؟

ومې ویل: هو.

د ملالۍ په سترګو کې هم اوښکې ډنډ شوې. موږ ټولو یو بل ته حیران کتل. د احمدي د وړو اولادونو ځېرې مې له سترګو نه چپېدې. له یو ملګري سره مې اړیکه ونیوه. پوښتنه مې وکړه چې جنازه یې څه وخت او چېرته ده.

ویل یې همدا اوس کلي ته حرکت کوي، جنازه او نور مراسم به یې په کلي کې وي.

لږ وروسته مې په ډکو سترګو فېسبوک ته پناه یوړه. پر فېسبوک مې د پیاوړي او ځوانیمرګ لیکوال نصیراحمد احمدي له تصویر، د خلکو له تسلیت او اوښکو پرته نور څه ونه لیدل. ولسمشر محمد اشرف غني، د مصالحې د ملي شورا رییس ډاکټر عبدالله، ګڼو چارواکو او

علومو اکاډمۍ یې په اړه د تسلیت پیغامونه خپاره کړي وو او د احمدي مړینه یې د هېواد ادب ته لویه ضایعه بللې وه. ملي او نړیوالو رسنیو، خبریالانو، لیکوالو، په سلګونو فرهنګیانو او عام ولس د احمدي په مرګ اوښکې تویې کړې، د تسلیت پیغامونه یې خپاره کړل، له نوموړي سره یې خپلې خاطرې لیکلې وې، لنډه دا چې په مړینه یې ټول افغانستان وژړل.

پر سبا مې په فېسبوک پاڼه د احمدي په تیاره شعبې سترګې ولګېدې چې ګروپ یې مړ و، په چوکۍ کې یې ګلونه اېښي وو او پر مېز یې د احمدي یو عکس اېښی و چې شمعې ترې تاو وې او پرې لیکل شوي وو:

«شهید نصیر احمد احمدي»

په دې ورځ یې مشر ورور بشیر احمد د نصیر احمد احمدي په فېسبوک پاڼه ولیکل:

«زما پښتون ولسه ما به نه هېروې»

د احمدي له پاڼې دې لیکنې د احمدي د ډېرو مینه والو، ملګرو او همکارانو اوښکې یو ځل بیا وبهولې. وروسته بشیر بیا د روغتون یو څه نادودو ته اشاره وکړه:

«نصیراحمد ۲۵ ورځې ناروغ شو خو ۱۰ ورځې په بستر کې له مرګ سره لاس او ګرېوان و. په کابل کې شخصي روغتون ته له اته نهو سپیرو قرباغیانو پرته بل څوک پوښتنې ته رانغلل. هېڅ دولتي او فرهنګي کس یې پوښتنه ونه کړه. تاسې ټولو موږ د روغتون قصابانو ته یوازې پرېښودو. د کورونا ناروغۍ له کبله ډېرو روغتونونو ځای نه راکاوه. په دې شخصي روغتون کې یې یوه پېچکارۍ په ۷۰ زره افغانۍ راته حساب کړه. اکسیجن مو کابل ته له کندهاره را غوښت».

بشیر د احمدي پر فېسبوک پاڼه دا هم ولیکل:
«نصیر چې ناروغ و، هېڅا یې پوښتنه ونه کړه. اوس د نصیر له مرگ وروسته د ولسمشر اشرف غني او ډاکټر عبدالله د تسلیت پیغامونه څه کړم».
د بشیراحمد د کورنۍ او ټولو فرهنگیانو، لیکوالو او د ناول مینه والو د مینې څلی ونړېد بله ورځ په فیسبوک کې د احمدي د وروستي کور، یوه خاورین قبر عکس خپور شو او د نیازبېک د کور په انگړ کې یې د خیرو گل مړاوی شو او ومړ.

انا لله و انا الیه راجعون

پای